# بُت‌شکن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په یاد کې

سنبله، 1405 هـ.ش - ربیع الاول، 1448 هـ.ق



## د نبي کریم ﷺ د امت حال وګورئ...!



# د امیرالمؤمنین ویناوي

زه د الله جل جلاله په حضور کې ډېر دروند مسؤولیت لرم، په ورځ د قیامت به زما څخه د ټول نظام د خلکو پوښتنه کیږي او ستاسو څخه به یوازې ستاسو پوښتنه کیږي. زه د خدای بنده یم د خدای بندګي له تاسو څخه غواړم، زه تاسې دې ته رابولم چې د خدای عبادت وکړئ، زه مو دې ته نه رابولم چې تاسې زما عبادت وکړئ. تاسې زما فرمانونه او حکمونه ګورئ، وایم (که چېرې مو په دې ټولو فرمانونو کې) داسې پیدا کړل چې تاسو ما ځانته دعوت کړي یاست او یا مې د ځان عزت درنه غوښتی وي، هغه وغورځوئ. دوه شیان دي زه ستاسې څخه هغه غواړم؛ یو درته وایم چې د خدای عبادت وکړئ! بل درته وایم چې د خدای په مخلوق باندې رحم وکړئ! دغه دوه رقمه فرمانونه او حکمونه زما دي...!

امیرالمؤمنین شیخ الحدیث

هبة الله اخندزاده حفظه الله

د ۱۴۰۵ هـ.ش کال د اسد د څلورویستم په پار د جوړې شوې غونډه په مناسبت له وینا څخه

بسم الله الرحمن الرحیم

## مهم موضوعات


07 د بد نظرۍ او مجازي عشق زیانونه...

13 دا غبار به هېڅکله ورک نشي

27 د استشهاد په لار مزل د امت د ټولو ستونزو حل

33 زه کابل اباديدونکی وینم!

39 په شام کې د جهاد راتلونکی - پنځمه برخه

59 د شیخ أسامه أنصار؛ شهید معلم اول ګل



### زمونږ سره رابطه

ایمېل آدرس:

tamas@butshikan.com

تلګرام رابطه:

tamas_butshikan

ویب سایټ:

butshikan.com

مونږ په ټولنیزو رسنیو وڅارئ:

ButShikan1404

### اداري پلاوی

مسؤول مدیر:

حسن ابراهیم زی

غړي:

بشیر قریشي

مولوي سعد طارق

حافظ خالد سعید دراني

ډاکټر محمد طنین

اول ګل زاهد


یادونه: په دې مجله کې د قرآن کریم مبارک آیتونه، احادیث او سپېڅلې کلمې شته، په نامناسب ځای کې یې مه پرېږدئ!

# لړلیک

سرمقاله

د نبي صلی الله علیه وسلم د امت حال وګورئ ........ 5

قد افلح من تزکی

د بد نظرۍ او مجازي عشق زیانونه او ورڅخه د ځان ساتلو طریقه ........ 7

زما تګلاره

دا غبار به هېڅکله ورک نشي ........ 13

نشنلېزم؛ د اسلامي امت د واحد جسد رژوني سرطاني غده ........ 22

د جهاد او استشهاد په لار مزل، د امت د ټولو ستونزو حل ........ 27

افغانستان او امت

زه کابل اباد‌ېدونکی وینم ........ 33

په شام کې د جهاد راتلونکی - پنځمه برخه ........ 39

زموږ شرقي أندلس؛ له یاده وتلی اسلامي هندوستان ........ 48

د شام خاوره: دا هماغه سهار نه دی، د کوم چې موږ انتظار کاوه! ........ 53

طوفان الاقصی

د ستر طوفان نسل؛ له شیخ احمد یاسین تر أبو عبیده او یحیی سنواره ........ 55

ابدي ژوندي

د شیخ أسامه رحمه الله أنصار؛ شهید معلم اول ګل ........ 59

مختلف مضامین

تأثر: په دې حال کې موږ لیونو ته وایئ، چې چوپ شئ ........ 21

ستر او حجاب د جنتیانو نښې دي ........ 32

د استاد یاسر رحمه الله یو شعر ........ 47

سپر از دست مینداز که جنگ هست هنوز ........ 63

# د نبي صلی الله علیه وسلم د امت حال وګورئ ...

د محمد رسول الله علیه ألف ألف صلوات و ألف ألف تسلیمات د ولادت بابرکته میاشت ده. هغه صلی الله علیه وسلم خو د یوه مؤمن بنده د ژوند اصلي او مرکزي نقطه دی. د هغه صلی الله علیه وسلم پیروي او اِتباع د دنیا او اخرت بریا ده. د الله تعالی په امر، د هغه صلی الله علیه وسلم سپېڅلی ذات په مصیبتونو او پریشانیو کې یو پناه دی؛ په دې دنیا کې پر هغه باندې په کثرت سره درود او سلام ویل د مصیبتونو د لیرې کېدو سبب ګرځي، او د اخرت په ورځ د محشر مالک او قاضي جل جلاله هغه صلی الله علیه وسلم د محشر شفاعت کونکی ګرځولی دی او په دې سره یې هغه صلی الله علیه وسلم د کائناتو له تر ټولو لوی مصیبت څخه د خلاصون ذریعه جوړ کړی دی. له الله تعالی وروسته د عظمت لرونکی ذات د هغه صلی الله علیه وسلم دی، هغه صلی الله علیه وسلم خو تل مؤمنو بندګانو ته یاد وي، خو بیا هم د ربیع الاول په میاشت کې د هغه صلی الله علیه وسلم یاد، د هغه صلی الله علیه وسلم د مبارک ولادت په نسبت څو چنده زیاتېږي. د هغه صلی الله علیه وسلم مدح کول یو ډېر لوړ عمل دی او د هغه صلی الله علیه وسلم اطاعت او منل تر ټولو ستر عمل دی، بلکې د هغه صلی الله علیه وسلم اطاعت کول پخپله د ستاینې تر ټولو غوره او لوړه بڼه ده. دنیا چې نن ورځ په کومو سختو تورو تیارو کې راګیر ده، په داسې حالت کې د هغه صلی الله علیه وسلم یاد په هر حساس او مؤمن زړه کې وخت په وخت نور هم زیاتېږي.

اللهم صل وسلم علی نبینا
ومولانا وقرة أعیننا محمد!

موږ دا کرښې لیکلې چې له اوس څخه یو کال مخکښې یو خبر زموږ د سترګو په وړاندې تېر شو او هغه زموږ ټول هوش او حواس معطل کړل. د خبر سرلیک دی:

Rape them with a rusty bar: Message sent to Israeli troops…

« د مسلمانانو د ښځو بې عفتي (عصمت دُري) په زنګ وهلو اوسپنیزو سیخونو او تېغونو وکړئ!».

که څوک دا کرښې په جذباتو تعبیر کړي، نو باور وکړئ زموږ موخه هم همدا د احساساتو او جذباتو راپارول دي. د عقل او هوش لپاره د دغې مجلې راتلونکې پاڼې شته او د خدای لپاره موږ د عقل او هوش دښمنان مه ګڼئ، بلکې موږ ته د دې دعوې اجازه راکړئ چې موږ سرفروشه مجاهدین په خپله د عقل او هوش خاوندان یو. خو موږ د هغه عقل غوښتونکي یو چې زموږ د نبي صلی الله علیه وسلم د لوی نیکه ابراهیم خلیل الله علیه الصلاة والسلام عقل و، هغه عقل چې له لمر، سپوږمۍ، ستورو او په خپلو لاسونو له جوړو شویو بتانو څخه یې په خورا بلیغ انداز کې انکار وکړ او هغه عقل چې هغه یې د نمرود په اور کې په خوښۍ سره ورګډ کړ، هغه عقل چې د وحیې د علم تابع و. هغه وحیې چې د تر ټولو لوړ معرفت، احکامو او تفقه مجموعه ده، نو ورسره د خلکو هڅوونکې، هغوی ته ترغیب ورکوونکې، راپاروونکې، د جذباتو زیاتوونکې او د غیرت را ننګوونکې هم ده.

یاد شوی خبر په حقیقت کې اسرائیلي سرتېرو ته د اسرائیلي ولس له لوري لېږل شوی یو پیغام دی. دا څومره دردناک وضعیت دی او په څومره غم او الم سره موږ دا خبره رانقلوو چې د دجال پیروان وایي چې د مسلمانانو د ښځو بې عفتي (عصمت دري) په زنګ وهلو اوسپنیزو سیخونو او تېغونو وکړئ!

دا مسلماني ښځې، د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د امت لوڼې دي، زموږ او ستاسې میندې، خویندې او لوڼې دي. هغه میندې، خویندې او لوڼې چې پلرونه، وروڼه او زامن یې لا پخوا وژل شوي او د ودونو سیندونه یې وچ کړل شوي دي؛ اوس دغو نیم ژواندو ښځو ته د ژوندي پاتې کېدو په حالت کې د مرګ ورکولو لپاره دا ډول حربې هم ازمویل کېږي، چې د دې کار لپاره له اسرائیلي پوځیانو سره د هغوی ټول یهودي قوم ولاړ دی او له دغو نامرده یهودانو سره امریکا او د هغوی ټول متحدین صف پر صف او کلک ولاړ دي.

په غزه کې د دغه انسان ضد بربادۍ اوس درې کاله پوره کېدونکي دي. په غزه کې داسې بربادي راوستل شوې ده چې د انسانانو په تاریخ کې مخکې هیڅکله په کوم ځای کې نه ده لیدل شوې. او له داسې سختې بربادۍ وروسته هم سخته چوپتیا، یا که چوپتیا نه وي نو غیر مؤثرې لارې او تګلارې، د خپل وار راتلو ته انتظار کول او د جهاد خپل سرې او غلطې تشریح ګانې، یا له هغو پوځونو څخه د جهاد هیله لرل چې پخپله د هغوی پر خلاف جهاد فرض دی؛ دا هغه چلندونه دي چې دښمن ته نور جرئت ورکوي او زموږ د ناکامۍ سبب ګرځي. که څه هم موږ په خورا ښه توګه واورېدل چې په فلسطین کې د روان اسرائیلي تېري پر وړاندې جهاد فرضِ عین دی، خو دا فرضِ عین څه شی وي، دا څنګه اداء کېږي او د فرضِ عین جهاد له غوښتنو او فتواوو وروسته، په عملي توګه د دغه جهاد د پلي کولو ګام په ګام لاره څه ده؟ د دغو پوښتنو ځواب یا خو ښېخي غوښتل شوی نه دی او یا که له کوم ځای څخه کومه کمزوری غوندې د پوښتنې غږ پورته شوی هم ده، نو د اورېدو شرف نه دی ور په برخه شوی.

په غزه کې له تش په نامه اوربند وروسته هم شپه او ورځ عام وژنه روانه ده، بلکې همدا عام وژنه اوس تر غربي غاړې پورې غځېدلې ده. بس د دغو کرښو پای پر همدې غوښتنې کوو، چې زیات نه، دا ځل د فرضِ عین جهاد لپاره له کورونو څخه د وتلو غږ هم نه کوو، بس یوازې یو کار کوو. له علماء کرامو، پوهانو او دیني مشرانو څخه په هر هغه سټېج او پلیټ فارم باندې چې امکان لري، همدا وپوښتئ چې د غزې د مسئلې اغېزمن حل څه دی؟ خو دا خبره په ذهن کې وساتئ چې د حل معنی هغه څه وي چې مسئله پای ته ورباندې ورسېږي! د جهاد د فرضِ عین کېدو معنی څه ده؟ او که چېرته جهاد فرضِ عین وي، نو هغه څنګه اداء کېږي؟ او که جهاد فرضِ عین نه وي او فرضِ کفایه وي، نو څه باید وشي چې کفایت وکړي او دا فرضِ کفایه اداء شي؟ لیکونه ورته ولیکئ، په مخامخ لیدنو کې وپوښتې ورڅخه وکړئ، په ټولنیزو رسنیو کې دا پوښتنه راپورته کړئ او چیرته او په هر څومره کچه چې مو توان وي، نو پوښتنې وکړئ. وپوښتئ چې په ربیع الاول کې د کوم رحمة للعالمین صلی الله علیه وسلم ولادت شوی و، د هغه دین او د هغه غیرتمنه اسوهٔ حسنه په دغو شرایطو کې موږ ته څه وایي؟

****

# د بد نظرۍ او مجازي عشق زیانونه

## او ورڅخه د ځان ساتلو طریقه

اوله برخه

حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

نحمده ونصلي على رسوله الكريم أما بعد:

احقر محمد اختر عفا الله تعالی عنه عرض کوي چې په دې زمانه کې د اهلِ تقویٰ، اهلِ دین، اهلِ صلاح او ټولو سالکینو د طریق د تباهۍ او بربادۍ سامان د ښځو له فتنې څخه زیات فتنة الأماره ده او لکه څنګه چې په دغه فتنه کې ظاهري خنډونه کم دي، نو له همدې امله شیطان نفس ډېر ژر په دې فتنه کې مبتلا کوي او د نامحرمو ښځو په لور ډېر ځله د بد نظرۍ تر حده پورې انسان مجرم ګرځوي. او حکیم الامت، مجدد الملت حضرت مولانا شاه اشرف علي صاحب تهانوي رحمة الله علیه لیکل فرمایي:

۱. له نامحرمې ښځې یا نارینه (ښکلي تنکي ځوان) سره د هر ډول اړیکې (تعلُّق) ساتل، که هغه د هغه لیدل وي، یا د زړه خوشحالولو لپاره ورسره خبرې کول وي، یا په یوازیتوب کې د هغه په څنګ کې کېناستل وي، یا د هغه د زړه خوشحالولو لپاره خپل لباس ښایسته کول او په خبرو کې نرمي راوستل وي؛ زه په رښتیا سره عرض کوم چې له دې اړیکې څخه چې کومې خرابۍ پیدا کېږي او کوم مصیبتونه مخې ته راځي، هغه زه په لیکنه کې نشم راوستلی.

۲. مجازي عشق د الله تعالی عذاب دی؛ لکه څنګه چې په دوزخ کې د مرګ او ژوند په منځ کې انسان پریشانه وي:

لَا یَمُوۡتُ فِیۡهَا وَلَا یَحۡیٰی ﴿الاعلی:۱۳﴾

«نه به په کې مري او نه به ژوندی وي».

همدا رنګه له بد نظرۍ وروسته، انسان په مجازي عشق کې مبتلا کېږي، نو ترپېږي، د سکون له خوب څخه هم محرومېږي، دنیا او دین یې دواړه تباه کېږي او بالاخره په لیونتون (پاګل خانه) کې داخلېږي. په لیونتونونو کې نن سبا په سلو کې نوي (۹۰٪) د مجازي عشق مریضان دي چې د وي سي آر، سینما، تلویزیون او ناولونو په لوستلو سره لیوني شوي دي.

۳. له بد نظرۍ وروسته چې څوک په مجازي عشق کې مبتلا شي، که د ګناه نوبت راشي، نو فاعل او مفعول دواړه د تل لپاره ذلیل او خوار ګرځي (یو بل ته به کتلای هم نشي)؛ او لکه څنګه چې یو مهربان پلار غواړي چې زما زوی دې په عزت سره اوسېږي او په هیڅ بد کارۍ کې دې نه ذلیله کېږي، همدا رنګه د الله تعالی غیر محدود رحمت هم همدا غواړي چې زما بندګان دې په هیڅ ذلیل کار سره حقیر او رسوا نشي او له تقویٰ سره دې د عزت ژوند تېر کړي، په حلالو دې اکتفا وکړي او له حرامو دې صبر وکړي. او کله چې د دنیا خلک، د دنیا په خوندونو خپلې سترګې سړوي، نو زما خاص بندګان دې زما په عبادت او زما د ذِکر په خوند خپلې سترګې سړې کړي؛ او دا سړښت د تل لپاره دی، په داسې حال کې چې د دنیا د خلکو سړښت په زرګونو بلاګانو ککړ او فاني دی. د احقر دوه شعرونه دي:

دشمنوں کو عیش آب و گل دیا
دوستوں کو اپنا درد دل دیا
ان کو ساحل پر بھی طغیانی ملی
مجھ کو طوفانوں میں بھی ساحل دیا

«دښمنانو ته یې د اوبو او خاورو عیش ورکړ. دوستانو ته یې د خپل زړه درد ورکړ. هغوی ته په ساحل کې هم د طوفان موجونه ورسېدل. ما ته په طوفانونو کې هم ساحل راکړل شو»

له همدې امله خواجه صاحب رحمة الله علیه فرمایي:

ڈال کر ان پر نگاہ شوق کو
جان آفت میں نہ ڈالی جائے گی

حسن فانی پر اگر تو جائے گا
یہ منقش سانپ ہے ڈس کھائے گا

«د هغوی په لور د شوق نظر په اچولو سره. ځان په مصیبت کې مه اچوه. که په فاني حسن پسې لاړ شې. دا رنګین ښامار به دې وچیچي.»

مولانا اسعد الله صاحب د مظاهر العلوم سهارنپور محدث او د حضرت حکیم الامت مجدد الملت حضرت تهانوي رحمة الله علیه خلیفه فرمایي:

عشقِ بتاں میں اسعدؔ کرتے ہو فکرِ راحت
دوزخ میں ڈھونڈتے ہو جنت کی خواب گاہیں

«په مجازي عشق کې اسعده، ته د راحت فکر کوې؛ په دوزخ کې د جنت د خوب ځایونه لټوې»

پر فاني حسن باندې مرشد مولانا شاه ابرار الحق صاحب دامت برکاتهم په خانقاه ګلشنِ اقبال کې دا شعر اورولی و:

دورِ نشاط چل گیا گردشِ جام ہو چکی
ساقیا گلعذار کی ترکی تمـــام ہو چکی

«د نشاط دور تېر شو، د جامونو د ګرځېدو مجلس پای ته ورسېد؛ اې ساقي! د ګل غوندې مخ لرونکي مړاوی کېدل او زوړوالی بشپړ شو»

احقر محمد اختر عفا الله تعالی عنه عرض کوي چې په بد نظرۍ باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ښرا شته:

لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُورَ إِلَيْهِ

«الله تعالی لعنت فرمایلی دی په بد نظري کونکي او په هغه چا چې د بد نظرۍ بلنه ورکوي (یعني بې پردې ګرځي) باندې هم».

د اولیاوو له ښرا څخه وېرېدونکي باید د سید الانبیاء صلی الله علیه وسلم له ښرا څخه ووېرېږي، الله تعالی دې زموږ د ټولو ساتنه وکړي.

د څو ورځو د حسن جادو په څېر سرې داسې لیونی کوي چې بیا یې په لږو ورځو کې د مخ جغرافیه بدله شي او په زوړوالي کې خو یې نقشه په عجیبه توګه بدلیږي. د احقر د همدې فناءِ حسن پر موضوع دا شعر دی:

ادھر جـــغرافیہ بدلا ادھر تاریخ بھی بدلی
نہ اُن کی ہسٹری باقی نہ میری مسٹری باقی

«دلته جغرافیه بدله شوه، هلته تاریخ هم بدل شو؛ نه د هغوی هسټري (تاریخچه) پاتې شوه او نه زما مسټري پاتې شوه».

یو پخوانی شعر رایاد شو:

کسی خاکی پہ مت کر خاک اپنی زندگانی کـــو
جوانی کر فدا اس پر کہ جس نے دی جوانی کو

«پر کوم خاورین (مخ) باندې ژوند مه قربانوه؛ ځواني پر هغه چا قربان کړه چا چې دا ځواني درکړې ده».

له دې خطرناک مرض څخه د څومره ځوانانو ژوند تباه شو. د احقر اشعار:

سنبھل کر رکھ قدم اے دل! بہارِ حسنِ فانی میں
ہزاروں کشتیوں کا خون ہے بحرِ جوانی میں
وہ جوانانِ چمن اور ان کا ظالم بانکپن
دیکھتے ہی دیکھتے سب ہو گئے دشت و دمـن

«اې زړه په هوښیارۍ باندې ګام واخله! د فاني حسن په بهار کې؛ د ځوانۍ په سمندر کې د زرګونو کښتیو خون دی. هغه د چمن ځوانان او د هغوی ظالمه ښکلا او نخرې. په لیدو لیدو کې دا هر څه د دښتې او بیابان په څېر شول»

د بد نظرۍ په اړه چې کوم ایت نازل شوی دی لکه:

إِنَّ اللّٰهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿النور:٣٠﴾

«یقینا الله تعالی ستاسې له ټولو کړنو (او بدو کتنو) څخه پوره باخبره دی.

د احقر شعر دی چې:

جو کرتا ہے تو چھپ کے اہلِ جہاں سے
کـوئی دیـکھتا ہے تجھے آسماں سے

«ته چې څه پټ د نړۍ له خلکو څخه کوې. يو څوک
دې له اسمان څخه ويني»

حق تعالى د بد نظرۍ فعل او عمل ولې په «صنعت» سره تعبير کړی دی؟ په دې کې څه حکمت دی؟ خبره دا ده چې بد نظري کونکی په خپل زړه کې د هغه معشوق لپاره د خپلو مختلفو هيلو انځور جوړوي. په خيال پلو کې يې کله ښکلوي، کله يې له سينې سره لګوي او داسې نور. له همدې امله د دغو مختلفو صنعتونو څخه د باخبره کولو لپاره حق تعالى په دې آيت کې ذکر فرمايلی دی، لکه څنګه چې علامه الوسي سيد محمود بغدادي (مفتي بغداد) رحمة الله عليه په خپل تفسير روح المعاني کې د دې په تفسير کې څلور عنوانونه داسې ليکي:

إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ

١. بِإِجَالَةِ النَّظَرِ: ستاسې له نظر ګرځولو او بد نظرۍ کولو څخه الله تعالى باخبره دی.

٢. بِاسْتِعْمَالِ سَائِرِ الْحَوَاسِ: بد نظري کونکی د پنځو حواسو له لارې د حرام خوند اخيستلو هڅه پيلوي، الله تعالى د هغه له هر حرکت څخه باخبره دی، يعني له ليدلو (باصره)، اورېدلو (سامعه)، څکللو (ذايقه)، لمس کولو (لامسه)، او بويولو (شامه) څخه؛ د هر قوت له استعمال څخه خدای خبردار دی.

٣. بِتَحْرِيكِ الْجَوَارِحِ: او الله تعالى د بد نظري کونکي د ټولو اندامونو له حرکتونو څخه باخبره دی، يعني د مجازي محبوب د ترلاسه کولو لپاره دا لاس او پښې او نور ټول اندامونه چې په کومه توګه کاروي، دا هر څه خدای ويني او پرې باخبره دی.

٤. بِمَا يَقْصِدُونَ بِذٰلِكَ: او د بد نظرۍ کونکي له هغه وروستي مقصد څخه چې بد فعلي ده، هم الله باخبره دی. په دې جمله خبريه کې جمله انشائيه پټه ده، يعني سخته سزا به ورکول کېږي او سخت عذاب به ورکول کېږي. احقر ته په ټول ژوند کې په خورا زيات شمير د بد نظرۍ او مجازي عشق ناروغان ورغلي دي او ټولو همدا ويلي چې ژوند تريخ دی، خوب نشته، بې ارامي ده، د مرګ هيله ده، د ځان وژنې فکرونه دي، صحت خراب دی، په زړه کې وېره ده، زړه او دماغ کمزوري دي او په هيڅ کار کې زړه نه لګېږي. ما تل همدا عرض کړی دی چې مجازي عشق او غير الله ته د زړه ورکولو همدا عذاب دی، او احقر دا شعر د دې ډول پريشان حاله خلکو په خدمت کې وړاندې کوي:

ہتھوڑے دل پہ ہیں مغز و دماغ میں کھونٹے بتاؤ عشقِ مجازی کے مزے کیا لوٹے

«په زړه باندې د څټکونو ګزارونه دي او په مغزو او دماغ کې مېخونه ټکوهل کېږي؛ نو ووايه چې د مجازي عشق له خوندونو دې څه ترلاسه کړل؟

د مجازي عشق د اصلاح په لړ کې د احقر څو شعرونه ملاحظه کړئ:

نہیں علاج کوئی ذوقِ حسن بینی کا
مگر یہی کہ بچا آنکھ بیٹھ گوشے میں
اگر ضرور نکلنا ہو تجھ کو سوئے چمن
تو باہتمامِ حفاظتِ نظر ہو توشے میں
ان کا چراغِ حسن بجھایا بھی بجھ گئے
بلبل ہے چشمِ نم گلِ افسردہ دیکھ کر

«د ښکلا ليدو او حسن پرستۍ د دغه شوق هيڅ بل علاج نشته، پرته له دې چې انسان خپله سترګه وژغوري او په يو ګوښه ځای کې کښېني. او که کله د باغ او چمن لوري ته وتل اړين وي، نو بيا پکار ده چې د سترګو او نظر ساتنه دې د لارې يوازنۍ توښه وي. د هغوی د ظاهري ښکلا او حسن څراغونه مړه شول؛ اوس بلبل د هغه مړاوي ګل په ليدلو په نمجنو سترګو ناست دی».

دا ښکلي چې نن پر ځمکه باندې ګرځي راګرځي، يوه ورځ به په قبرونو کې خاوره کېدونکي دي. له مرګ وروسته چې کله قبر خلاص کړې او وګورې، نو صرف خاوره به په نظر درځي. که له دې خاورې وپوښتې چې اې خاورې! ستا کومه برخه مخ و او کومه برخه وېښتان وو، کومه برخه سترګې وې؟ نو هلته به يوازې خاوره ومومې، نه به يې شې پېژندلی چې کومه خاوره سترګه وه، کومه پزه وه او کوم يو مخ و. الله تعالى د ازموينې لپاره دا مېښتې خاورې داسې ښايسته او رنګينې کړې دي چې وګورې څوک پر دې ښکلا باندې مري او څوک د پيغمبر پر حکم باندې ځان قربانوي. که دا نقش او نګار او ځلا پر خاوره باندې نه وای، نو بيا خو ازموينه نه کېدله، له همدې امله په دې ښکلا باندې دوکه مه خورئ،

د سلوک ډېر سالکین له دې څخه دوکه شول، تباه شول او تر الله تعالی پورې ونه رسېدل. زما شعر دی:

میر مارے گئے ڈسٹمپر سے
ورنہ مٹی کی حقیقت کیا تھی

«میر د ظاهري رنګ او ښکلا له امله مړ شو، ګني د خاورې اصل حقیقت څه و؟»

نو ځکه له داسې فاني ځلا سره څه زړه تړل، د فناءِ حسن په اړه د احقر څو شعرونه ملاحظه کړئ:

کسی گلفام کو کفنا رہا ہوں
جنازہ حسن کا دفنا رہا ہوں
لگانا دل کا ان فانی بتوں سے
عبث ہے، دل کو یہ سمجھا رہا ہوں
شیریں لبی کے ساتھ وہ شیریں دہن بھی تھا
آغوشِ موت میں وہی زیرِ کفن بھی تھا

«د یو ګل غوندې ښکلي ته کفن ورکوم؛ د حسن او ښکلا جنازه ښخوم. له دې فاني بتانو سره د زړه تړل بې ځایه دي، خپل زړه ته همدا خبره ورښیم. له خوږو شونډو سره هغه خوږه خوله هم وه؛ نن د مرګ په غېږ کې تر کفن لاندې ده».

بلکې له مرګ څخه مخکې، د وخت په تېرېدو سره کله چې له مخ څخه ښکلا لاړه شي او د پوزې نقشه او جغرافیه بدله شي او:

کمر جھک کے مثلِ کمانی ہوئی
کوئی نانا ہوا، کوئی نانی ہوئی
ان کے بالوں پہ غالب سفیدی ہوئی
کوئی دادا ہوا، کوئی دادی ہوئی

« ملا کږه شوه لکه د لیندۍ په څېر، څوک نیکه شو او څوک نیا شوه؛ د دوی پر وېښتانو سپینوالی غالب شو، څوک نیکه شو او څوک نیا شوه».

نو د عشق جنازه هم وځي او مجازي عاشقان په خپلو لاسونو د خپل عشق جنازه ښخوي او په نهایت حسرت او پښېمانۍ سره تښتي. په دې حقیقت باندې د احقر دوه شعرونه:

ان کے چہرے پہ کچڑی داڑھی کا
ایک دن تم تماشا دیکھو گے
میر اس دن جنازہ اُلفت کا
اپنے ہاتھوں سے دفن کر دو گے

« یوه ورځ به ته د دوی پر مخ د ګډوډې (سپینې او تورې) ږیرې ننداره او تماشا وګورې. اې میره! په هغه ورځ به د مینې او الفت جنازه په خپلو لاسونو ښخه کړې».

له همدې امله د محبت وړ یوازې د الله تعالی ذات دی چې د هغه حسن او جمال ته هیڅکله زوال نشته، بلکې هر لمحه د هغه یو نوی شان دی:

﴿كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٍ﴾ (الرحمن:۲۹)

«هغه هره ورځ (په هر وخت کې) په یو نوي شان کې دی».

د حق تعالی له ذات څخه د هغه د صفاتو جلاوالی او انفصال محال دی. بر عکس یې د نړۍ د ښکلو کسانو حسن هره لمحه د زوال په لور روان دی. دا جسدونه په قبرونو کې د ښکته کېدونکو دي، تور وېښتان په سپینو بدلېدونکي دي، ملاوې کړوپېدونکې دي، له سترګو څخه چرک او اوبه بهیدونکې دي، له مخونو څخه د رڼا او ځلا لوګی پورته کېدونکی دی، نو چیرته خپل ژوند ضایع کوئ! د احقر څو شعرونه ملاحظه کړئ:

آج کچھ ہیں کل اور کچھ ہوں گے
حسنِ فانی سے دل لگانا کیا
میر مرنا کسی گلفام پر
خاک ڈالو گے انہیں اجسام پر

«نن یو ډول دي او سبا به بل ډول وي؛ له فاني حسن او ښکلا سره زړه تړل څه معنی؟ په هیڅ یو ګل غوندې ښکلي باندې مه مړ کېږه؛ په همدغو جسدونو او بدنونو به بالاخره خاورې اړوې».

ښامار چې لاړ شي نو خپله لاره کرښه پرېږدي، خو د حسن د ښامار لاره په دې توګه له منځه ځي چې د حسن نښې او اثار کټ مټ هم نه پاتې کېږي؛ په دغه وخت کې مجازي عاشقان حیران پاتې کېږي او افسوس کوي.

حسنِ رفتہ کا تماشا دیکھ کر
عشق کے ہاتھوں کے طوطے اڑ گئے

«د تېر شوي او له منځه تللي حسن ننداري ته په کتلو سره، د عشق د دعوه دارانو د لاسونو طوطیان والوتل».

که د ښکلو ځېرو پای او انجام سترګو ته مخامخ وي، نو بیا مجاهده اسانه کېږي.

د احقر یو بل شعر دی:

ان کے بچپن کو ان کے بچپن سے
پہلے سوچو تو دل نہیں دو گے

«د هغوی د ماشومتوب په اړه د دوی تر ماشومتوب وړاندې فکر وکړه، بیا به هېڅکله خپل زړه ورنه کړې».

او د حسن د فاني کېدو دا مراقبه خو د نفس د تسلي لپاره ده، ترڅو نفس د داسې عارضي او فاني شي په لور میلان ونه کړي. خو د حسن د فاني کېدو له امله له ګناه څخه ځان ژغورل، دا خو د بندګۍ خورا ټیټه کچه ده؛ د دې معنی خو دا شوه چې که د دې ښکلو کسانو حسن فاني نه وای، نو معاذ الله موږ به ورسره زړه لګاوه! له لومړي سر څخه د عبودیت او بندګۍ تر ټولو لوړه کچه دا ده چې موږ داسې ووایو: اې الله! ستا محبت، ستا عظمت او ستا هغه احسانات چې پر موږ یې لري، د هغوی حق خو دا دی چې که تر قیامت پورې پر دغو ښکلو کسانو باندې زوال هم رانشي او د هغوی د حسن رڼا او ځلا همدا هسې پاتې وي، نو بیا به هم موږ د هغوی په لور د نظر پورته کولو جرات ونکړو؛ ځکه چې په کومه خوښۍ سره چې ته ناخوښه کېږې او ستا د ناخوښۍ له لارو څخه چې کومه خوښي ترلاسه کېږي، هغه خو لعنتي خوښي ده. زما همدا شعر دی:

ہم ایسی لذتوں کو قابلِ لعنت سمجھتے ہیں
کہ جن سے رب مرا اے دوستو ناراض ہوتا ہے

«اې دوستانو! موږ داسې خوندونو ته د لعنت وړ وایو، چې له امله یې زما رب، ناراضه کېږي».

او د ګناه په لږ ساعت خوند کې په زرګونو تکلیفونه او په زرګونو پټ غمونه دي، د ګناه اراده او هڅه کول له حق تعالی څخه د لیرې والي پیل دی او د عذاب د نقطې پیل دی، چې له هغې وروسته په زړه کې د آرام او سکون خوب هم نشي راتلای.

عشقِ مجازی کا آغازِ برباد دیکھا
انجام کا یا اللہ کیا حال ہوا ہوگا

«د مجازي عشق د بربادۍ پیل مې ولید، یا الله د دې د پای به څه حال شوی وي».

له همدې امله چې په زړه کې مردار راغی، نو زړه مردار شو. دا ښکلي کسان یوه ورځ مړي کېدونکي دي، دا وخت که څه هم ژوندي دي خو څرنګه چې حادث او فاني دي؛ له همدې امله کله چې دا په زړه کې راشي نو د حدوث او فنا اثرات به ورسره یوځای راځي. په داسې زړه کې له الله تعالی سره د تعلق خوند او خوږوالی نشي پاتې کېدای. د بېلګې په توګه په یو خونه کې تاسې خواږه خورئ، خوندور خواږه دي، په دغه وخت کې په همدې خونه کې یو جنازه راوړل شي او کېښودل شي، نو تاسې وواياست! ایا اوس به خواږه خوند وکړي؟ همدا رنګه کله چې په زړه کې مردار راغی، نو له الله تعالی سره د تعلق خوند نشي پاتې کېدای. الله تعالی داسې زړه ته نه راځي چې په هغه کې د غیر الله بدبويي او غلاظت وي. حضرت مولانا شاه محمد احمد صاحب رحمة الله علیه فرمايي:

نہ کوئی راہ پا جائے نہ کوئی غیر آ جائے
حریمِ دل کا احمد اپنے ہر دم پاسباں رہنا

«ترڅو هیڅوک لاره پیدا نکړي او هیڅ غیر (الله) رانشي، اې احمده! د خپل زړه د حرم هر وخت ساتونکی اوسه».

له همدې امله د الله والا خلک هر وخت د خپل زړه څارنه کوي چې نفس له کوم ځای څخه د حرامو خوند غلا نکړي، ځکه هغوی داسې ځېرې نژدې کېدو ته هم نه پرېږدي چې له امله یې د احتیاط اړتیا وي. له دې امله نفس ته لږ غونډې غم رسیږي، خو د دې غم په برکت د

هغوی زړه هر وخت مست، خوشحاله او د حق تعالی د نژدېوالي په شرف مشرف وي. د احقر شعر دی:

مرے ایامِ غم بھی عید رہے
ان سے کچھ فاصلہ مفید رہے

«زما د غم ورځې هم اختر وې، له هغوی څخه لږ غوندې فاصله ګټوره وه».

کله چې لمر ختلو ته نژدې شي، نو د ختيځ ټول افق سور ګرځي. دا د دې نښه وي چې لمر راختونکی دی. همدا رنګه کوم کس چې د خپلو حرامو هيلو په وژلو سره د خپل زړه افق سور کړي، د هغه په زړه کې د حق تعالی د نژدېوالي لمر راخېژي. د احقر څو شعرونه دي:

وہ سرخیاں کہ خونِ تمنا کہیں جسے
بنتی ہیں شفق میں مطلعِ خورشیدِ قرب کی
میرا انجامِ الفت میر تم بھی دیکھتے جانا
مری ویرانیاں آباد ہیں خونِ تمنا سے
مگر خونِ تمنا سے جو بنتی ہے شفق احمر
انہیں آفاق سے دل میں طلوعِ خورشیدِ حق ہوگا

«هغه سره رنګونه چې د هيلو او غوښتنو د قربانولو په نوم يادېږي، په شفق کې د قرب او نژدېوالي د لمر د راختلو ځای ګرځي. زما د محبت پای ته ته هم ګوره، زما دا ويرانۍ د هيلو په قرباني کولو سره ابادې دي. خو د هيلو د قربانولو له امله چې کوم سور شفق جوړېږي، له همدغو افقونو څخه به په زړه کې د حق لمر راوخېژي».

برعکس کوم خلک چې د نظر ساتنه نه کوي، هغوی بالاخره په مجازي عشق کې مبتلا کېږي او بربادېږي او د هغوی په دنيا کې داسې سخته پريشاني او عذاب وي چې هغه پخپله مجازي عاشق احساسوي. او بالاخره ډېر خلک د مرګ پر مهال د الله تعالی د نوم پر ځای د خپل معشوق نوم اخلي او کلمه نه ورته په برخه کېږي، له همدې امله مشائخ کرامو فرمايلي دي چې د سالک لپاره له ښځو او بې ږيرې هلکانو سره ناسته پاسته او مېلمستيا، زهرِ قاتل دی. شيطان چې کله د ګمراهۍ له هرې لارې څخه ناهيلی شي، نو دا هڅه کوي، چې صوفيان د ښځو او هلکانو په فتنه کې واچوي. د هغه دا داسې لويه وسله ده چې د ده په دغه چال کې څوک راشي، د هغه لاره په بشپړ ډول بندېږي؛ ځکه چې له نورو ګناهونو څخه له الله تعالی څخه هغومره ليرې والی نه راځي، څومره چې له دې ګناه څخه راځي. د بېلګې په توګه که چا په درواغو، غيبت يا د جماعت د لمانځه په پرېښودلو سره له الله تعالی څخه مثلا د څلوېښت درجو په اندازه د زړه انحراف وکړ، نو کله چې توبه وباسي، زړه يې بېرته د الله لور ته متوجه کېږي. خو که څوک د يوې ښکلې څېرې په عشق کې مبتلا شي، نو د زړه انحراف يې له الله څخه يو سلو اتيا (۱۸۰) درجې وي. د زړه قبله په بشپړ ډول بدلېږي. که هغه په لمونځ کې ولاړ وي، نو هماغه ښکلی مخ ورته مخامخ وي، که تلاوت کوي نو هغه ورته مخامخ وي، او که ذکر کوي نو هماغه څېره يې تر سترګو کېږي. د زړه مخ له الله تعالی څخه وګرځي او د يوه خوسا کېدونکي او سړېدونکي لاش په څېر شي. الله تعالی له بنده څخه د بلې هيڅ ګناه له امله دومره زيات نه ليرې کېږي، څومره چې د مجازي عشق له امله ورڅخه ليرې کېږي. ښکاري چې د کومې مرغۍ ښکار کول غواړي، د هغې په وزرونو باندې ژاولې لګوي، چې له امله يې هغه نشي الوتلی او په اسانۍ يې ښکار کوي؛ کټ مټ همدا رنګه شيطان چې کله وګوري يو سالک په خورا تېزۍ سره د الله په لاره کې پرمختګ کوي، له هرې ګناه څخه ځان ساتي، نو هغه په کومه ښکلې څېره کې مبتلا کوي او د الله تعالی له نژدېوالي څخه يې په بشپړ ډول محروموي.

له همدې امله، که هر څومره ښکلې څېره مخې ته راشي، هيڅکله ورته د سترګو له کونج څخه هم مه ګورئ. په هغه وخت کې نابينا شئ، په سترګو کې د رڼا لرلو سره سره له رڼا څخه لاس په سر شئ. د احقر شعر دی:

جب آگئے وہ سامنے نابینا بن گئے
جب ہٹ گئے وہ سامنے سے بینا بن گئے

«کله چې هغوی مخې ته راغلل نو موږ نابينا شوو، او کله چې هغوی له مخې ليرې شول نو بېرته بينا شوو».

**(نوري برخې په راتلونکو ګڼو کې، ان شاء الله)**

****

# دا غبار به هېڅکله ورک نشي

لومړۍ برخه

■ شیخ انور العولقي

الحمدلله رب العالمین، و الصلاة والسلام علی سیدنا محمد و علی آله و صحبه اجمعین.

د نني مانېام (درس ته) ټولو غوږنیوونکو وروڼو او خویندو!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

الله تعالی د موږ ته د خیر علم رانصیب کړي او الله تعالی د ټولې چارې راته آسانه کړي. الله تعالی په قرآن کریم کې (د کفارو په اړه) فرمایلي دي:

وَ قَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ (سورة زخرف:۳۱)

«دوی (کافرانو) وویل: ولې دغه قرآن د دوو ښارونو(مکې او طائف) له لویو سړیو څخه پر یوه نازل نشو؟»

ځینې کافرانو د رسول الله ﷺ په پیغمبری او رسالت باندې اعتراض کولو؛ ځکه دوی د نبوت لپاره دوه کسان (عروة بن مسعود ثقفي او ولید بن مغیره) کاندید کړي یا نوموړي وو.

مګر الله جل جلاله فرمایلي :

ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥ(سورة الانعام:۱۲۴)

«الله ډیر ښه پوهیږي، چې د خپل رسالت چارې چېرته (چاته) وسپاري»

په هر حال یو له هغو کسانو څخه چې مشرکینو د نبي کېدلو لپاره کاندید یا وړاندیز کړی و، د طایف اوسیدونکی عروه بن مسعود ثقفي و. خو کلونه وروسته د مکې مشرکینو همدغه عروة بن مسعود ثقفي د خپل استازي په توګه رسول الله ﷺ ته د یوه ماموریت د ترسره کولو لپاره ولیږلو، تر څو د رسول الله ﷺ سره د حدیبې د صلحې د تړون په اړه خبرې اترې وکړي، که څه هم نوموړی د تړون په ترسره کولو ونه توانېد چې بیا وروسته د سهیل بن عمرو په نامه یوه کس دغه تړون ترسره کړ.

خو جالبه دا وه، کله چې عروة بن مسعود ثقفي (د مکې جنوب ته د یوې ورځې مزل وروسته) د حدیبې سیمه کې د مسلمانانو کمپ ( د اوسېدلو ځای) ته ورسېد، نو له یوې بلې نړۍ سره مخ شو. نوموړی د کمپ د دننه حالاتو حیران کړ، هغه مخکې داسې څه نه و لیدلي؛ کله به چې رسول الله صلی الله وسلم اودس کولو نو صحابه کرامو به دا کوښښ کولو چې له یو او بل مخکې شي، تر څو د رسول الله صلی علیه وسلم د بدن څخه جلا شوې اوبه راواخلي او په خپلو لاسونو او مخونو یې وموښي، تر څو د الله د رسول برکتونه حاصل کړي، کله به چې د رسول الله یو ویښته هم ولوېدلو، نو دوی به په بیړه هغه د برکت لپاره اخیستلو او کله به چې رسول الله دوی ته د کوم کار حکم وکړ، په ډیره چټکی به یې عملي کولو.

همدارنګه کله چې عروة بن مسعود ثقفي د رسول الله ﷺ سره خبرې کولې، په یو نفر یې نظر پرېوت، چې له سترګو پرته یې ټول بدن پټ او مسلح و، عروة بن مسعود ثقفي د رسول الله مبارکې ږیرې ته لاس ور اوږد کړ، مسلح کس د عروة لاس د خپلې تورې په موټي ووهلو او ورته

ويې ويل: «لاس دې در ټول کړه مخکې لدې، چې واپس روغ در ونګرځي.»

عروة بن مسعود ثقفي وويل: زه فکر کوم چې دا کس ستاسو تر منځ تر ټولو شرير او غوسه ناک دی. رسول الله ﷺ وموسکل او ورته يې وويل: دا ستا وراره مغيره بن شعبه دی.

عروة بن مسعود ثقفي د مغيره بن شعبة رضي الله عنه دې حالت ډېر حيران کړ، چې خپل وراره يې د رسول الله ﷺ ملګرى او د هغه د ساتنې لپاره مؤظف کړل شوى و او د خپل تره حتى لاس يې پرې نښود چې د حضرت ﷺ په ږيره مبارکه ولګيږي.

ورونو او خويندو! تاسو به بار بار زما څخه دا واورئ، چې هر کله موږ د هغه وخت کيسې کوو نو بايد ځان د هغوى په جامعه کې تصور کړو او ځان د هغوى پر ځاى وګڼو او هڅه وکړو چې د هغوى په رقم فکر ژوند وکړو او هغه شرايط درک کړو، چې دوى پکې ژوند کولو.

هغه يوه قبيلوي ټولنه وه، چېرته چې قبيله او خپلوي ډېره مهمه وه او عروة بن مسعود ثقفي په ښکاره ډول د حيرانتيا په حالت کې و، چې څنګه اسلام د هغه خپل وراره مغيره بن شعبة دومره بدل کړى دى.

عروة بن مسعود ثقفي چې کله قريشو ته ورغلو هغوى ته يې وويل: اې قريشو! ما د جهان پاچاهان ليدلي، د فارس د امپراطور، قيصر او نجاشي سره مې ليدنې کړې دي، خو ما د هغوى سره داسې ملګري ونه ليدل، چې دومره فدا کاره او په اطاعت کلک وي، لکه څومره چې د رسول الله ﷺ ملګري وو. کله به چې رسول الله هغوى ته د کوم کار امر وکړ، هغوى به په ډېره بيړه ترسره کولو او کله به چې رسول الله ﷺ خبرې کولې هغوى به داسې غلي ناست وو، لکه مرغان چې د دوى پر سرونو ناست وي او کله به چې هغه اودس کولو نو هغوى به په ډېره بيړه د هغه له بدن څخه جلا شوې اوبه راخيستې او هر کله به چې د هغه يو ويښته ولويد، نو دوى به په ډېره بيړه ترلاسه کولو.

نو اې قريشو! محمد ﷺ چې تاسو ته کوم وړانديز کړى، هغه ومنئ؛ ځکه زه فکر نه کوم، چې د هغه ملګري به له هغه څخه لاس واخلي.[1]

د مسلمانانو په ليدلو به کافرانو لاندې برداشتونه اخيستل:

- هغوى به هېڅکله رسول الله ﷺ چاته تسليم نه کړي.
- هغوى به هېڅکله له رسول االله ﷺ سره خيانت ونه کړي.
- هغوى به هېڅکله رسول الله ﷺ يوازې پرېنږدي.
- هغوى به د رسول الله ﷺ د ساتنې لپاره تر آخري سلګۍ وجنګيږي.

زما خوږو ورونو او خويندو! دا د محمد ﷺ وخت و او د صحابه کرامو په اړه د عروة بن مسعود شاهدي وه. وختونه فرق کوي، څو ورځې مخکې قرآن کريم د يوه امريکايي عسکر لخوا د نښې ويشتلو د هدف لپاره وکارول شو.

دا کار چيرته وشو؟

جواب: دا کار په يوه اسلامي هيواد او د اسلامي نړۍ په زړه کې ترسره شو.

د مسلمانو غبرګون څه و؟

جواب: د مسلمانانو غبرګون خاموشي وه.

له دې نه مخکې کله چې ډنمارک کې د کارتونونو پېښه رامنځته شوه، د اسلامي ملکونو لخوا سخت غبرګون وښودل شو، خو له دې څخه وروسته په سويډن کې ترډې لاسخته پيښه رامنځته شوه، خو غبرګون کم و او اوس خو بيخي کم دى.

ورونو او خويندو! زموږ دښمنان په مسلسله توګه زموږ د احساساتو په کمزوري کولو باندې کار کوي، کله به چې دغه پيښې د لومړي ځل لپاره رامنځته شوې، نو هر مسلمان به د دې په باره کې فکر کولو او د دې کار غندنه به يې کوله او انديښمن به و. خو ورو ورو زموږ دښمنانو موږ له دې حالت سره عادي کړو او اوس تر دې لا وحشتناکې او لويې پيښې رامنځته کيږي، د اسلام په لوړه کچه سپکاوى کېږي، خو د مسلمانانو غبرګون په نشت حساب دى.

ورونو او خويندو! لږ راسره تم شئ، تر څو خپل ماضي ته لاړ شو، د صحابه کرامو تابعداري او قرباني وګورو، تر څو زموږ روحيه را ژوندۍ کړي.

---

[1] صحيح البخاري

کعب بن اشرف یو فصیح یهودي مشر و، کله چې  په بدر کې د مسلمانانو د بریا خبر مدینې منورې ته ورسېد، نوموړي وویل:  که دا خبره رېښتیا وي چې مسلمانانو په بدر کې بریا ترلاسه کړې، نو زموږ لپاره مرګ تر ژوند غوره دی؛ ځکه د قریشو مشرانو ماتې خوړلې ده. وروسته له دې یې د شعرونو ویل پیل کړل او په شعرونو کې به یې د مشرکینو پر ماتې افسوس کاوه او د رسول الله ﷺ او مسلمانانو پر ضد به یې خبرې کولې. بیا  کعب بن اشرف مکې ته ولاړ تر څو مشرکینو ته خپل شعرونه ور واوروي او د دوی سره په غم کې شریک شي، هغه نورهم دې کار ته ادامه ورکړه آن تر دې چې په خپلو شعرونو کې یې د مسلمانانو د میرمنو نومونه هم یادول، نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

من لي بكعب أبن الأشرف فأنه قد أذى الله و رسوله

«څوک به مې د کعب بن اشرف څخه خلاص کړي، هغه الله تعالی او د هغه رسول ﷺ ته زیان رسولی دی.»

د اوس د قبیلې یوه انصاري صحابي محمد بن مسلمه رضی الله عنه ځواب ورکړ: زه دا کار کوم. آیا ته غواړې، چې هغه په قتل ورسوم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو.

محمد بن مسلمه چې د کعب بن اشرف یهودي په قتل رسولو وعده یې وکړه، بېرته کور ته راغلو او په فکر کولو یې شروع وکړه او دا کار نسبتاً سخت معلومېده؛ ځکه کعب بن اشرف په یوه یهودي سیمه کې، د خپلو ملګرو په منځ او په یوه کلا کې اوسېدلو، نو ځکه دا کار ډېر سخت و اوهمدې شیانو نوموړی ډېر اندېښمن کړ. حتا د هغه اندېښنه دومره ډېره شوه، چې خوراک او څښاک به یې نه کولو، فقط دومره به یې کولو چې ژوندی پاتې شي او په ۳ ورځو کې به یې یو ځل خوراک او څښاک کولو.

وروسته دا خبر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسېد، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه راوغوښت او ورته ویې ویل: څه درشوي اې محمد بن مسلمه؟ آیا دا رښتیا ده چې ته خوراک او څښاک نه کوې؟

هغه ځواب ورکړ: هو

رسول الله ﷺ د هغه نه پوښتنه وکړه: ولې؟

هغه وویل: ما د تا سره د یوه کار وعده کړې وه، خو نه پوهېږم چې دا کار به وکړای شم کنه؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم  ورته وویل: «أنما عليك الجهد»

ژباړه: ستا کار فقط هڅه ده، نور یې الله تعالی ته پرېږده.

نو اوس به لږ ودرېږو او وبه ګورو، چې د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین مینه او جذبه څومره وه؟

ګورئ! هغه دومره اندېښمن و، چې حتی خوراک او څښاک یې نشوی کولی او خپل عادي ژوند ته یې دوام نشو ورکولای. د هغه لپاره دا یوه ډېره جدي خبره وه، چې د رسول الله ﷺ سره یې وعده کړې وه او ورته اندېښمن و، چې آیا دا کار به ترسره کړی شي او که نه؟ تر هغو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ته دې خپله هڅه وکړه، نور یې الله تعالی ته پرېږده. د دې خبرې له اورېدو څخه وروسته د هغه حالت ښه شو، خوراک او څښاک یې پیل کړ.

اوس به خپل ځان ته توجه وکړو او دا به ووایو چې موږ څومره اندېښمن یو؟ کله چې د رسول الله مبارک د عزت خبره راځي، موږ څومره اندېښمن یو؟ کله چې د اسلام د عزت خبره راځي، موږ څومره اندېښمن یو؟ کله چې د قرآن کریم د عزت خبره راځي، موږ څومره اندېښمن یو؟ او موږ دا خبرې څومره جدي نیسو؟

محمد بن مسلمه دری شپې او ورځې د خپلې وعدې او د هغې د پوره کولو په اړه فکر کولو .  نو موږ هم د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین په څېر روحیې ته ضرورت لرو.

محمد بن مسلمه د خپل هدف د آسانه کېدلو لپاره داسې وویل:  یا رسول الله! نو آیا ته ماته اجازه راکوې، چې ستا پر ضد خبرې وکړم.

( خپلې موخې ته د رسېدلو لپاره دا د پلان یوه برخه وه، چې په ظاهراً به محمد بن مسلمه د رسول الله ﷺ مخالفت کوي، تر څو هدف ته په اسانی ورسیږي).

نو رسول الله ﷺ ورته وویل: هرڅه چې غواړې وه یې وایه.

محمد بن مسلمه د خپل قوم (انصارو) د یوه کوچني ټولي سره د کعب بن اشرف لیدلو ته ورغلو تر څو یو دام ورته تیار کړي، یو له هغو کسانو څخه چې د محمد بن مسلمه سره تللی و، ابو نائله و چې ویل کیږي دا د کعب بن اشرف رضاعي ورور و، کله چې دوی کعب بن اشرف ته وروسیدل ورته وه یې وویل: محمد صلی الله علیه وسلم زموږ لپاره یوه

ستونزه او مصيبت گرځېدلی او عرب ټول زموږ سره د هغه پر سر شخړه کوي او موږ يې د هغه پر سر خپل دښمنان گرځولي یو.

کعب بن اشرف وویل: تاسو ته ما دا خبره مخکې کړې وه او تاسو به د دې نه بدتر حالتونه ووینئ.

محمد بن مسلمه ورته وویل: ښه، موږ به صبر وکړو او وبه گورو چې دا حالت څه وخت ختمیږي ( محمد بن مسلمه کوشش کوي، چې د کعب بن اشرف باور ترلاسه کړي) او ادامه ورکوي. اې کعبه دې کس زموږ اقتصاد سخت ضعیفه کړی، نو موږ دلته تا ته د دې لپاره راغلي یو، چې یو څه درنه پور کړو او د هغې په مقابل کې یو څه په ضمانت کې درته پرېږدو.

کعب بن اشرف وویل: نو بیا خپل اولادونه راته پرېږدئ.

هغوی وویل : که چېرې موږ تا ته خپل اولادونه پرېږدو، نو په راتلونکي کې به خلک هغوی ته وایي، چې ستاسو پلرونو تاسې د کم مال په مقابل کې په ضمانت  پرېښودلي وی او دا به د دوی د لپاره شرم وي.

کعب بن اشرف وویل: بیا نو خپلې میرمنې راته پرېږدئ.

دوی وویل: څنکه موږ کولی شو، چې خپلې میرمنې له تا سره پرېږدو، حال دا چې ته ډېر ښایسته یې. بلکې موږ به د خپل ځان سره وسلې راوړو او هغه به تا ته په ضمانت کې پرېږدو.

محمد بن مسلمه  خپل پلان جوړ کړ، چې  که بل وخت موږ د وسلو سره راشو، نو هغه به هېڅ شک ونکړي.

هغوی د کعب بن اشرف سره  وخت وټاکلو او بېرته  ورته  د شپې ناوخته راغلل؛ څکه دا مناسب وخت و، کعب بن اشرف ته یې ورغږ کړ.

د کعب بن اشرف ښځې کعب ته وویل :زه په دې غږ کې د وینو بوی احساسوم.

کعب ورته وویل: اندېښنه مه کوه، دا زما ملگری محمد بن مسلمه او زما ورور ابو نائله دی. د دې څخه دا څرگندیږي چې دوی له یو بل سره د جاهلیت له زمانې څخه ملگرتیا درلوده.

کعب بن اشرف د دوی د لیدلو لپاره لاندې ښکته شو.

محمد بن مسلمه د خپلو ملگرو سره یوه نښه (شفر) ایښې  و، چې کله ما د کعب بن اشرف سر ونیولو نو تاسو د خپلو تورو گذارونه پرې وکړئ!

کله چې کعب بن اشرف راښکته شو نو دوی ورته وویل: راځه د شپې تېرولو لپاره شعب العجوز ته ولاړ شو او هلته به خبرې وکړو.

هغه وویل : سمه ده

په دې سره دوی وکولی شول چې کعب بن اشرف له خپلې کلا څخه لرې یوه ځای ته چې شعب العجوز نومیږي یوسي.

کله چې دوی هلته ورسیدل نو محمد بن مسلمه کعب ته وویل: واو، دا بوی چې ستا له ویښتانو څخه راځي ډېر ښکلی دی ( د هغه ویښتانو د مشکو یا د نورو عطرو بوی کولو.) آیا زه کولی شم بوی یې کړم؟

کعب بن اشرف وویل : هو بوی کړه

مسلمه د هغه پر سر لاس کېښود،هغه یې د ځان طرف ته راکش کړ او د هغه ویښتان یې بوی کړل او ویې ویل :

دا ډېر ښکلی بوی ده. (دا یو امتحان و)

محمد بن مسلمه دوهم ځلې وویل : آیا بیا یې بوی کړم؟

کعب بن اشرف یهودي :هو، بوی یې کړه.

محمد بن مسلمه وایي : په دوهم ځل مې کعب بن اشرف راونیولو او نورو کسانو د تورو گذارونه پرې پیل کړل، خو دوی ونشوی کولی چې کعب بن اشرف ووژني،  کعب بن اشرف د مرستې چیغې وکړې او د کلا ټول خلک  په یو وخت راپاڅېدل؛ نو ماته را په یاد شول، چې زما سره خو خنجر شته، هغه مې راوویست او کعب بن اشرف یهودي مې په گیډه کې پرې وواهه او لاندې مې راکش کړ تردې چې د شرمگاه هډوکي ته یې ورسید بیا مې خوشی کړ.[٢]

دا هغه څه و چې محمد بن مسلمه او د اوس قبیلې انصارو د کعب بن اشرف یهودي سره وکړل، فقط او فقط د دې له خاطره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې بدې خبرې کړې وې.

---

[٢] صحیح البخاري٥:٣٦٩

ابن تیمیه رحمه الله په خپل کتاب «الصارم المسلول علی شاتم الرسول» کې دا داستان د (رایستل شوې توره د هغه چا په وړاندې چې د محمد صلی الله علیه وسلم سپکاوی یې کړی وي) تر نامه لاندې ذکر کړی. هغه دلته څو مهم ټکي بیانوي چې موږ یې باید ووایو: تر هر څه مخکې هغه د سیرت د یوه عالم، الواقدي څخه یو روایت نقل کوي، الواقدي د پېښو د پایلو په اړه بحث کوي؛ ځکه دا یوه ډېره قوي او مهمه پیښه وه، هغه پېښه چې پایلې یې ډېرې ښې وې.

الواقدي داسې لیکي: یهود او مشرکین دواړه یو ځای، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د سهار په وخت کې راغلل او ورته ویې ویل: زموږ یو عزتمند او مشر سړی تیره شپه په قتل رسول شوی؟

هغوی داسې وویل: قُتِلَ غیلة

(غیلة) د ترور یا د پټې وژنې په معنا دی، یعنې د کعب بن اشرف وژنه یوه ناڅاپي وژنه وه نه مخامخ جګړه، هغه په داسې حال کې وژل شوی چې هېڅ خبر نه و.

هغوی وویل: کعب په داسې حال کې وژل شوی چې بې ګناه و او کوم جرم یې نه و کړی، ولې کعب بن اشرف ووژل شو؟

دا د دوی پوښتنه وه، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وړاندې کړه؛ ځکه د مسلمانانو او یهودو ترمنځ یوې معاهدې شتون درلود او دا هغه معاهده ده چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته راغلو د ټولو یهودو سره یې د سولې معاهده وکړه.

خو اوس کعب بن اشرف ولې او څنګه وژل شو؟

محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

انه لو قر کما قر غیره ممّن هو علی مثل رأیه مغتیل

ولاکنه نال منا الذی وهجنا بشعرو ومن یفعل هذا احد منکم الا کان السیف.

«که هغه آرامه وی لکه څنګه چې نور خلک آرامه دي، که څه هم د ده په شان نظریه لري؛ نو دی به نه و وژل شوی. مګر هغه زموږ سپکاوی وکړ او په خپلو شعرونو باندې یې موږ بدنامولو او که ستاسو څخه بل هر څوک داسې کار وکړي نو زموږ به ورسره د تورې معامله وي.»

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دا خبره وکړه، چې ډېر خلک شته چې په زړونو کې د کعب بن اشرف یهودي په څېر باور او فکر لري خو هغوی نه وژل کیږي دا ولې؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ادامه ورکړه او وه یې ویل:

هغه د ایمان نه راوړلو له امله نه دی وژل شوی، هغه له دې امله نه دی وژل شوی. چې د رسول الله سره یې کرکه او نفرت لرلو او هغه له دې امله ندی وژل شوی، چې د مسلمانانو سره یې نفرت و.

داسې ډېر کسان شته چې کعب په څېر فکر او باور لري، خو موږ هغوی ازاد پرېښي او وژلي مو ندي؛ که چیرته کعب بن اشرف هم د نورو خلکو په څېر آرام وی. موږ به نه وژلو مګر هغه په موږ پسې خبرې کولې او هغه موږ د خپلو شعرونو په واسطه بدنامولو.

محمد صلی الله علیه وسلم یو ځل بیا دوی ته په ډاګه وویل: که چېرې له تاسو یهودو او مشرکینو څخه بل څوک دا کوښښ وکړي، چې په خپلو خبرو باندې زموږ د بدنام کول هڅه وکړي، نو موږ به همدغه شان تعامل ورسره کوو. بیا به زموږ او تاسو ترمنځ بغیر له تورې بل څه نه وي؛ نه به خبرې وي، نه به بښنه وي، نه به اړیکې وي او د پخلاینې هیڅ کوښښ به نه وي، بلکې توره به وي.

محمد صلی الله علیه وسلم دا خبرې ښې ورته روښانه کړې، وروسته یې هغوی راوغوښتل ترڅو لاسلیک ترې واخلي، هغوی ټولو رضایت وښودلو او دایې ومنله، چې وروسته له دې به په محمد صلی الله علیه وسلم پسې بدې خبرې نه کوي.

ابن تیمیه وایي: دا هغه دلیل دی، چې مسلمان هڅوي تر څو هغه څوک ووژني چې د الله او د هغه د رسول الله سپکاوی کوي حتی، که هغه له مسلمانانو سره تړون هم ولري.

ابن تیمیه په خپل کتاب کې بعضو هغو شکونو او دلیلونو ته هم ځواب ورکړی، چې ددې حکم په خلاف هغه ته وړاندې شوي وو او په دې داستان سره یې پورتنی خبره ثبوت او غلطو شکونه او دلیلونه رد کړل.

همداراز ځینو خلکو کوښښ کولو، چې ددې حدیث معنا بدله کړي او ووایي، چې کعب بن اشرف یهودي ددې پاره ووژل شو چې کافران یې د مسلمانانو سره جنګ ته هڅول نه د هغه خبرو له امله.

ابن تیمیه وایي: نه ! کعب بن اشرف د هغه د شاعرۍ په خاطر ووژل شو، چې آن مکې ته تر تلو مخکې یې دا کار پیل کړی وو. او د هغه وژل ددې لپاره نه و، چې مکې ته تللی او خلک د مسلمانانو خلاف جنګ ته هڅوي؛ بلکې دقیقاً د هغه وژل د هغه د شاعرۍ له امله وو.

کعب بن اشرف د خپلې شاعرۍ په واسطه، د کفارو په وژل شویو تأسف ښکاره کولو، هغوی یې جنګ ته هڅول، د اسلام د سپک، بد نام او ټیټ معرفي کولو تر څنګ به یې د کفارو دین غوره معرفي کولو.

دا ټول دې هغه د ژبې ضررونه وو او هغه کومه فزیکي جګړه کې ګډون نه و کړی ؛ بلکې هغه مسلمانانو ته فقط د ژبې له لارې ضرر رسولو. دا د هغه چا لپاره ثبوت او دلیل ګرځېدلی شي چې په دې موضوع کې بحث کوي.

او دا خو روښانه شوه، چې د هغه چا وینه چې هغه الله او د الله رسول ته د شاعرۍ یا خبرو له لارې توهین او سپکاوی کوي د هیچا لپاره خوندي نده.

دا وه د کعب بن اشرف کیسه او د اوس قبیلې عمل چې ترسره یې کړ.

کعب ابن مالک وایي: د اوس او خزرج قبایلو به د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر سر له یو او بل سره سیالي کوله، لکه دوه آسونو؛ کله به چې یوې قبیلې داسې کار ترسره کړ، چې محمد صلی الله علیه وسلم به پرې خوښ شو، بلې به هم غوښتل چې ترسره یې کړي.

د هغوی ترمنځ سیالي په رتبه ، دولت ، ښکلي کور، ښکلې ښځې په نکاح کولو او ښکلیو سپرلیو پر سر نه وه، بلکې د دوی سیالي پر دې وه چې څوک به محمد صلی الله علیه وسلم ډېر خوشحاله کړي.

خزرج قبیلې یوه غونډه جوړه کړه او ویې ویل، چې د اوس قبیله د محمد صلی الله علیه وسلم د یوه دښمن په قتل کولو بریالی شوه. موږ به هم د هغو په څېر یو کار وکړو او پوښتنه یې وکړه، چې تر کعب بن اشرف وروسته بدترین کس څوک دی؟

دوی دې پایلې ته ورسېدل، چې د کعب بن اشرف وروسته بدترین کس ابو رافع ده.

هغوی خپله خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وکړه او ورته ویې ویل: موږ هم غواړو د ابو رافع سره همداسې وکړو، لکه څنګه چې اوس قبیلې د کعب بن اشرف سره وکړل. محمد صلی الله علیه وسلم د هغوی پلان تایید کړ او اجازه یې ورکړه.

دوی ولاړل تر څو ابو رافع په قتل ورسوي. زه به کیسه لنډه کړم؛ ځکه موږ دلته د کیسې د جزیاتو په اړه نه غږېږو، بلکې دا د یوه ثبوت په خاطر راوړوو او که غواړئ چې په تفصیل یې وګورئ، نو بیا د سیرت کتابونو ته مراجعه وکړئ.

عبدالله ابن عتیق وکولای شول، چې په یو چل کلا ته دننه شي او بیا د ابو رافع تر کوټې ورسیږي ځکه هغه کیلي ګانې ترلاسه کړې وې، خو هغه نشوای کولی چې ابو رافع ووینې؛ ځکه د شپې ناوخته وو او تیاره ډېره ه وه .

نو څه یې وکړل؟

هغه ابو رافع ته غږ کړل، ابو رافع!

ګورئ! دا ډېر جرئت غواړي، چې ته د شپې ناوخته د هغه کس په اطاق کې، چې غواړې هغه قتل کړې، غږ ورباندې کوې.

هغه همداسې مخته ولاړ او غږ یې کړل اې ابو رافع چېرته یې؟

ابو رافع د عبدالله غږ ته ځواب ورکړ او عبدالله بن عتیق وایي : زه د ابو رافع په غږ پسې شوم او ابو رافع مې وواهه خو مړ مې نه کړو او هغه د کومک چیغه وکړه.

عبدالله بن عتیق په فکر کولو کې ډېر ماهر و، هغه زر شاته ولاړ خپل غږ یې بدل او بېرته راغلو د مرسته کوونکي په شکل راغلو.

ابو رافع څه غواړې؟

ابو رافع : تباه دې شي، دلته یو څوک غواړي ما ووژني.

عبدالله بن عتیق وایي : ما د غږ د راتلو ځای بیا ولیدو، خو په وژلو یې ونه توانېدم. هغه بیا د کومک چیغه وکړه، زه د دوهم ځل لپاره پر شا ولاړم او خپل غږ مې بدل کړ، خو ګورم چې دا ځلې ابو رافع اوږد پروت دی، ځکه په هغه دوه ځلې حمله وشوه.

عبدالله بن عتیق وایي : ما خپله توره د هغه په خېټه کې دننه کړه او ترهغو مې دننه کړه چې ما یې د هډوکي د ماتېدو غږ واورید. (د هډوکي د ماتیدو نه مطلب داده، چې نور ابو رافع ژوندی نه دی).

عبدالله وايي: زه له زينو څخه ښکته کېدلم، خو زه ګډ وډ شوی وم فکر مې کولو چې زينې خلاصې شويدي، خو نه يوه زينه پاتې وه، ولوېدلم او پښه مې ماته شوه.

وروسته بيا زه خپلو ملګرو ته ورغلم او هغوی ته مې وويل: ما ابو رافع ووژلو، خو زه غواړم اطميناني شم، تاسو ولاړ شئ او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته خبر ورکړئ زه دلته پاتې کيږم تر څو خبر ترلاسه کړم.

وګورئ! هغوی څومره غوښتل، چې کار په يقيني توګه ترسره شي. هغه خپله پښه ماته کړه، د ابو رافع د ملا هډوکی يې ورمات کړل خو بيا هم غواړي چې انتظار وکړي، تر څو د ابو رافع د مرګ خبر ترلاسه کړي.

د فجر وخت و، چې خبر خپور شو؛ د حجاز سوداګر ابو رافع قتل شوی دی.

عبدالله بن عتيق چې دا واورېدل، نو څه يې وويل؟

آيا داسې يې وويل، چې دا عمل غلط او د تاوتريخوالي ور دی، موږ دا يو غير اسلامي عمل بولو او دا عمل غندو.

عبدالله بن عتيق وويل : کله چې ما دا خبر واورېد، چې ابو رافع وژل شوی او دا خبر مې ترلاسه کړ، نو قسم دی چې ما په ټول ژوند کې داسې خوږې خبرې نه وې اوريدلې، لکه دا خبره چې د حجاز سوداګر ابو رافع وژل شوی دی.

دا هغه څه وو چې عبدالله بن عتيق وويل.

دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د دوی مينه وه.

وروسته له دې عبدالله بن عتيق مدينې ته ولاړو او کله چې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نوموړی وليد، نو دا خبره يې ورته وکړه:

افلح الوجه

«ستاسو مخونه دې کامياب وي.»

هغوی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په جواب کې وويل : ستا مخ دې کامياب وي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم، عبدالله بن عتيق او ورسره ملګري يې ټول خوشحاله وو. [صحيح البخاري/ ۵:۳۷۱]

کله چې محمد صلی الله عليه وسلم مکه مکرمه فتح کړه، هغه غوښتل چې ددې سپېڅلي ښار فتح پرته له کوم تاوتريخوالي ترسره شي، هغه غوښتل چې مکه مکرمه د سولې په فضا کې وي او د وينې تويېدلو څخه مخنيوی وشي، رسول الله صلی الله عليه وسلم په ډېره عاجزۍ مکې ته ننوت، د الله تعالی شکر يې ادا کوو او هغه ته يې سجدې کولې.

هلته نه کومه ځان ښودنه وه، نه کومې سندرې وې، نه کومه وينه تويېدنه وه؛ بلکې سوله او آرامي وه!

أذهبو فأنتم الطلاقاء

ولاړ شئ تاسو ټول ازاد يی!

ددې سربېره چې محمد صلی الله عليه وسلم ټولو ته عفوه وکړه، خو يو تور نوملړ هم موجود و، چې په هغه کې د هغو کسانو نومونه وو چې بايد وژل شوي وی او رسول الله وفرمايل :(فقتلهم و ان کانو معلقين علی استار الکعبه)[3]

ژباړه: هغوی مو چې هر چېرته وليدل ويې وژنئ، حتی که د کعبې په پردو يې هم ځانونه نيولي وو.

که څه هم د نړۍ تر ټولو سپېڅلی ځای مکه ده او تر هغه هم سپېڅلی ځای حرم شريف دی، او که چا به د کعبې په پردو ځان نيولو يا به يې هغه لمس کولو نو هغه به پرېښودل کېدلو؛ حتی د جاهليت په زمانه کې دا د مشرکينو يو قانون هم ګڼل کېده. خو دلته رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: دا کسان ووژنئ، حتی که د کعبې پردې يې هم نيولې وي.

هغه کسان څوک وو؟

په دغه نوملړ کې د عبدالله ابن خطل په نوم کس او د هغه دوې وينځې وې، چې د رسول الله پر ضد به يې سندرې ويلې او ساره د ابو لهب وينځه وه.

عبدالله ابن خطل دوه وينځې درلودې، چې د محمد صلی الله عليه وسلم پر ضد به يې سندرې ويلې حتا دوی به غونډې جوړولې او هلته به يې د محمد صلی الله عليه وسلم پر ضد سندرې ويلې. دغه دوې

---

[3] ابن اسحاق

وينځې په دې نوملړ کې د يو بلې وينځې سره شاملې وې چې هغه ساره د ابو لهب وينځه وه .

راځئ لومړی عبدالله ابن خطل وګورو، چې څنګه شو ؟

هغه په حقیقت کې د کعبې په پردو ځان نیولی و، خو د مسلمانانو څخه یو تن منډه کړه او هغه یې په قتل ورسولو.

اوس راځئ، چې د دغو ښځو جالبه موضوع بیان کړو:

ورونو او خویندو! په لومړي قدم کې باید دا ووایم، چې په اسلام کې د ښځو وژل منع شوي او خپله محمد صلی الله علیه وسلم د ښځو له وژلو منع کړې ده، خو بیا هم پدې نوملړ کې د ښځو نومونه راغلي وو، چې باید ووژل شي.

دوهم: که چیرې ښځې د مسلمانانو خلاف جګړه کې برخه واخلي او ووژل شي ستونزه نه لري، خو دې ښځو هېڅ داسې جګړه کې ګډون نه و کړی؛ بلکې دوی په بشپړ ډول تسلیمې شوې وې.

دریم : حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د مکې ټولو خلکو ته عفوه وکړه، خو دغه ښځې یې له نورو جلا کړې.

همدارنګه دا خبره هم باید وکړو چې دغه ښځې خو وینځې وې او آزادې نه وې او په د اسلام له نظره په جزا کې د آزادۍ مسئله هم اهمیت لري، نو وینځه خپله آزادي او اختیار نه لري؛ نو د هغوی جزاء هم کمه ده. دغو ښځو په خپله خوښه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپکاوی نه کولو بلکې د خپلو بادارانو(ابو لهب ، عبدالله بن خطل) امر یې پر ځای کولو.

ولې سربېره پر دې دلایلو بیا هم د هغوی د وژنې امر وشو ؟

ابن تیمیه داسې وایې: دا یوه روښانه موضوع ده، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپکاوی او غندنه یو لوی او عظیم جرم دی؛ ځکه سره له دومره عواملو، چې رسول الله ﷺ د مکې خلکو ته امن ورکړی و، سربیره پر دې چې دوی ښځې او وینځې وې، خپله آزادي او اختیار یې نه درلود او په هېڅ جګړه کې یې ګډون نه و کړی، خو بیا هم دوی ته د لوېې سزا ورکولو امر وشو؛ دا موږ ته ښکاره کوي، چې د محمد صلی الله علیه وسلم سپکاوی څومره لوی جرم ده.

الحویرث بن نقیذ هم په تور لیست کې شامل و؛ ځکه هغه د خپلې ژبې په واسطه رسول الله ﷺ اذیت کولو. هغه په خپل کور کې پټ و، علي بن ابي طالب د هغه کور ته ورغلو، مګر د کور نورو کسانو هغه ته وویل: چې الحویرث د مکې څخه بیرون صحراء ته تللی دی، کله چې علي بن ابي طالب ولاړ، هغوی الحویرث بن نقیذ ته وویل: علي ستا پوښتنه کوله. علي بن ابي طالب د الحویرث کور شاته پټ شو، کله چې الحویرث غوښتل بل کور ته وتښتي، نو ویې نیولو او ویې وژلو.[4]

بل مثال د شاعر کعب ابن زُهیر دی، د هغه ورور هم شاعر او د هغه پلار زُهیر بن ابي سلمه هم یو له غوره شاعرانو څخه و او هغه معلقات (د جاهلیت په زمانه کې عربي اوږدې قصیدې) هم درلودل ، چې عربو به په کعبه راځوړندول تر څو د دغه کار ارزښت او ښکلا وښیي. د هغه زامن کعب او بُجیر دواړه شاعران وو، خو بجیر مسلمان او کعب مسلمان نه و او ده به د خپلو شعرونو په واسطه د رسول الله ﷺ سپکاوی کولو.

کله چې مسلمانانو مکه فتح کړه، بُجیر خپل ورور کعب ته یو لیک واستوو او ورته ویې لیکل: محمد صلی الله علیه وسلم هغه شاعران وژني، کومو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپکاوی کړی دی. کعب چې په دې وخت کې په مکه کې نه و، خو بُجیر هغه ته مخکې له مخکې وویل، چې محمد صلی الله علیه وسلم هغه کسان په قتل رسوي کومو چې د هغه صلی الله علیه وسلم سپکاوی کړی او کوم چې پاتې دي، لکه عبدالله بن زبعریه او مغیره بن ابي وهب هغه هم د تیښتې کوښښ کوي.

رسول الله که څه هم مهربانه و او هغه به خپل دښمنان ببښل خو دا ډول عمل به چې چا ترسره کړی و، د هغوی لپاره به حالات بدل وو، چې دا د جرم په لوی والي دلالت کوي!

ادامه لري، ان شاء الله

****

---

[4] ابن هشام/ ۸۱۵ مخ

مور اهل حرم به دا دجل څنګه وزغمو؟

چې د مصر بازارونو کې کنعان خرڅیږي

چې د هوس په پلورنځیو کې ایمان خرڅیږي

چې د روژې او لمونځ جامه کې قرآن خرڅیږي

انسان خرڅیږي او یزدان خرڅیږي

په دې حال کې مور لیونو ته وایۍ، چې چوپ شۍ!

چې په کوم عصر کې د کعبې څوکیدارانو ته، د کلیسا منظرې ښکلې ښکاري

چې په کوم عصر کې، د ختیځ سرې د لویدیځ ترانې زمزمه کوي

چې په کوم عصر کې مسلمان رهبران، هم له څه ویلو ډاریږي

چې په کوم عصر کې د سبقت د غیرت اسباب ورکیږي

په دې حال کې مور لیونو ته وایۍ، چې چوپ شۍ!

کله چې د هوښیارانو په خبرو باندې، ځینې جاهلان شور جوړوي

کله چې بلبل د چمن تصویر وي، خو زاغان نغمې وایي

کله چې د هغوی په ځالو کې ماران ننوځي

کله چې مالیار په خپل ګلشن کې پخپل لاس اور لګوي

په دې حال کې مور لیونو ته وایۍ، چې چوپ شۍ!



# نشنليزم

## د اسلامي امت د واحد جسد رژونې سرطاني غده



ډاکتر محمد طنين

قال الله تعالی:

إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ○(الأنبياء: ۹۲)

دغه ستاسې امت په حقيقت کې يو امت دی او زه ستاسو رب يم، نو تاسې زما عبادت وکړئ.

قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:

ليسَ منَّا مَنْ دعا إلى عصبِيَّةٍ وليس مِنَّا مَنْ قاتَلَ علَى عصَبِيَّةٍ وليس مِنَّا مَنْ ماتَ علَى عصبِيَّةٍ. (سنن أبي داود)

څوک چې قوم پرستۍ ته بلنه ورکوي، زموږ (مسلمانانو) له جملې څخه نه دی، څوک چې د قوم لپاره جګړه کوي، زموږ څخه نه دی، او څوک چې د قوم پرستۍ لپاره ووژل شي، زموږ څخه نه دی.

ملت پالنه، قوم پرستي، Nationalism يوه استعماري او پردۍ راوړل شوې پديده ده چې د نژادي، توکميز، کلتوري او ژبني تعصب په توګه له اسلامي اصولو او قوانينو سره په ټکر کې ده؛ ملت پالنه د يو قوم پر نورو ټولو ملتونو د برترۍ او لوړواي باور او خپل قوم ته د مطلقې او غير مشروطې وفادارۍ او په خپل ملت د فخر کولو عقيده ده.

يحيی محمد الياس پخپل کتاب فکري جګړه کې نشنليزم داسې تعريفوي: نشنليزم يو فرد ته دا عقيده ور تلقينوي چې زما نسل تر ټولو غوره نسل دی، موږ تر ټولو غوره ملت يو او يوازينی قوم چې د حاکميت او تحکيم مستحق دي زما ملت دی. چې ښه مثال يې د هټلر په رهبرۍ نازيان دي چې د نن المان سبا جهان تر شعار لاندې يې ځانونه د نړۍ د تحکيم مستحقين ګڼل.

۱۹ او ۲۰مه ميلادي پيړۍ د معاصر نشنليزم زرينه دوره بلل کيږي چې په غرب کې لومړی ځل را منځته شوه؛ په اروپا کې د نشنليزم د خپراوي او را منځته کيدنې دوه لامله له ځانه سره لرل.

اول: له دين سره مخالفت

دوهم: دا پديده د دوی د فطرت يوه برخه وه.

د نشنليزم حرکت اروپا کې پيل شو، افراط پکې وشو او ورو–ورو او کرار_کرار د نړۍ د تسخير او نيولو لپاره د يوې بهانې په توګه وکارول شوه؛ ملت پالنه په جرمني کې نازيزم او ايټاليا کې د فاشيزم د حکومتونو د رامنځ ته کېدو لامل شوه؛ د فرانسې د انقلاب سره هم مهاله د ژوندی دې وي پاچا پر ځای ژوندی دې وي ملت جمله رايج او د ملت پالنې مفکورې وده ومونده.

د ۲۰۰ کلنو صليبي جګړو له مکررو ماتو بعد غرب پدې فکر وکړ تر څو د اسلامي امت معنوي شيان درک کړي؛ او د خپلو ماتو بدله په بديله لار واخلي، له زيات تحقيق او څيړنو بعد دې نتيجې ته ورسيدل تر څو په اسلامي نړۍ کې د خلافت پر ځای ديموکراسي، د امت د وحدت پر ځای نشنليزم او د شريعت پر ځای سيکولريزم وټپي؛ ددې هدف د تحقق په پار يې پيل وکړ.

ملت پالنه د ۱۹م پيړۍ په وروستيو کې اسلامي نړۍ ته د غرب لخوا د عيسوي مبلغينو او مستشرقينو پر مټ را وارده کړای شوه؛ د غرب له طرفه په اسلامي نړۍ کې د نشنليزم او ملت پالنې ترويج د دوه اهدافو د تحقق په پار تر سره شو.

لومړی: د مسلمانانو ويشل، تر منځ يې د اسلام پر بنا د رامنځته شويو اړيکو نړول، يو د بل پر وړاندې درول او يو پر بل د ځان لوړ او بهتر ګڼلو فکر ور تلقينول.

دوهم: د اسلامي هېوادونو استعمار، پدې اساس غربيانو د نړۍ پر نورو خلکو د لوړاوي او بهتريت فکر په درلودلو سره د اسلامي نړۍ د استعمار او شتمنيو لوټل د خپل ځان حق ګڼلو.

لکه د امریکا د خارجه وزارت وزیر کیسینجر Henry Kissinger په کال ۱۹۷۰م کې چې د خلیج هېوادونو د یو رهبر سره د تیلو د تړون پر سر یې څه لفظي جنجال راغی داسې الفاظ وکارول، موږ به د الله تعالی دا غلطي ور اصلاح کوو چې ماشینونه یې زموږ په هېوادونو یعنې غرب کې پیدا کړي، تیل او زیرمې ستاسو مسلمانانو په خاوره کې پیدا کړي؛ په هر قیمت چې وي دا زموږ حق دی درڅخه یې اخلو. (نعوذباالله من ذالک) اسلامي نړۍ ته د ملت پالنې د مفکورې د را لیږد وخت یو داسې وخت وه چې عثماني اسلامي خلافت کمزوری شوی و؛ د عثماني اسلامي خلافت آخري خلیفه سلطان عبدالحمید ثاني رحمه الله و؛ نوموړی عالم، د امت غمخوار، د قدس ساتونکی او مشفق رهبر و؛ پدې زماني مقطع کې په نړۍ کې یهود په پراګنده ډول هرې خوا ته پراته وه، واحد مرکز او هېواد یې نلرلو، صلیبیانو وغوښتل چې په یو غشي دوه ښکاره وکړي او دا د فتنو جرړه یهود له ځانه لرې او ځانونه د دوی له شره په امان وساتي، نو د یو پلان په نتیجه کې فلسطین چې د اسلامي نړۍ په زړه کې او همدارنګه یې دوی ته هم حیاتي ارزښت درلوده پیشنهاد کړ، یهودو هم په ورین تندي دې پیشنهاد ته لبیک وویل؛ ډاکتر تیودر هرتزل Theodor Herzl په ځلونو کوشش وکړ تر څو له خلافت څخه چې په رأس کې سلطان عبدالحمید ثاني رحمه الله وه په دوکه کولو سره د فلسطین خاوره وپیري مګر هر ځل ناکام شول؛ یهودو لدې ماتې او ناامیدی بعد د غرب په ملتیا د عثماني اسلامي خلافت نړولو ته ملتې را بډ وهلې؛ او د نشنلیزم شیندل شوي تخم ته یې په اوبه ورکولو شروع وکړه؛ د مصلحینو، تجارانو، علماوو او مسلمانانو په جامو کې یې د قافلو_قافلو اشخاصو د لیږد لړۍ پیل کړه؛ ترکانو ته به د دوی د دوست، غمخوار او مصلح تر نوم لاندې ورغلل او ورته به یې ویل چې چنګیز، تیمور، عثمانیان، د هند مغل او سلجوقیان ټول تاسو واست او پر نړۍ خصوصاً اسلامي نړۍ د تحکیم حق هم ستاسو دی، نورو ته اجازه مه ورکوئ، تل یې تر خپل تسلط لاندې ساتئ، محکوموی یې نو به ستاسو حاکمیت بقاء مومي، لدې بعد به عربانو ته ورغلل چې قرآن ستاسو په ژبه دی، پیغمبر ستاسو له ټبره ده، مکه او مدینه منوره ستاسو په خاوره او مالکین یې یاستی، خلفاء راشدین له تاسو څخه واست، اته پېړۍ د اسلامي نړۍ د رهبرۍ مرکز او اداره ستاسو په لاسونو کې وه او داد جنګیز اولاده ترکان اوس په تاسو حکومت کوي، خلافت خو ستاسو حق دی او باید یې بیرته ترلاسه کړئ.

پدې طریقه یې د ترکانو او عربو یا په بله اصطلاح د خلافت د مرکز او عربو تر منځ واټنونو را منځته کېدو ته لاره هواره کړه.

هغه مسیحي عربان چې د غرب په پوهنتونونو کې ورروزل شول، له لوړو او معتبرو اسنادو سره بیرته خپلو هېوادونو ته راستانه کړای شول، وزارتونه، ریاستونه، د حکومتونو کلیدي بستونه، اخبار، مجلې، تلویزونونه او هر څه یې په واک کې ورکړل، چې بیا همدوی د عربي نشنلیزم په نوم حرکتونه پیل کړل؛ غرب چې په رأس کې یې برتانیه وه عربي نشنلستانو ته ویل چې تاسو موږ سره د اسلامي عثماني خلافت په نړولو کې مرسته وکړئ، پوځونه مو زموږ په اختیار کې راکړئ، لیکوالان، شاعران او پوهان مو دیته وهڅوی چې د خلافت پر خلاف اشعار او لیکنې وکړي، په بدل کې به موږ تاسو ته یوه عربي امپراطوري جوړه کړو؛ او پدې سره غرب او نشنلیست عرب سره یو ځای او د اسلامي عثماني خلافت په نړولو یې پیل وکړ.

**په اسلامي نړۍ کې د ملتپالنې داعیان څوک وه؟!**

په حجاز کې شریف حسین او په شام کې شامات د ترکانو په ضد پاڅون وکړ؛ بل ابو خلدون ساطع حصري یو د نشلیزم د بارزو څېرو څخه شمیرل کېده.

مصطفی الشهابي به ویل هر څوک چې د عربي ملت پالنې په لار کې ووژل شي شهید ده؛ محمد معروف به ویل: عربان له عربي ملتپالنې مخکې په تباهۍ او ژورو تیارو کې وه؛ جمال عبدالناصر د مصر پاچا خو عربي ملت پالنه مقدس دین او بنسټیزه عقیده وګرزوله.

عبدالرحمن الکواکبي به ویل: چې باید د عثماني خلافت پر ځای د مکې مکرمې په ښار کې د یو عربي خلیفه تر نظر لاندې عربي خلافت او حکومت جوړ کړای شي.

لومړی ځل د امریکا او غرب په ملتیا په بیروت کې د عربي ملت پالنې د تقویې او پرمختګ ورکولو په تکل سازمانونه او ټولنې جوړې شوې، چې په رأس کې عربي عیسویان ورته ټاکل شوي وه.

د جنوب لویځې اسیا، شمالي او شمال لودیځې افریقا عربو لپاره د عربي اتحادیې په نوم ټولنه د انګلیسانو تر څار لاندې په ۱۹۴۵م کال مارچ په ۲۲ تأسیس شوه چې د بنسټ ډېره یې د برتانیې د لومړي وزیر انتوني اډن په

لاسونو کېښودل شوه چې اوس يې ۲۳ هېوادونه غړيتوب لري.

نور ګوندونه لکه د بعث ګوند، د قحطاني سازمان، د عرب ځوانانو ټولنه چې په پاريس کې د زده کړو په موخه جوړه شوه او مخفي کارونه يې کول، د عهد سازمان، د هنرونو او فنونو ټولنه چې د امريکايي تبشيري پلاوي لخوا تأسيس شوه.

ددې ټولنو او اتحاديو فعاليتونه دا وه چې غړي راجذب، ددوی تبليغات نشر او د نشنليزم فکر عام کړي. په نتيجه کې د غرب دې هڅو د اسلامي عثماني خلافت په زړه کې مصطفی کمال اتاترک وزيږاوه، مصطفی کمال اتاترک يو يهودی الاصله ترکی وه يعنې د ډونمه يهودو له جملې شخه وه چې په ظاهره يې ځان مسلمان معريفي کاوه مګر خپل کور کې به يې هماغه پخوانی يهوديت پاله.

اتاترک چې پوځ ته داخل شو ناڅاپي د جنرالی رتبې ته ورسېده او حيثيت يې په اسلامي نړۍ کې په لوړېدو شو، د خلافت په خاندان کې يې محبوبيت وموند، په کومه جګړه کې به چې اتاترک وه هلته به فتح د عثمانيانو په برخه وه، ماتې خوړلې جبهې ته به چې اتاترک ورغی ناڅاپي به تله ۱۸۰درجې واوښته او بريا به د اتاترک د پوځ په برخه شوه، د اتاترک برياوو او د صليبيانو نمايشي ماتو اتاترک د غازي او خالد بن وليد په لقبونو ونازاوه.

او د جګړو په ميدان کې به خلکو او پوځ نارې وهلې او ويل به يې: د ترکانو خالد بن وليد د عربو د خالد بن وليد تاريخ را ژوندی کړ.

پدې طريقه او د صليبيانو په همکارۍ اتاترک پوځ او خلافت کې ژور نفوذ وکړ، محبوبيت يې وموند او پر وړاندې يې چې هيڅ خنډ نشو پيدا نو يې د خپلې اصلي څيرې په را برملا کولو پيل وکړ، لومړی يې په ۱۹۱۰م کال د اسلامي امت او عثماني خلافت وياړلی خليفه او سلطان عبدالحميد ثاني رحمه الله عزل او پر ځای يې د نوموړي وراره وټاکه چې تش په نوم وه.

وروسته بلاخره په ۱۹۲۴م کال کې يې د عثماني خلافت رسمي لغوه اعلان او ځان يې د ترکيې حاکم اعلان کړ؛ د خلافت له لغوې سره سم يې اسلام هم لغوه اعلان کړ؛ له مساجدو يې موزيمونه جوړ کړل چې تر ټولو مشهور مسجد اياصوفيا وه چې د اسلام ستر غازي محمد الفاتح د قسطنطينيې له فتح بعد له عيسويانو پيرلی او په مسجد بدل کړی وه اتاترک په موزيم بدل کړ.

همدا رنګه د قران په چاپېدو بنديز ولګيده، په پوځ کې په لمانځه او تلاوت بنديز ولګيده، عربي رسم الخط ممنوع وګرزول شو، ۲۴ کاله ترکانو اذان وانه وريده او ورته به يې ويل که اذان کوی نو په ترکي ژبه به يې کوئ.

۲۴ کاله ترکان له حج څخه محروم وه؛ ايتاترک به ويل هغه کتاب نور د منلو وړ ندی چې د انځر او زيتون يادونه پکې شوې نعوذ بالله من ذالک.

د عمر په اخر کې الله تعالی په يو داسې مرض اخته کړ چې وجود به يې ويلې کېده او له همدې مرضه مردار شو، د نوموړي له هلاکېدو کلونه وروسته طبابت او ډاکټرانو وموندله چې ددې مرض دوا زيتون دی.

پدې توګه ايتاترک يوه داسې سيکولر ترکيه په ميراث پرېښوده چې د اسلام او ٦٠٠ کلن عثماني خلافت هيڅ اثر نه پکې تر سترګو کېده.

غرب او صليبيانو د عثماني خلافت په نړونه او استعمار هم بسنه ونکړه او لدې څخه په ويره کې چې امت بيا ځل متحد نشي نو يې د اسلامي هېوادونو د قومونو تر منځ د نفاق په تخم شيندلو پيل وکړ؛ مصريانو ته به يې ويل: تاسو خو عمرو بن العاص په زور او جبر مسلمانان کړی، تاسو خو اصل کې قبطيان ياست، څومره ستر او لرغونی تاريخ لری، دنيا ستاسو په تمدن سره پيل شوې، هرمونه، موميايي جسدونه، د نيل څپې مو هېر کړ؟! پدې دجل کې يې مصريان ښکيل کړل.

عراق کې يې بابلي نشنليزم ته وده ورکړه؛ ورته به يې ويل: ايا د حمورابي قانون مو هېر کړ؟!

تاسو خو د نړۍ د تمدن بنسټ ايښودونکي ياست.

او پدې طريقه يې د چې د اسلام تاريخ او ميراث د خلکو او مسلمانانو له ذهنونو حذف کړي، د پخوانيو قومونو د اثارو پلټولو باندې پيل وکړ، د ختې د جوړ بت قيمت يې ميليونونو ته لوړ کړ، د اوسپنې سکو، خوراکي ظروفو او نورو اثارو پلټنو او را پيدا کولو ته يې خلک هڅول تر څو مسلمانان د اسلام د تاريخ په ځای د جاهليت له تاريخه سره بلد او د هغوی په اصطلاح اصيل فرهنګ او ور پورې تړلې اړيکه ور معريفي کړي.

کله چې برتانيې اسلامي هندوستان مستعمره کړ؛ له ۱۹۰ کاله استعمار او لوټنو بعد چې کله بيرته وتل نو يې هغه اسلامي هندوستان بت پرستو هندوانو ته وسپاره، مسلمانانو

وغوښتل چې د خپل ځان لپاره یوه اسلامي جغرافیه ولري، اسلام حاکم وي او موږ یې تر چتر لاندې په امن او امان کې ژوند وکړو، پدې لار کې د لکونو مسلمانانو وینې توی شوې د پاکستان په نوم جغرافیه تشکیل شوه، مګر مسلمانانو خپل اتحاد ونشو ساتلای او بیا همدلته په دوه برخو وویشل شول چې یو د بنګله دیش په نوم هېواد تشکیل شو، چې په همدې لار کې لکونو مسلمانانو یو د بل وینې وبهولې، دا هېوادونه د اسلام په نوم جوړ شول مګر اسلام پکې حاکم نشو، بلکې هماغه د غرب او برتانيې قوانین حاکم پاتې شول.

د برتانیې هغه امپراطورۍ چې لمر پکې نه ډوبېده درې ځلې د افغان په خاوره کې د الله تعالی په نصرت ماته او درې ورې شوه، دوی پدې فکر وکړ چې د افغانستان او نورو مسلمانو ګاونډیو ورونو تر منځ داسې مشکلات ایجاد کړي چې تل لدې ناسوره وکړیږي؛ او زموږ سره بیا د مقابلې وخت ونه مومي.

د افغانستان او ایران تر منځ یې د فخري او مکمهان په نوم سرحدات تشکیل کړل چې تر ننه د اوبو او نورو مشکلاتو له امله یو د بل ګریوانونو ته لاسونه اچوي؛ همدارنګه ۱۸۹۳ م کال د برتانوي هند د بهرنیو چارو سکرتر مارتمیر ډیورنډ له خپل شپږ کسیز پلاوي سره کابل ته راغی او د چهلستون په ماڼۍ کې یې د وخت له حاکم عبدالرحمن خان سره د دوه مسلمانو ملتونو پر سینو د بیلتون او دښمنۍ مهرونه وټومبل؛ هغه دوه ورونه چې غم او درد یې یو وه، د دښمن پر وړاندې یې د یو بل نصرت کاوه، کله به لومړی مهاجر بل انصار وه او کله به دوهم مهاجر او لومړی انصار وه؛ د غرب په دام کې ښکیل شول، ورو-ورو د دواړو ملتونو تر منځ د نفاق، نفرت او دښمنۍ تخم شیندل کېده، دا تخم را شین شو، وده یې وکړه، ځوان شو او اوس په ثمر راغلی.

د مثال په ډول نن ورځ یو افغان ته د یو یهودي، امریکایي، چینایي او سور روسي نوم واخله دومره یې بده نه مني لکه له خپل مسلمان

د یو مسلمان ځوان تر ټولو لومړنی مسؤلیت دا دی چې د قوم پالنې او ژبنې تعصب د غولونکو او ویجاړونکو چینو پر وړاندې لکه کلک بند ودرېږي؛ قوم پالنه هغه زهرجن مرض دی چې د حبیب مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم په قول د جاهلیت بوی ترې پورته کېږي، مخلص او مجاهد ځوان باید د امت د لوېدلي جوړښت د راټولولو او بیا برم د فکرونو د غوړولو او د یووالي د رښتینې غېږې د پراخولو لپاره شپه او ورځ هڅه او کار وکړي ترڅو د ملي او ژبني تفریق تر پردو لاندې پټې شوې بدبختۍ له منځه یوسي او زړونه بېرته د امت د اتحاد او یوالي رڼا ته راوبولي.

پنجابي وروره چې بده وړي؛ همدارنګه یو پنجابي ته تر انګریز او بت پرست هندو خپل مسلمان پښتون ورور بدتر دښمن ښکاري.پدې طریقه کفارو د مسلمانانو تر منځ درزونه ایجاد کړل، او پداسې سرحدي جغرافیو کې یې بند کړل چې تر ابده به یو د بل دښمني پالي او له خپل ورور له نصرته به لاس په سر وي؛ یو بل به وژني، جنګونه به سره کوي او غربیان به د خیر په غونډۍ ورته ناست وي.

پدې حربه صلیبیانو د مسلمانانو اقتصادونه پخپل کنټرول کې واخیستل، زیرمې یې لوټ کړې، غربت یې پرې حاکم کړ او نور په سلګونو ناخوالو سره یې مخ کړل.

د افغانستان او پاکستان تر منځ د ډیورنډ په نوم سرحدي کرښې ددې دواړو ملتونو خلک یو د بل دښمنان وګرزول، د عراق، ایران او ترکیې تر منځ کردي مسئلې یو د بل رقیبان کړل، د ایران او سعودي تر منځ، د سعودي او یمن تر منځ د قطر او سعودي تر منځ، د مصر او سوډان تر منځ، د ایران او افغانستان تر منځ سرحدي کرښو او اوبو یو د بل پر وړاندې دښمنان وګرزول.

هغه وخت چې زموږ ولسونه سره متحد شول د کمونیزم مفکوره یې ونړوله، د کمونیزم او روس خلاف ستر جهاد وشو، وروسته له ۱۴ کلونو د وخت ابر قدرت جماهیر شوروي په ۱۵ ټوټو تقسیم شو چې د یو تاریخي شکست ترخه یې وڅکل.

موږ د کمونیزم پر خلاف یونیم میلیون شهیدان ورکړل، د همدې په دوه چنده تعداد مو زخمیان او معیوبین ورکړل، ٦ میلیونه افغانان ګاونډیو او نورو هېوادونو ته مهاجر شول چې هغه وخت کې د افغانستان دریمه برخه نفوس یې تشکیلاوه.

همدې قربانیو کمونیزم مات او اتحاد جماهیر شوروي په ۱۵ ټوټو وویشه؛ پر ځای ددې چې اسلامي نظام حاکم کړي، د شهیدانو له وینو سره وفا وکړي او یو الګو اسلامي حکومت را منځته کړي، پخپلو منځو کې ونښتل، د پښتون او فارسیبان په نوم یې د یو بل بې دریغه وینې

وبهولې، د کورت او قوروت په سر يو بل ووژل شول، د پيټي او سيده پزې په سر يو د بل سرونه له تنو بيل شول، له مسلمانو پيغلو تيونه پرې کړای شول، په سرونو کې ميخونه ټک وهل شول، په انسانانو رقص مرده تجربه کړای شو.

دا کارونه هغه چا کول چې ځانونه د روس خلاف د جهاد فاتحين معريفي کول، مګر د قوم پرستي او چوکۍ نيشې يې هر څه په اوبو لاهو کړل.

اسلام د نژادي او ژبنيو سرحدونو د ماتولو لپاره خپلو پيروانو ته د توحيد او اخوت لارښونه کوي، په اوسني پېچلي عصر کې د يو مسلمان ځوان تر ټولو لومړنی مسؤليت دا دی چې د قوم پالنې او ژبني تعصب د غولونکو او ويجاړونکو چينو پر وړاندې لکه کلک بند ودرېږي؛ قوم پالنه هغه زهرجن مرض دی چې د حبيب مصطفیٰ صلی الله عليه وسلم په قول د جاهليت بوی ترې پورته کېږي، مخلص او مجاهد ځوان بايد د امت د لوېدلي جوړښت د راټولولو او بيا برم د فکرونو د غوړولو او د يووالي د رښتينې غېږې د پراخولو لپاره شپه او ورځ هڅه او کار وکړي ترڅو د ملي او ژبني تفريق تر پردو لاندې پټې شوې بدبختۍ له منځه يوسي او زړونه بېرته د امت د اتحاد او يوالي رڼا ته راوبولي.

ځوان نسل د نوې نړۍ د استعماري، نشنليستي او تحريفي پلانونو تر مستقيم هدف لاندې دی؛ هلته چې د فکري جګړې او دجالي مکرونو ناپاکې وسلې د پټ نفاق تخمونه شيندي، د دې روښانه جګړې په ډګر کې د ځوان بيداري او بصيرت خورا حياتي دی ترڅو د کفارو د بې پروايۍ او د کلتوري تاړاک د جلوو ماهيت وپېژني او خپله ټولنه د هغوی له روحاني او فکري اغېزو خوندي وساتي، دا مبارزه يوازې يو ادعا نه، بلکې د الهي امانت پيروي او د هغو معنوي اغزيو ايستل دي چې د نفاق او درز جوړولو په نيت د امت په جسد کې دننه ايستل شوي دي، يوازې د الهي حبل المتين پر بنسټ رښتينی يووالی، ژوره پوهه او د دجالي افکارو افشا کول کولی شي امت له دغې پېچلې فکري اشغال او تورو تيارو څخه راوباسي.

****





## د جهاد او استشهاد په لار مزل...

# د امت د ټولو ستونزو حل

مولوي سعد طارق

موږ په داسې زمانه کې ژوند کوو، چې د اسلامي امت وضعیت زیات په کې خراب دی، د صهیون - صلیب ظلمونه او وحشتونه په خپل اوج کې دي، د الله تعالی شریعت غالب نه دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم شریعت چې د ټولو ستونزو حل په کې دی، پر نړۍ نه عملي کېږي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت وروسته دور ته که نظر وکړو، نو معلومه به شي، چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حرص دا وو، چې د الله تعالی پیغام تر قبائلو پورې ورسوي او د هغه صلی الله علیه وسلم د دعوت اساسي نکتې دا وې، چې د الله تعالی وحدانیت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم رسالت ومنئ او د هجرت په صورت کې پناه راکړئ او د جهاد پر مهال زما نصرت وکړئ. د مثال په توګه کله چې هغه صلی الله علیه وسلم د بنو عامر قبیلې ته د اسلام دعوت ورکړ، نو هغوی ورته ویل چې اې زموږ وروره ته موږ ته د څه شي دعوت راکوې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «زه تاسې ته ددې خبرې بلنه درکوم چې ماته پناه را کړئ او د جهاد پر مهال مې مرسته وکړئ»

له دې خبرې څخه موږ ته یو اصل څرګندېږي، هغه دا چې د اسلام د دعوت له پاره د یوې ځمکې تر لاس لاندې لرل ډېر زیات اړین دي، یو داسې ځای ډېر اړین دی، چې ته په کې د خپل پیغام بوټي وکرې او هلته داسې خلک موجود وي، چې دا بوټي اوبه کړي. نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د دعوت له پیل سره د داسې ځمکې تلاش پیل کړ چې مرکز یې وګرځوي او له هغه ځایه خپل پیغام خپور کړي. د رسول الله صلی الله علم خو د ټول انسانیت په تاریخ کې له بل چا سره نه و، نه شته او نه به چاته ورکړل شي، د هغه صلی الله علیه وسلم فصاحت هم همداسې د کمال درجې و، هغه صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی جوامع الکلم ورکړی و، خو له دې سره سره په مکه مکرمه کې د دیارلس کلن دعوت په نتیجه کې محدود شمېر صحابه کرامو رضی الله عنهم اسلام قبول کړ، له دې څخه ښکاري، چې د «توحید د کلمې» د تاثیر باوجود ځینې عناصر نور هم شته، چې د دعوت د خپرولو له پاره ډېر زیات اړین دي. بیا الله تعالی د مدینې منورې ځمکه ورته مسخره کړه، انصارو د هغه صلی الله علیه وسلم دعوت قبول کړ، نو په څو کلونو کې په سلګونو خلک د اسلام دائرې ته داخل شول. له دې څخه دا معلومېږي، چې د دعوت شاته د یوه قوت لرل اړین دي او باید په مختلفو خاورو او ځایونو کې قوت ولټول شي. دا پیغام زموږ او ستاسې په دې زمانه کې لا ډېر واضح دی، ځکه د نړۍ له شرقه تر غربه له اسلامي امارت پرته بله داسې ځمکه نه شته چې د اسلام قوت په کې څرګند وي، که څه هم مدرسې، خانقاوې او مساجد په زرګونو دي. دا حالات داسې ولې دي؟ ځواب معلوم دی، ځکه چې خلکو د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پر دین عمل پرېښی دی، حال دا چې دا دین او لار یې ډېر واضح او اسانه دي او په شرعي نصوصو کې یې په ډېرو ځایونو کې ځانګړتیاوې بیان کړې دي. الله تعالی فرمایي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَلاَ يَخَافُونَ لَوْمَةَ لآئِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (سورة المائدة:۵۴)

اې مؤمنانو! که ستاسې څخه څوک له خپل دين څخه واوړي (نو وادې وړي)، الله به نور ډېر داسې خلک پيدا کړي چې الله ته ګران وي او الله هغوی ته ګران وي، چې له مؤمنانو سره به نرمي کوي او پر کافرانو سختي، چې د الله په لار کښې به جد وجهد وکړي او د هېڅ ملامتوونکي له پړې اچولو څخه ونه وېرېږي. دا د الله فضل دی، چاته يې چې خوښه شي ورپه برخه کوي يې، الله د پراخه وسايلو څښتن او پر هر څه پوهېږي.

دا آيت زموږ او ستاسې د اوسنيو حالاتو ډېره ښه ترجماني کوي، چې کله له دين څخه مخ واړول شي، نو هغه کوم صفات دي، چې دين ته د ور ګرځېدو له پاره اړين دي؟ په دې آيت کې الله تعالی پنځه صفات بيان کړي دي، نو پر موږ او تاسې لازمه ده، چې په خپلو ځانونو کې دا صفات پيدا کړو.

له الله تعالی سره مينه

له مسلمانانو سره نرمي کول او د رحم رويه اختيارول

په نيکي نصيحت کول

له کفر سره په سختي باندې مخامخ کېدل (دا صفات د اسلام د يوې مهمې عقيدې «موالات او معادات» له اصل سره تړاو لري، چې مؤمن يوازې له مؤمنانو سره دوستي کوي او له کفارو سره دښمني کوي.)

پنځم صفت دادی، چې الله تعالی فرمايي:«د الله تعالی په لار کې جهاد کوي او د کوم ملامتي ويونکي له ملامتي څخه نه وېرېږي.» نو د الله تعالی په لار کې د ملامتي ويونکي له ملامتي څخه نه وېرېدل او د خلک د الله تعالی د دين په لور را بلل دوه ډېر مهم صفات دي.

هغه خلک چې فکر کوي، پر ځمکه به د اسلام له سايې پرته د دين دعوت وکړي او اسلامي حکومت به قائم کړي، نو دا د هغوی خام فکر دی او يقيني خبره ده چې هغوی د دين د منهج او مسير صحيح او سالم فهم نه لري. که موږ دا صفات په خپل ځان کې پيدا کړو، نو موږ به د شريعت د غلبې له پاره يو قوي اساس په لاس کې ولرو.

ددې موضوع اړوند يو حديث له حضرت حارث الاشعري رضی الله عنه روايت شته، هغه رضی الله عنه فرمايي:

«الله تعالی حضرت يحيی عليه السلام ته پر پنځو خبرو باندې د عمل کولو او بني اسرائيلو ته د تبليغ کولو حکم وکړ، خو هغه په دې امر کې تاخير وکړ، نو حضرت عيسی عليه السلام ورته وفرمايل: الله تعالی تاته پر پنځو خبرو د عمل او تبليغ کولو امر کړی و، نو اوس که ته غواړې دعوت يې ورکړې او که نه، زه يې دعوت کوم.»

دلته يوه مهمه نکته ده، هغه دا چې الله تعالی له هر شي څخه بې پروا دی او د تبديلي سنت هم هيڅ استثناء نه لري. لکه څنګه چې موږ وليدل، د الله تعالی په انبياوو عليهم السلام کې يوه په خپل کار کې لږ ځنډ وکړ، نو الله تعالی بل نبي ته وحی وکړه، چې «که هغه د الله تعالی پيغام رسوي او که نه، ته يې ورسوه.» نو موږ څوک يو، چې د الله تعالی پر احکامو به عمل نه کوو او الله تعالی به زموږ پر ځای بل څوک نه راولي. (دحضرت عيسی عليه السلام ددې خبرې په ځواب کې) حضرت يحيی عليه السلام وويل، چې زه وېرېږم، چې ته به له ما څخه مخکې شې، نو زه به په عذاب کې مبتلا شم. نو يې ټول خلک په بيت المقدس کې سره را ټول کړل، تر دې چې مسجد له خلکو څخه ډک شو. نو هغه وويل: الله تعالی ماته د پنځو خبرو حکم کړی دی، چې زه به خپله هم عملورباندې کوم او تاسې ته همورباندې د عمل کولو حکم کوم.

لومړۍ خبره داده، چې د الله تعالی عبادت وکړئ او له هغه سره هيڅوک شريک مه نيسئ، چاچې له الله سره بل څوک شريک کړ، د هغه مثال داسې دی، لکه يو سړی چې په خپل خالص مال (سرو زرو وغيره) باندې يو غلام واخلي او هغه ته ووايي، دا زما کور دی، دلته کار کوه او ماته فائده ورسوه. خو هغه غلام د خپل مالک پر ځای بل چاته ګټه رسوي، نو آيا په تاسې کې به څوک وي، چې پر داسې غلامي راضي شي.

همدا راز الله تعالی تاسې ته د لمانځه حکم کړی دی، نو کله چې تاسې لمونځ کوئ، بل لوري ته توجه مه اړوئ، ځکه الله تعالی خپله څېره د هغه بنده په لور اړوي، چې په لمانځه کې بې توجهي نه کوي.

او د روژې حکم کوي، چې مثال يې داسې دی، لکه له يوه سړي سره چې له مشکو څخه ډک لوښی وي، نو هر څوک هغه او د هغه خوشبو خوښوي. په داسې حال کې چې د روژه نيونکي د خولې بوی الله تعالی ته تر مشکو زيات خوښ دی.

او تاسې ته د صدقې حکم درکړل شوی دی، چې مثال یې داسې دی، لکه یو څوک چې دښمن بندي کړی وي او د هغه لاسونه وتړي او د وهلو له پاره یې مخته کشوي او صدقه هغه بچ کړي. (مفهوم)

او د الله تعالی ذکر کوئ، ځکه د الله تعالی ذکر انسان له شیطان څخه داسې ژغوري، لکه د دښمن پر وړاندې چې کلا د انسان ساتنه کوي. پر دې خبره په اضافې سره رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: او زه تاسې ته د پنځو خبرو حکم کوم، د کومو چې الله تعالی ماته حکم کړی دی[1]:

- سمع
- طاعت
- هجرت
- جهاد
- او جماعت

له دغه حدیث څخه موږ ته څرګنده شوه، چې په پیل کې له یادو شویو پنځو شیانو څخه مقصد د اسلام ارکان دي (چې بې له هغو ایمان نه پوره کېږي)، خو له وروستیو پنځو شیانو پرته بیا د اسلامي خلافت بنسټ نشي اېښودل کېدای. دا کټ مټ داسې ده لکه یو انسان چې پخپل ځان او زړه کې د اسلام په شتون اقرار وکړي، خو پخپل ژوند او عمل کې د غیر الله قوانین او احکام پلي کړي. په داسې حال کې چې د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم اسلام خو دا حکم کوي چې په نړۍ کې باید یوازې د اسلام حکومت قائم وي؛ ځکه اسلام یوازې د ځینو مذهبي او عبادتي مراسمو نوم نه دی. له همدې امله په وروستیو پنځو شیانو باندې عمل کول خورا اړین دي.

نو کوم خلک چې غواړي د الله په لاره کې د هجرت او جهاد له قربانیو پرته دې اسلام تطبیق شي، نو بې شکه هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لارښوونو په اصلي روح نه دي پوه شوي؛ او که پوه شوي هم دي، نو د هغو د تطبیقولو پر ځای یې ځانونه په نورو اسانه عبادتونو مصروف کړي دي، ځکه د جهاد کول ورته سخت کار ښکاري؛ لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی پخپل کتاب کې د دغه ډول چلند او رویې یادونه کړې ده. د کفارو همدا هڅه ده، چې د مسلمانانو هیڅ اسلامي حکومت قائم نشي.

نن ورځ ډېر داسې خلک په نظر راځي، چې وایي چې ټول امت ته اړتیا نشته چې د جهاد لپاره ووځي، دا خبره بې شکه حق ده، خو حقیقت دا دی چې د دې خبرې د بیانولو اصلي موخه او نیت سم نه دی. دا خبره سمه ده چې د فرضِ کفایه په حالت کې ټول امت ته د جهاد لپاره د وتلو اړتیا نشته، ځکه له دښمن سره د مقابلې لپاره د امت یوه ډله هم بسنه کوي. خو د دې معنی دا نه ده چې د فرضِ عین حکم هم همداسې دی، حال دا چې کله دښمن د مسلمانانو پر ځمکو د فساد د خپرولو په نیت حمله وکړي، نو د هغه پر وړاندې قتال له ایمان راوړلو وروسته تر ټولو مهم کار دی. په داسې حال کې چې د فرضِ عین حکم په هغه وخت کې پای ته رسېږي او په فرضِ کفایه باندې بدلېږي کله چې له دښمن سره د مقابلې لپاره ځواک او قوت پوره وي.

حضرت کعب رضي الله عنه په مدینه منوره کې اوسېدی او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پوره اطاعت یې کاوه. (په داسې حال کې چې په حدیث شریف کې د دې خبرې ذکر دی، چې په مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم کې عبادت کول د الله په لاره کې له جهاد سره برابر دي). له دې پرته حضرت کعب رضي الله عنه له سابقینو اولینو څخه و او په بیعت عقبه کې هم شامل و، چې د اسلام په تاریخ کې ډېر زیات اهمیت لري؛ په لنډه توګه دا چې هغه یو جلیل القدر صحابي و، خو د تبوک د غزا په موقع کې چې هغه د اسلام له لښکر څخه شاته پاتې شو، نو هیڅ چا دا ونه ویل چې: «دا څه خبره ده، تاسې خو په مدینه منوره کې اوسېږئ نو جهاد ته څه اړتیا ده؟» او یا دا چې: «ته خو په حرم شریف کې لمونځونه کوې او درسونه ورکوې، له همدې امله ستا درجات او مرتبې له مجاهدینو څخه هم لوړې دي». نه! داسې هیڅ کومه خبره ونه شوه؛ بلکې تر پنځوسو ورځو یې توبه هم قبوله نشوه.

په اسلامي امت او تر هغه وړاندې تېرو شوو امتونو کې هم چې هر چا له جهاد څخه مخ اړولی دی، د هغوی په اړه همدا ډول مفاهیم په قرآن مجید کې راغلي دي. کله چې د حضرت موسی علیه السلام قوم هغه یوازې پرېښود (او غزا ته له تلو یې انکار وکړ)، نو الله سبحانه و تعالی هغوی هم فاسقان وبلل:

[1] رواه احمد والترمذي

قَالَ رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِي وَأَخِي فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ○(سورة المائده: ۲۵)

«موسی وویل: اې زما ربه! زه له ځان او خپل ورور پرته پر بل چا واک او اختیار نلرم، نو ته زما او د دغو فاسقانو (نافرمانو) خلکو ترمنځ جلاوالی راوله».

همدا راز د تبوک په غزا کې له لښکر څخه شاته پاتې شوو کسانو ته هم فاسقان ویل شوي دي. خو نن ورځ حالت دا دی چې د دین له ملاتړ او نصرت څخه شاته پاته کېدونکي کسان ځانونه ګناهګار نه ګڼي، بلکې برعکس ځانونه ډېر د طاعت او امر منلو خاوندان بولي؛ هغوی د خپلې دغې ګناه په بدوالي نه پوهېږي، چې په غندنه کې یې ګڼ شمېر قرآني ایاتونه نازل شوي دي. دا داسې ایاتونه دي چې د جهاد تحریض کوي، له هغه څخه د شاته پاتې کېدونکو کسانو غندنه کوي او په دنیا پورې نښتو کسانو ته بد وایي.

خو دا غندنه د چا ده؟ دا پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام رضي الله عنهم دي چې ورته سخته خبره کېږي چې «اې د ایمان خاوندانو تاسې ته څه در پېښ شوي دي؟» او په لاندې ډول تنبیه او ملامتیا ورته کېږي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ (سورة التوبة: ۳۸)

«اې د ایمان خاوندانو! تاسې ته څه در پېښ شوي دي، کله چې تاسې ته وویل شي چې د الله په لاره کې (د غزا لپاره) ووځئ، نو تاسې په ځمکه پورې دروندوالی کوئ؟ ایا تاسې د آخرت په بدل کې د دنیا په ژوند راضي شوي یاست؟ په داسې حال کې چې د دنیا د ژوند مادي ګټه د آخرت په پرتله خورا لږ او ناڅیزه ده».

نن زموږ په منځ کې شوک دا جرات کولای شي چې خپل پلار، تره یا استاد ته ووایي چې ایا تاسې د دنیا په ژوند راضي شوي یاست؟ ایا تاسې فلسطین نه وینئ چیرته چې له ۸۰ کلونو راهیسې جهاد روان دی او تاسې یوه مرمۍ هم نه ده ویشتلې او ستاسې پښې یو ځل هم په دې لاره کې په خاورو نه دي لړل شوې؟ داسې ولې دي؟ ځکه چې تاسې د دنیا په ژوند راضي شوي یاست. خو هیڅ شوک داسې نشي ویلای، د دې علت د دین له سمې لارې څخه ناخبري ده، که څه هم په دې اړه خورا ډېر قرآني ایاتونه شته.

دویمه ستونزه دا ده، چې کوم ځوانان د دین لپاره د قربانۍ ورکولو جذبه لري، له بده مرغه په هغوی کې د سمع او طاعت کمی دی، نو ځکه د قائد او مشر خبره نه اورېدل کېږي او نه یې اطاعت کېږي او په دې توګه دا ډول چانسونه هم ضایع کېږي. دا ځوانان په بېلابېلو فرضِ کفایي کارونو کې لګول کېږي لکه د علم حاصلول؛ خو پوه شئ که چېرې ټول خلک هم عالمان شي، په نړۍ کې به دین قائم نشي. ځکه دین یوازې په هغه حالت کې قائمېدای شي، کله چې د سمع او طاعت، نصرت او جهاد پر شرعي اصولو باندې پوره عمل وشي. ځوانان باید په دې پوه شي چې د دین په فهم او درک کې یوه لویه تېروتنه روانه ده او په هغوی کې داسې صفات پیدا کېږي چې الله سبحانه و تعالی یې یادونه د جهاد پرېښودونکو په غندنه کې کړې ده او الله هغوی ته فاسقان ویلي دي.

نو کوم خلک چې له غزا او قتال څخه له شاته پاتې کېدونکو کسانو سره ناسته خوښوي، بې شکه هغوی پوهه نلري، که څه هم هغوی له غوره او نړیوالو پوهنتونونو او مدرسو څخه زدکړې کړې وي او د ټولې نړۍ خلک له هغوی څخه فتوا اخلي، بیا هم هغوی حقیقي علم نلري؛ ځکه دا د الله جل جلاله فرمان دی، چې:

رَضُوا بِأَن يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ (سورة التوبة: ۸۷)

«هغوی په دې خبره راضي شول چې له شاته پاتې کېدونکو (ښځو او معذورانو) سره ناست پاتې شي، د هغوی پر زړونو مهرونه لګول شوي دي، نو ځکه هغوی په هیڅ شي نه پوهېږي».

نو هغه مفتي اعظم چې د ډېرو کتابونو مؤلف هم دی، په هیڅ نه پوهېږي؛ ځکه له چا سره چې حقیقي علم وي، هغه له الله تعالی څخه وېرېږي. لکه څنګه چې یوې ښځې یوه عالم ته وویل: «اې عالمه!» نو هغه په ځواب کې ورته وویل: «عالم هغه شوک دی چې له الله څخه وېرېږي.» علم دا نه دی چې له تاسې سره خورا ډېر روایتونه او نقلونه وي، بلکې علم دا دی چې تاسې په وېره، خشوع او تقوا سره د الله عبادت وکړئ. په پورته یاد شوي ایات کې د الله د حکم مطلب دا دی، چې که چېرې دغو کسانو لږ علم درلودای او په زړونو کې یې کلک

ایمان وای، نو د الله د رضا د ترلاسه کولو لپاره به د نېکیو لور ته په منډه تلل.

پر همدې موضوع باندې یو بل حدیث شریف هم شته چې حضرت حذیفه رضي الله عنه روایت کړی دی. هغه فرمايي: خلکو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د خیر په اړه پوښتنې کولې، خو ما له دې وېرې چې هسې نه په شر کې ښکېل شم، د شر په اړه پوښتنه وکړه. ما وویل: یا رسول الله! موږ په جاهلیت او شر کې وو، نو الله ستاسې په برکت موږ ته خیر راورساوه، ایا له دغه خیر څخه وروسته بیا هم کوم شر شته؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو! ما وویل: ایا تر دغه شر وروسته بیا هم کوم خیر شته؟ هغه وفرمایل: هو، خو په هغه کې به لوگی وي. ما عرض وکړ: ایا له دغه خیر څخه وروسته بیا هم کوم شر شته؟ نو پیغمبر علیه السلام وفرمایل: هو او هغه دا دی چې داسې کسان (علماء) به وي چې د دوزخ پر دروازو به ولاړ وي، څوک چې د هغوی بلنې ته ځواب ووايي، هغوی به پکې وغورځوي.[۲]

نو لکه څنگه چې تاسې وینئ، نن ورځ په اسلامي نړۍ کې دا شر په خورا بد ډول خپور شوی دی. هغه داسې چې د عربو او اسلامي نړۍ واکمنان د خپلو رسنیو او نورو ادارو په مرسته خطرناک افکار، او مادي او کفري قوانین عاموي. په دې توگه هغوی سهار او ماښام خلک د جهنم د دروازو لور ته رابولي (ولا حول ولا قوة الا بالله). په هر لوري، راډیو، تلویزیون او اخبارونو کې د الله او د هغه د رسول پر وړاندې کفر خپرېږي او هیڅوک نشته چې د دغه منکر مخه ونیسي! همدا خو هغه مشران او ائمه دي چې خلک جهنم ته رابولي. په دغسې حالاتو کې موږ ته څه کول پکار دي؟

حضرت حذیفه رضي الله عنه هم د خپلو پوښتنو په جریان کې کله چې دغه حالت ته ورسېد چې «د خلکو مشران به هغوی دوزخ ته رابولي»، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې وپوښتل: کله چې داسې حالات وي نو څه باید وکړو؟ پیغمبر علیه السلام وفرمایل: «د مسلمانانو یوې ډلې ته پکار دي چې د هغوی پر وړاندې د مقابلې لپاره ودرېږي».

اسلامي امت هیڅکله په دې کچه په داسې یوه لویه فتنه کې نه و ښکېل شوی، لکه څنگه چې اوس دی. ځکه که پخوا به کومه بدي په مسلمانانو کې داخلېدله، هغه جزوي او محدوده وه؛ یعنې یوازې پر څو کسانو یې اغېز و. خو د ټولنیزو رسنیو او معلوماتي وسائلو له امله نن دا فتنه عامو خلکو ته رسېدلې ده؛ ځکه د دغو رسنیو یوه نه یوه وسیله (لکه موبایل، تلویزیون او داسې نور) په هر کور کې شتون لري، نو ځکه له دغې فتنې څخه هیڅوک خوندي پاتې نه دي. پخوا به داسې وو که چېرې کوم عالم گمراه کېدی، نو د هغه افکار به په یوه محدوده سیمه کې پاتې کېدل او یا که پاچا به فاجر او فاسق شو، نو د هغه فجور به یوازې تر خپل قصر او محل پورې محدود و. خو نن ورځ ټول خلک د طاغوتي نظام غلامان شوي دي او د اسلام په تاریخ کې داسې حالت پخوا کله هم نه دی پېښ شوی.

کله به چې د دین څخه د لیرېوالي یا د عقائدو د خرابۍ کومه اندېښنه پیدا شوه، نو د مسلمانانو یوه ډله به داسې وه چې په خپلو هڅو به یې دا بې لارې او خرابوالی بېرته سماوه؛ خو نن د امت مشران، علماء او فقهاء ټول د طاغوت تر اغېز او ولکې لاندې دي، پرته له هغو د گوتو په شمار علماوو څخه چې الله جل جلاله پرې ځانگړې کرم او لورینه کړې ده. د دغو علماوو دلیل دا وي، موږ د حق خبره نشو کولای؛ ځکه کله چې موږ غواړو حق ووایو، زموږ ذهنونه په کورونو کې د خپلو اولادونو او مېرمنو لپاره اندېښمن او پریشان شي چې هغوی به بیا چېرته ځي؟ او زموږ به څه حال کېږي؟ خو اخري خبره داده، چې د امت ددې ټولو بد بختیو او ناخوښه حالاتو سرچینه له جهاد څخه مخ اړول او د اسلامي خلافت د قائمولو له فریضې څخه شاتگ دی.

و إنه لجهاد؛ نصرٌ أو استشهادٌ

****

[۲] متفق علیه



## ستر او حجاب
## د جنتیانو
## نښې دي.

@HMIH_22

محمد اسماعیل

نکته !

ډېر هغه څه چې الله تعالی دنیا کې پرمسلمانانو حرام کړي جنت کې هغه ورته روا دي، خو یو له هغه څېزونو نه چې جنت کې هم نشته عریانیت او بې ستري ده، لوی رب متعال فرمایي:

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ (سورة طه:۱۱۸)

«دلته خو تاته دا هوساینې شته چې نه وږی او نه بې کالیو اوسیږې»

بل ځای کې فرمایي:

حُورٌ مَّقْصُورَٰتٌ فِي الْخِيَامِ (سورة الرحمن:۷۲)

«په خیمو کې دیره (اوسېدلې) حورې»

**له دې د عریانیت زیاته بدي څرګندیږي.**




# زه کابل ابادېدونکی وینم!

حسن ترابي



یادونه

دا لیکنه د یوه مهاجر مجاهد «حسن ترابي» په لاس لیکل شوې ده، داسې یو ځوک چې د افغانستان په جغرافیه کې یې د نورو مجاهدینو ورونو سره یوځای تشکیلونو تېر کړي او د امریکا په مشرۍ د صلیبي اشغالگرو پر وړاندې د جهاد سعادت ورته په برخه شوی دی. نوموړي څه کم درې کاله مخکې د یوه داسې مسلمان او مجاهد په توگه چې یوازې د الله تعالی د دین په خاطر له اسلامي امارت او افغانانو سره اړیکه لري خپل احساسات او نېکې مشورې د قلم په ژبه بیان کړي دي، د بت شکن اداره یې د ټولو پښتنو او په ځانگړې توگه د افغانانو د گټې لپاره په پښتو ژبه ژباړي او نشروي.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفى والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء سيّدنا محمد وعلى آله وصحبه وذريته ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد!

**«بابا...... راځه! اول هدیرې ته ځو...... زه له شهید نیاز محمد ابا سره د اختر مبارکي کومه!»**

دا د ۱۴۴۲ هـ په کوچني اختر کې د پنځه کلن زبیر کلمې دي.

څلور کاله وړاندې د افغانستان د غزني ولایت د غزني ښار د بسراق قول د یوه کلي اوسېدونکی، نیاز محمد له «غازي» څخه د «شهید» درجې ته ورسېد او خاورو ته وسپارل شو. زبیر په دغه وخت کې په سختۍ د څلېدو په عمر کې و، یو کلن یا له دې څخه یو څه زیات یا کم. زبیر ته سږ کال د دې احساس وشو چې «پلار» هم د «څه شي» نوم دی. که نه نو، د دغه د ژوند په کاروان کې د دغه بابا یعني نیکه، انا، کاکا، عمه گانې او له هغه څخه درې کاله مشره خور ناهیده وه. د خپل کاکا قاري عظمت الله د اولادونو لیدلو، چې له خپل پلار سره نښتل، په غاړه یې ور ځړېدل، پر اوږو یې ختل او مچوگانې به یې ترې اخیستلې، زبیر د «پلار» په نوم د یوې داسې رشتې له احساس سره اشنا کړ. بیا د پلار په اړه د پوښتنې په کولو ورته وویل شول چې ستاسې ابا له امریکایي پوځ سره په جگړه کې شهید شوی و. بیا پر دې پوښتنه چې په شهادت رسېدو سره د پلار روح خو ابدي، ښاد او خوشحاله ژوند موندلی دی (ځکه زبیر د پلار له رشتې سره د اشنا کېدو وړاندې د شهید له مقام سره اشنا و) نو د هغه د پلار قبر چېرته دی؟ د اوښکو په پاکولو سره، د تنکي زبیر پر دواړو اننگو باندې له عاطفې څخه د ډکو، لړزېدونکو، زړو لاسونو په اېښودلو سره د هغه نیکه حاجي محمد زمري ورته وویل چې د نیاز محمد ابا قبر د بسراق قول په هدیره کې دی.

اوس چې اختر راغی، نو له ټولو سره یې د اختر مبارکي وکړه، عیدي یې هم واخیسته، خو له خپل ابا نیاز محمد سره یې هم لیدل پکار وو. نو د بابا لاس یې ونیو او د هدیرې د تللو فرمایش یې وکړ. د بابا زړه ورته وچاودېده، د زړه درزا یې دومره تېزه شوه چې شاید رگونه یې شلولي وو. بابا د دوو ځوانو زامنو جنازې پورته کړې وې. لومړی د جلال الدین چې په کنړ کې شهید شوی و او بیا د نیاز محمد، خو د زبیر کلمې پر بابا باندې تر دغو جنازو هم ډېرې درنې وې.

دا رښتینې کیسه ده، د رښتینو خلکو. په دې کې د درواغو او تصنع هیڅ گډون نشته. دا کومه افسانه یا دردناکه شاعري هم نه ده.

دا کیسه د افغانستان د هر ولایت د هرې ولسوالۍ د هر کلي او د هر کور کیسه ده. دا د نن ورځ اباد کابل هسې هسې نه دی اباد شوی. د لکونو زبیرانو په وینو ککړو اوښکو او د لکونو زبیرانو د پلرونو وینو د کابل، غزني او کندهار گلابونو ته رنگ او سرخي وربخښلې ده. په افغانستان کې د دښتې گلونه داسې په خپله نه دي سره شوي!

زه دوه کاله په دې هڅه کې وم چې د «زه کابل ابادېدونکی وینم»، فکر په لیکلو کې راولم، خو دغه فکر د ذهن له حاشیې څخه د کاغذ پر مخ نه شوای انتقالېدلی. د دې کتاب مرکزي فکر زما ذهن ته د غزني ولایت د گیرو او اندړو ولسوالۍ پر پوله په یوه جومات کې راغی، کله چې ما، زما شیخ او امیر او یو بل ملگري د شپې په کور کې وخت نه شوای

تېرولی، د امریکايي ډرون الوتکو پرواز خورا تېز و، د چاپې اچولو وېره وه او زړه په ستوني کې بند و. بیا مې د دې کتاب د منځپانګې او موضوعاتو په اړه څو میاشتې فکر کاوه او همداسې یو بل پوره کال هم تېر شو. یو کال تېر شو او اوس زه په یوه جهادي تشکیل باندې د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې وم. د ښه اتفاق له مخې د پکتیا ولایت والي صاحب کټ مټ هغه کور ته راغی چېرته چې زه له خپل کوره لېږي، یو ځل بیا د ډرون د خورا تېټ پرواز او د امریکايي چاپې د خطر له امله پناه اخیستونکی وم. بیا له حاجي والي صاحب سره د څو ورځو د تېرولو موقع په لاس راغله.

فراغت و، په جېب کې قلم هم و او د کاغذ دوې پاڼې هم. له حاجي والي صاحب څخه مې د اسلامي امارت د اداري چوکاټ د پوهېدو هڅه وکړه، د کمېسیونونو وېش چې وروسته پر وزارتونو بدل شول، د پوهېدو کوښښ مې وکړ. د دغو وزارتونو نظام، د والیانو او ولسوالانو واک او اداره، د نظامي او ملکي اداري وېش، د قضا او عدالت نظام، د ګمرکاتو نظام او داسې نورو په اړه مې پوښتنې وکړې او له ځان سره په شته د کاغذ پر دوو پاڼو مې د ټکو او فلو چارټونو په بڼه لیکل. خو له بده مرغه، زما دا دوې قیمتي پاڼې ورکې شوې او په حافظه کې شته ټکي په هغه زمانه کې د «إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ»[1] په مصداق د دښمن له لوري د چاپو وېرې، د جاسوسانو تعاقب او د ډرون پرله پسې بنګهار وخوړل، قدر الله و ما شاء فعل! ژوند الحمد لله د الله په لاره کې په جهاد کې د «وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ»[2] په څېر تېرېده، تر هغه چې کابل په رښتینې توګه اباد شو، فتحه شو. د کابل له فتحې وروسته هم ما څه نه شوای لیکلی. د فکر او څېړنې کمښت و او د قلم کمزوري. له دغو عوارضو سره کله د «کتاب» د لیکلو هوډ بشپړېږي؟

خو د زبیر شوخ طبیعت، د هغه خندا، د هغه تبسمونو او شرارتونو زما د قلم کمزورۍ ته ځواک وبخښه. د فکر او تحقیق کمښت اوس هم خورا ډېر دی. خو د زبیر په تبسمونو کې پټو اسوېلو او د سترګو د شرارت تر شا ځلېدونکي غم زه مجبور کړی یم.

نن د ۲۰۲۱ زېږدیز کال د سپټمبر پر ۱۶مه، بالاخره زه د خپلو افکارو د راټولولو په نیت په منظم ډول کېنناستم.

«زه کابل ابادېدونکی وینم» د احساساتو او مشاهدو یوه مجموعه ده. خو ما خپل فکر او قلم یوازې د احساساتو او جذباتو په ډګر کې بې لګامه نه دي پرېښې. زه د «اسلامي خلافت» د ابادولو لپاره څو خښتې، ډېرې او خټه ورل غواړم. د افغانستان خلکو په کومو ستونزو، مشقتونو او هڅو چې «اسلامي امارت» قائم کړی دی، زه د دغه امارت د ودانۍ د رغېدو څو ځلېدونکې بېلګې خوندي کول غواړم. زه په خپل بې ارزښته کامره د «اسلام د مینې» د تاج محل څو انځورونه د خپلو خلکو په خاطر خوندي کول غواړم.

زه د دې هڅې انتساب د حکیم الامت فضیلة الشیخ ابو محمد ایمن الظواهري په نوم کوم، چا چې د خپل ژوند مقصد د الله د رضا په خاطر اسلامي امت ته د عزت او بریا د لارې او منزل؛ یعنې د جهاد او خلافت علي منهاج النبوة لور ته په بللو کې تېر کړ. زه دا هڅه د خپلو اولادونو، وریرونو، وریرېګانو، خوریانو او خورزېګانو 'ا'، 'ش'، 'ع' ، 'ح' ،'ع'،'ا'،'آ'، 'و'، 'ا'، 'م' او 'ع' په نوم کوم، د خپلو شهیدانو او ژوندیو سکنیو او نسبتي ورونو او خویندو په نوم، د خپلو محترمو مور او پلار په نوم چا چې د خپل زړښت همدا یوازینی ملاتړ د الله په لاره کې وقف کړ. د خپل شهید خسر صاحب او خواښې صاحبې په نوم. د خپل مسلم امت د ځوانانو په نوم. زه دا هڅه منسوبوم د سکنیو مینو څخه ډېر محبوب د امت د الطائفة المنصورة عالیقدره مجاهدینو او د خپلو هغو ملګرو او لوڼ نظره، په زړه پورې ژبې او پر سوزه ځان لرونکو امیرانو په نوم، چا چې په تورو تروږمیو شپو کې د امت، په ځانګړې ډول برصغیر د خلکو په لاره کې له خپل شدید ترین ضعف او بې وزلۍ سره سره په خپلو وینو او خولو د رڼا څراغونه بل وساتل. دا هڅه زه د خپل فکري مرشد په نوم کوم، د قبایلو په کومه نامعلومه هدیره کې خاورو ته د سپارل شوي خپل شیخ په نوم، په موسیٰ کلا کې خاورو ته د سپارل شویو شهیدانو په نوم. په طاغوتي زندانونو کې د بندي ملګرو په نوم، په ځانګړې ډول د هغه تل روژه لرونکي (صائم الدهر) په نوم چې سوز او اخلاص، تودوخې او مینې یې زه د جهاد د لارې مسافر کړم. د هغو ملګرو په نوم چې د دنیوي ستونزو یا د کومې وېرې له امله د حق د لارې په سفر کې یو څه سستي ورغلې ده، خو زه هیله لرم چې د هغوی زړونه اوس هم له هماغسې تودو ولولو ډک دي. د خپلې خاورې په یوه کلي

[1] کله چې پر دوی دغه ځمکه له خپلې ټولې پراخۍ سره سره تنګه شوه. (سورة التوبة: ۱۱۸)

[2] «اور موږ دا ورځې د خلکو ترمنځ اړوو راړوو.» (سورة آلِ عمران: ۱۴۰)

کې د مېشتو ابو عبدالله انصاري، وقاص انصاري او معاذ انصاري په نوم. د پیر پنجال سپینه واوره په خپلو وینو سره کونکي مطیع الرحمن صدیقي په نوم. او په پای کې د خپلې ملګرې، د ستونزو د ملې او د دې هڅې د کولو لپاره هره ورځ د شوق راپارونکې د ژوند ملګرې (مېرمنې) په نوم. دا ټول انتسابونه یوازې د یوه مقصد لپاره دي چې د کومو کومو (ژوندیو خلکو) نومونه او عنوانونه مې په تېرو کرښو کې ذکر کړي دي، هغوی دا «جهاد فی سبیل الله» د خپل ژوند اصلي مقصد وګرځوي؛ هغه جهاد چې په نړۍ کې یې پایله نن د کابل ابادېدل دي، نو سبا به د اسلام اباد، ډیلي، ډاکې، صنعاء، ریاض، قاهرې، استانبول او د ماسکو، لندن، پاریس، واشنګټن، سیډني او ټوکیو او بیجنګ ابادېدل وي، او اصلي پایله یې د جنت الفردوس مقام دی، د حضور علیه الف صلاة وسلام ملګرتیا او تر هر څه پورته د الله رضا او د هغه لیدل او زیارت!

حسن ترابي

غزني ښار

د ماسپښین له لمانځه وروسته ۳:۳۵ بجې

۸ صفر المظفر ۱۴۴۳ هـ/۱۶ ستمبر ۲۰۲۱ء ، د پنجشنبې ورځ

☆☆☆

## دویمه خبره:

ربِّ اشرح لي صدري ویسّر لي أمري واحلل عقدة من لساني

یفقهوا قولي، آمین یا ربّ العالمین!

که چېرې کوم حکومت کامل پاتې شوی وي، نو هغه یوازې خلافتِ راشده دی او که له دغه خلافتِ راشده څخه وروسته کوم حکومت کامل کېدونکی وي، نو هغه به د «ثم تکون خلافة علی منهاج النبوة» (بیا به د نبوت پر تګلاره خلافت وي) مصداق، بېرته راتلونکی خلافتِ راشده وي (چې په اړه یې د علماوو رایه دا ده چې دا به د حضرت مهدي رضي الله عنه په لاس قائمېږي، خو ځینې کسان له دې سره اختلاف هم لري[٣]). له خلافتِ راشده پرته، د عادلو پاچاهانو (سلاطینو) ډېر حکومتونه پر اسلامي ملت تېر شوي دي او د عادل سلطان په اړه په بېلابېلو احادیثو کې د حضور علیه الف صلاة وسلام د دغه مفهوم فرمان راغلی دی چې:

«السُّلْطَانُ ظِلُّ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ فَمَنْ أَكْرَمَهُ أَكْرَمَ اللَّهَ وَمَنْ أَهَانَهُ أَهَانَهُ اللهُ[٤]»

«پاچا د ځمکې پر مخ د الله سیوری دی، نو چا چې د هغه اکرام او عزت وکړ، الله به د هغه عزت وکړي او چا چې د هغه سپکاوی وکړ، الله به د هغه سپکاوی وکړي».

او د قیامت په ورځ کله چې د الله جل جلاله د ستر عرش له سیوري پرته بل هېڅ سیوری نه وي، نو تر دغه سیوري لاندې د پناه اخیستونکو په منځ کې به یو عادل امام هم وي[٥]، یعني دا چې د عادلو سلاطینو مقام خورا لوړ دی. حضرت تهانوي نور الله مرقده په ملفوظاتو کې په یو ځای کې فرمایي: «د یو سلطان او باچا اجر د یو عام سړي د اجر په پرتله څو چنده زیات وي، ځکه کله چې نېک سلطان د کومې نېکۍ امر صادروي او رعیت عمل پرې کوي، نو د رعیت د عمل ثواب د سلطان د حسناتو په تله کې هم جمع کېږي» (کټ مټ د دغه په څېر د سلطان ګناه هم خورا سخته ده). په اموي، عباسي او عثماني خلافتونو کې ډېر عادل سلاطین تېر شوي دي او په ټولیزه توګه دا ټول خلافتونه شرعي حکومتونه وو. خو کامل حکومت یوازې خلافتِ راشده دی او په تېره یوه پېړۍ کې د اسلامي امت مجموعي هڅې او د اسلام د مجاهدینو ځانګړې زیارونه د همدغه خلافت د بېرته ژوندي کولو لپاره دي.

نن ورځ د افغانستان اسلامي امارت د شرعي اسلامي حکومتونو په منځ کې یو لوړ مقام لري، په ځانګړې ډول کله چې موږ په اخر الزمان کې د کفر د نړۍ داسې برلاسي او غلبه ګورو چې د کفارو ته په تېر تاریخ کې

[٣] ځینې خلک د حضرت مهدي علیه الرضوان ذکر په اورېدو سره دا فکر کوي چې خلافت خو به د هغه په لاس قائمېږي، نو کله چې هغه راشي موږ به یې ملګري شو، اوس باید موږ د خپلې روزۍ بندوبست وکړو. خو سمه خبره دا ده چې د امام مهدي رضي الله عنه د راتلو وخت یوازې د الله ﷻ په علم کې دی؛ موږ ته د امام مهدي د راتلو وخت معلوم نه دی، خو خپل فرائض او واجبات راته معلوم دي، چې له هغو څخه یو د اسلامي شریعت د نفاذ او د خلافت د قیام لپاره هڅه کول دي. اوس که چېرې د دغې هڅې پایله د مهدي علیه الرضوان په ظهور وي او که په بله هره بڼه، موږ د هغې د پایلې مکلف نه یو، بلکې په هڅه مکلف یو او په دې خبره هم مکلف یو چې د نبي صلی الله علیه وسلم پر دین باندې له لمانځه قائمولو نیولې د خلافت تر قائمولو پورې یوازې د نبي صلی الله علیه وسلم د منهج او تګلارې له مخې هڅه او زیار وباسو!

[٤] مسند احمد و ترمذي (وقال الترمذي: هذا حديثٌ حسنٌ غريبٌ)

[٥] بخاري و مسلم (من حديث: سبعةٌ يظلهم الله في ظلّه)

هېڅکله داسې غلبه نه وه ترلاسه شوې. د کفر په دغسې نړیواله غلبه کې د دښمن په وینا «قدامت پسندي» او په حقیقت کې د خیرالقرون او سلفِ صالحینو تګلاره (منهج) خپل مذهب او تګلاره ښودونکی او د سلفِ صالحینو پر منهج باندې د خپل توان هومره عمل ته هڅاند داسې یو حکومت (د افغانستان د اسلامي امارت د لومړۍ دورې په ګډون) مسلمعنینو ته په نړیواله کچه له یوې پېړۍ وروسته او زموږ سیمې ته له درې سوه کلونو وروسته په لاس ورغلی دی. په ټوله نړۍ کې یوازې همدا یو افغانستان دی چې محمدي شریعت (علی صاحبها ألف صلاة وسلام) پکې نافذ دی. دلته د مسلمعنینو شمله لوړه ده او د کفر او نفاق اهل د جهاد له لارې ذلیل او خوار کړل شوي او په ټېښته مجبوره شوي دي. دلته معیشت او اقتصاد په بېړني حالت کې دي خو هر عمل د حق پالو علماوو تر څارنې لاندې ترسره کېږي، په یوویشتمه پېړۍ کې کله چې د نړۍ هر یو انسان که په مستقیم ډول نه وي نو لږ تر لږه د کاغذي پیسو (کرنسۍ نوټونو) په بڼه د نړیوالو سودخورو سرمایه دارانه او سودي اقتصادي نظام په لومه کې ښکېل دی، نو د افغانستان د اسلامي امارت علماء له دې کاره بې خبره نه دي، بلکې شپه او ورځ د اسلامي اقتصادي نظام د قائمولو لپاره هڅې کوي. د کوچنیو مالي معاملو، پورونو، پېر او پلور (بیع)، سوداګریو او داسې نورو لپاره د مالیې وزارت مکلف دی چې پر خپلو معاملو باندې له جیدو مفتیانو څخه فتواوې ترلاسه کړي او د دې کرښو لیکوال دا خبره د خورا قوي دلایلو پر بنسټ کوي. په دغه وخت کې چې ما پر کوم مېز خپل کمپیوټر خلاص کړی او لیکل کوم، پر همدې مېز د مالیې وزارت د ځینو معاملو په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د سترې محکمې تر چتر لاندې د دارالافتاء د فتواوو یوه دوسیه زما مخې ته خلاصه پرته ده، چې پکې د نویو پورونو د ډولونو د راکړې ورکړې په اړه پوره څېړنه شوې ده. لیکوال پخپله شاهد دی چې د دارالافتاء د غورو مفتیانو پر دغو مسائلو باندې له څو اوونۍ پرله پسې له سخت زیار او خولو تویولو وروسته د فقهي په اصطلاح کې له «نوازلو» (نویو پېښېدونکو مسئلو) څخه پر دغه یوه مسئله باندې فتوا ورکړې ده. له عامه امنیت، عدالت، رسنیو، عسکري نظام، مواصلاتو، کرنې، کلتور، ښاروالۍ، ښار جوړونې، صنعت او کسبونو او له دې پرته له لسګونو نورو معاملو سره اسلامي امارت داسې لاس او ګرېوان دی لکه څنګه چې په جګړه کې یو سرتېری له څلورو واړو لورو د دښمن له برېدونو سره مخامخ وي. نیوکه کول اسانه دي، خو حکومت کول خورا سخت کار دی. هو، زموږ مراد دا نه دی چې تعمیري نیوکې دې هم نه کېږي، بلکې د شریعت په رڼا کې او د اسلامي ادابو په پام کې نیولو سره د حالاتو د سمون لپاره رغنده نیوکه او امیر ته نصیحت کول یو شرعي فرض دی، داسې یو فرض چې که له توان سره سره اداء نشي، نو په دنیا کې د عامو مسلمعنینو د ګمراهۍ او په اخرت کې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د ګرفت وېره شته او د نیوکې او نصیحت له مهمو ادابو څخه یو دا دی چې د مسئلې او خرابۍ د کچې موافق خبره په پټه یا ښکاره ډول تر چارواکو ورسول شي او په دې کې هم باید له جیدو او پوهو علماوو څخه پوښتنه وشي.

بجا کہ حق گوئی رکنِ دیں ہے، مگر نہ ایسی کہ زہر گھولو
ہو گفتگو گر بنائے فتنہ، تو اس سے بہتر ہے کچھ نہ بولو

«سمه ده، چې حق ویل د دین رکن دی، خو نه داسې
چې زهر پکې ګډ کړې؛ که خبرې د فتنې بنسټ ګرځي،
نو له هغې غوره دا ده چې هېڅ ونه وایې»

الغرض، په ټوله نړۍ کې یوازې همدا یو شرعي اسلامي حکومت دی چېرې چې د لمانځه د قائمولو او د زکات د ترلاسه کولو نظام قائم دی، چېرې چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر چمتووالی په دولتي کچه او تر دولتي څارنې لاندې کېږي، چېرې چې د الله حدود نافذ دي او شرعي قصاص، دیت او شرعي حجاب پکې پلی کېږي. د دغسې یو حکومت په اړه الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي (نحسبها كذلك والله حسيبها ولا نزكي على الله أحدا):

ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ (سورة الحج: ٤١)

«دا هغه خلک دي چې که موږ دوی ته په ځمکه کې واک او حکومت ورکړو، نو دوی به لمونځ قائم کړي، زکات به ورکړي او نورو ته به د ښکو کارونو د کولو امر وکړي او له بدو کارونو څخه به یې منعه کړي، او د ټولو کارونو پایله خو یوازې د الله په واک کې ده».

د دغه مبارک ایت په تفسیر کې د علماء کرامو فرمایلي دي چې د دغه ایت کریمه رښتیني مصداقونه خلفاء راشدین (رضوان الله علیهم اجمعین) دي، چا چې الهي دین د ځمکې پر مخ نافذ کړ. د دغو خلفاء راشدینو صفت دا دی چې کله دوی ته په ځمکه کې اقتدار او واک حاصل شو، نو دوی لمونځ قائم کړ، زکات یې ادا کړ، د امر بالمعروف

يعني د نېکۍ حکم يې وکړ او د نهي عن المنکر يعني له بدۍ څخه يې خلک منعه کړل. مفسرين کرامو دا هم ليکلي دي چې په دې ايت کې يو عام حکم هم شتون لري، هغه دا چې چا ته هم اقتدار او واک په لاس ورشي، نو هغوی بايد لمونځ قائم کړي، زکات ادا کړي، او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پابندي او التزام وکړي[۶].

اوو نن ورځ دغه اسلامي امارت چې دا واک او حکومت يې ترلاسه کړی دی او د لمانځه، زکات او امر بالمعروف او نهي عن المنکر نظام يې قائم کړی دی، نو تر دغه حکومته پورې د دوی رسېدل هم د قرآني منهج موافق شوي دي. د سورة الحج له دغه ياد شوي ايت څخه وړاندې دوه ايتونه هم وګورئ:

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ۝ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيراً وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ۝(سورة الحج: ۳۹،۴۰)

«د جګړې اجازه هغو کسانو ته ورکړل شوې ده چې (د کافرو لخوا) ورسره جګړه کېږي، له دې امله چې پر دوی (ډېر) ظلم شوی دی او بېشکه الله تعالی د دوی په غالبولو او نصرت باندې پوره قادر دی. (مخکې د دوی د مظلوميت بيان دی) هغه کسان چې له خپلو کورونو څخه بې ځايه وايستل شول، يوازې پر دغه خبره چې هغوی داسې وايي چې زموږ رب الله دی او که دا خبره نه وای چې الله تعالی (له پخوا څخه) د ځينو خلکو زور د ځينو نورو په واسطه نه دفع کولای، نو (په خپل خپل وخت کې) به د عيسويانو خانقاوې او د عبادت ځايونه، د يهودو کنيسې او د (مسلمعنينو) هغه جوماتونه چې د الله نوم پکې په کثرت سره اخيستل کېږي، ټول نړول شوي وو. بېشکه الله تعالی به د هغه چا مرسته وکړي څوک چې د (الله د دين) مرسته کوي. بېشکه الله تعالی د ځواک او غلبې خاوند دی، هغه چې چا ته وغواړي غلبه ورکولای شي».

پر دغو آيتونو لږ غور وکړئ. غاصبې امريکا پر افغان ولس بريد وکړ او مجاهدينو د لوی طاغوت پر وړاندې جهاد وکړ. د افغانستان خلک له خپلو کورونو څخه ځکه وايستل شول او د دوی د اسلامي امارت بنسټونه ځکه ونړول شول چې هغوی له خپل مشر، امير المومنين ملا محمد عمر مجاهد سره په يوه غږ وويل: «رَبُّنَااللَّهُ» الله زموږ رب دی او د همدغه الله په ځمکه کې به د هغه شريعت قائمېږي. هغوی له خپلو کورونو او حکومتي ماڼيو څخه وايستل شول، خو هغوی ته خو د جهاد او قتال اجازه او حکم ورکړل شوی و، نو ځکه هغوی د جهاد پر دغه حکم کلک ودرېدل. هغوی د «مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ» ځواب په «نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ» سره ورکړ او بيا د الله د دين په نصرت کې په جهاد فی سبيل الله کې بوخت شول. بيا دا منظره ښکاره شوه چې «وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ»، يعني د رب له نصرت سره يو ځای د فتحې او بريا ورځ راورسېده! اوس چې فتحه او بريا په لاس ورغله، نو د «الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ» منظره برابره شوه.

د افغانستان اسلامي امارت (أيدها الله وأعزها) يو شرعي حکومت دی چې ان شاء الله د خلافت پر منهج النبوة باندې يوه سريزه ده، د خلافة على منهاج النبوة د پرانيستې لومړی کانی او د بنسټ ډبره! د حکيم الامت، فضيلة الشيخ ابو محمد ايمن الظواهري لخوا د بيان شوي شرعي منهج مطابق د «جهاد لپاره د عمومي لارښوونو[۷]» په تناظر او تعبير کې وګورئ، نو دا د اسلامي امت لومړنۍ فتحه ده. بيا د همدغه اسلامي امارت په څېر، پر شرعي منهج باندې د عمل کولو له لارې داسې نور ډېر امارتونه قائم شي؛ لکه په پاکستان، صوماليه، يمن، مالي، شام او داسې نورو کې او بيا دا امارتونه د يو اتحاد په بڼه مخې ته راشي او دا اتحاد د خلافة علي منهاج النبوة يوه لوړه او هسکه ودانۍ واوسي.

د دې ټولې سريزې هدف دا و چې په امارت کې هم کمی او نيمګړتياوې کېدای شي، خو د حديث شريف د حکم مطابق پر شريعت باندې د عمل کونکو مشرانو له وړو غونډې تېروتنو څخه بايد سترګې پټې شي؛ له ام المؤمنين عائشې صديقې رضي الله عنها څخه روايت دی چې حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «أَقِيلُوا ذَوِي الْهَيْئَاتِ عَثَرَاتِهِمْ إِلاَّ الْحُدُودَ[۸]»، يعني «د دبدبې، وقار او منزلت خاوندانو له لغزشونو او تېروتنو څخه تېرېږئ او ښنئ يې، پرته له حدودو څخه.» د نصيحت په

[۶] د مولانا قاضي ثناء الله پاني پتي د تفسير مظهري او د مولانا مفتي محمد شفيع د تفسير معارف القرآن په حواله

[۷] التوجيهات العامة للعمل الجهادي

[۸] سنن ابي داود

اړه تفصيل موږ په تېرو کرښو کې ليکلی دی، نو تکرار ته يې اړتيا نشته. له همدې امله د اسلامي امارت د نظام په پېژندلو پوهېدل پکار دي. د حکومتولۍ په چارو او مسائلو کې د اسلامي امارت مشران شرعي اولوالامر دي او د نوو پېښېدونکو مسائلو په وړاندې هغوی د شرعي علم په رڼا کې مجتهدين هم دي. د هغوی هر روا او معروف حکم منل د اسلامي امارت پر رعيت او د امارت پر مامورينو باندې واجب دی.

نو ځکه به په دې ليکنه کې موږ د اسلامي امارت د نظام د بيانولو هڅه وکړو، د دښمن د پروپاګندونو د ردولو کوښښ به وکړو او د اسلامي امارت له شرعي دريځونو څخه د دفاع هڅه به هم وکړو؛ ښکاره خبره ده چې دا بيان به زموږ د مشاهدو او د يوه خورا لومړۍ درجې طالب العلم په توګه وي.

دا ليکنه په اصل کې يو خوب و چې رښتيا کېدو يې څو کلونه وخت ونيو (تاسې به د دې په اړه څه حال په «لومړۍ خبره» کې لوستی وي). د بېلابېلو اداري او جهادي بوختياوو او پرله پسې ناروغۍ له امله دا ليکنه د کاغذ پر مخ نه شوای انتقالېدلی. دا ليکنه شايد اوس هم ژر د کاغذ پر مخ نه وای راغلې، خو د نړۍ حالاتو او د اسلامي امارت د نصرت او دفاع فريضې ليکوال د دې ليکنې ليکلو ته اړ کړ. هڅه مې دا ده چې که هره مياشت نه وي، نو لږ تر لږه په هرو دوو مياشتو کې يو ځل د الله په توفيق او مهربانۍ سره څه نا څه ليکل وشي؛ له درنو لوستونکو څخه د ځانګړو دعاوو هيله لرم!

ليکوال د ځوانۍ په پيل کې د شهيد مولانا مقصود احمد صاحب رحمة الله عليه[9] کتاب «ما کابل ابادېدونکی وليد» لوستی و. د دې تر څنګ په ځوانۍ کې مې په «نوای افغان جهاد» مجله کې د مولانا ابوبکر صاحب د «اسلامي امارت پرېکړې» په نوم لړۍ هم ليدلې وه. د دغو ليکنو په ليدلو سره ليکوال ته داسې احساس کېده لکه چې د امارت هماغه زمانې ته رسېدلی وي او د امارت اقدامات په خپلو سترګو ګوري. بيا په سوماليه کې د حرکة شباب المجاهدين د نشراتي ادارې 'الکتائب' لخوا په ۲۰۱۱ زېږديز کال کې خپاره شوې مستند فلم 'Under the Shade of Shariah' (د شريعت تر سيورې لاندې) او په لومړي سر کې يادو شويو ليکنو د الله په توفيق دا جذبه راپيدا کړه، چې لومړی شکل يې ستاسې مخې ته دی. په تېرو کرښو کې د دې ليکنې د ليکلو مرکزي فکر او داعيه څه نا څه بيان شوه، نو ځکه په همدې تړاو د دې نوې ليکنې نوم د شهيد مولانا مقصود له کتاب څخه په اخيستلو سره «زه کابل ابادېدونکی وينم» نن څخه درې کاله وړاندې کېښودل شو.

و من الله التوفيق!

حسن ترابي

هندوکُش

۲۶ جمادی الاول ۱۴۴۴ه ق ، ۲۹ قوس ۱۴۰۱ ه ش، ۲۰ دسمبر ۲۰۲۲ء

****

[9] مولانا مقصود احمد صاحب د لال مسجد په عملياتو کې د مولانا عبدالرشيد غازي شهيد سره يو ځای د امريکايي پلوه پوځ لخوا په شهادت رسول شوی و.



# په شام کې د جهاد راتلونکی ۵

استاد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق

## د بت شکن ادارې یادونه

په شام کې د جهاد راتلونکی په نوم لیکنه د عالم او مجاهد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق سره د النازعات ادارې د یوې مصاحبې لیکل شوې بڼه ده، چې پکې یې ځینې واقعیتونو ته اشاره کړې ده، نه یوازې د شام بلکې د نورې نړۍ مسلمانانو ته هم پکې نصېحتونه او پندونه شته دي، په دې لیکنه کې هڅه شوې څو د شام او په ټوله کې د ټول امت اسلامي مشران وهڅوي چې د خپلو مسلمانو ورونو او مجاهدینو سره ریښتیني وه اوسي، د کفارو او نورو سیکولر هېوادونو له غېږې څخه لرې وه اوسي او پکې یې نورو ډېرو ګټورو خبرو ته هم اشاره کړې ده، د بت شکن ادارې دا لیکنه په پښتو ژباړلې ده او له خپلو لوستونکو څخه هیله لري چې له افراط او تفریط، جذبې او احساساتو څخه لرې او تېرو تاریخي واقیعتونو ته په کتلو سره دا لیکنه په سړه سینه ولولي، موږ له هېچا سره هېڅ ډول شخصي دوښمني نلرو، نو چې هر څه وي یوازینۍ هیله به مو دا وي چې د امت خیر پکې نغښتی وي او په واسطه یې وکولای شو د جهاد پاکه لاره همداسې پاکه وساتو او په دې لاره کې د بهېدونکو وینو سره له خیانت څخه خلک راوګرځوو.

بسمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الحمد لله رب العالمين، ولا عدوان إلا على الظالمين، والصلاة والسلام على أشرف المرسلين، وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد.

النازعات: په شام کې د جهاد د راتلونکي په اړه زموږ د خبرو اترو په دې برخه کې، به موږ له خپل محترم استاد ابو اسامه عبدالعزیز الحلاق حفظه الله سره خپل بحث روان وساتو. له الله تعالی څخه دعا غواړو چې موږ د دغو مهمو پوښتنو د داسې ځوابونو په ترلاسه کولو کې بریالي شو، چې د هغه د خوشنودۍ لامل وګرځي او د ټول شام د سیمې په مبارکه خاوره کې د مجاهدو مسلمانو ځوانانو د لارښوونې او هدایت باعث شي.

اې ابو اسامه! الله دې تاسې سلامت لري، د دې مرکې د ترسره کولو لپاره ستاسې له لېوالتیا او منلو څخه مننه. موږ خپل بحث له دغه وروستي ټکي څخه په روان ساتلو سره پیلوو چې په تېره برخه کې مو پرېښی و، په کوم کې چې موږ د جهاد پر نړیوال کېدو او په شام کې د جهاد د یوه نړیوال جهادي محاذ د جوړېدو پر امکاناتو بحث کړی و، د دې باوجود چې په ډېرو مجاهدینو کې د دغه ناخوښه جهادي طرز د غوره کولو شدیده لېوالتیا لیدل کېږي.

زه به له تاسې څخه په شام کې د شته مهاجرو مجاهدینو د راتلونکي او په اوسني دور کې د شام له سیمې څخه د جهاد په نړیوال کولو باندې د باور لرونکو د ناڅرګند برخلیک په اړه هم ځینې پوښتنې وکړم، په ځانګړې ډول دې حقیقت ته په کتو چې د دوی مشران (د امریکا لخوا) په پرله پسې ډول په نښه کېږي، سره له دې چې د نوې ادارې په نظر د جهادي انقلاب کار پای ته رسېدلی او ورسره سم دا ډلې هم منحل شوې دي.

او په دغو شرایطو کې د شام پر نوې ادارې د هغو مهاجرینو، یتیمانو او کونډو په حق کې کوم فرائض او واجبات راځي، چې د شام د خلکو د مرستې او نصرت لپاره یې خپل هیوادونه پرېښي وو او د جهاد لپاره راوتلي وو او د شامي انقلاب د بریا لپاره یې خپلې قیمتي وینې او مقدس ځانونه قربان کړل.

له همدې امله موږ له الله څخه د مرستې په غوښتلو سره، د جهاد په نیت د شام خاورې ته د هجرت کونکو مهاجرینو د راتلونکي په اړه پوښتنې پیلوو. نو ستاسې په نظر، په دغه پړاو کې د دوی مسؤولیتونه څه دي، په ځانګړې توګه کله چې دوی په ادلب او د شمالي شام په کلیوالي سیمو کې د امریکایي صلیبیانو لخوا په ځلونو په نښه کېږي؟

استاد عبدالعزیز الحلاق: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، زما ګرانه وروره! الله دې ستاسې په چارو کې برکت واچوي او خپلو خوښېدونکو کارونو ته دې ستاسې لارښوونه وکړي او تاسې ته دې د دې مېلمه پالنې او حسنِ ظن غوره بدله درکړي. زه هم تاسې ته د ۱۴۴۶ هجري قمري کال د مبارک رمضان د رارسېدو له امله مبارکي وایم[1]. له الله تعالی څخه دعا غواړم چې په خپل فضل او کرم سره دا میاشت د مجاهدینو په ټولو جبهو کې د

[1] د مرکې د اخیستلو د وخت نېټه. اداره

اسلام او مسلمانانو د بریا میاشت وګرځوي.

زه له الله څخه دعا کوم چې موږ ته، تاسې ته او لوستونکو ته په ایمان او احتساب سره د روژو نیولو، د شپې د قیام، عبادت کولو او د اجر او ثواب د ترلاسه کولو توفیق را په برخه کړي. هغه دې موږ او تاسې د بریالیو کسانو په ډله کې حساب کړي، آمین.

ستاسې د لومړۍ پوښتنې له ځوابولو وړاندې، زه غواړم له تاسې څخه د دې غوښتنې اجازه واخلم چې د پوښتنو اصلي تمرکز دې په شام کې د جهاد پر راتلونکي باندې وي، ځکه په تېره برخه کې او له هغې وړاندې ځینې پوښتنې له دې عنوان څخه بهر وې. زما په عاجزانه نظر، د بحث عنوان په شام کې د جهاد د راتلونکي په اړه اېښودل سم نه دي، ځکه ستاسې ډېرو پوښتنو د شام له تېرو حالاتو سره تړاو درلود. له همدې امله، غوره به دا وي چې د پوښتنو تړاو د بحث له عنوان سره زیات وي.

تر کومه ځایه چې په شام کې د جهاد او د خپلو وروڼو د مرستې په نیت د راوتلو مهاجرو مجاهدینو د راتلونکي په اړه ستاسې پوښتنه ده، زما په نظر د دوی لپاره لازمه ده چې د شام د عزتمندو خلکو له صالحانو او نېکانو خلکو سره خپلې اړیکې ژورې کړي او په غیر علني توګه سم منهج ته د انفرادي دعوت هڅه وکړي، او له خپلو شاوخوا صالحانو سره اړیکې او ناسته ولاړه زیاته کړي، لکه څنګه چې صحابه کرامو رضي الله عنهم په حبشه او مدینه منوره کې کړي وو. زما دا نظر هم دی چې دوی باید د حمص، حلب، دمشق او حماة غونډې د اهل سنتو ښارونو ته مخه کړي ځکه چې دوی په ادلب او د شمالي شام په کلیوالي سیمو کې خورا ډېر ښکاره شوي دي.

له همدې امله دوی ته پکار ده چې دغو ښارونو ته موقت هجرت وکړي ترڅو د صهیونیستي صلیبي دښمن په هغو پېژندنو او معلوماتو کې ابهام رامنځته کړي چې د هغو په وسیله د دوی څرک لګوي او دوی په نښه کوي او د ځان لپاره د دغو ښارونو د مسلمانانو له منځه داسې خلک ومومي چې د دوی ملاتړ وکړي، د دوی لپاره پناه شي او دوی د صهیونیستي صلیبي ائتلاف له هدفونو څخه وژغوري. دا هر څه له هغه صحیح حدیث سره سم دي چې رسول الله ﷺ پکې فرمايي:

«خلک زما لپاره د جامې د بهرنۍ برخې په څېر دي او انصار زما لپاره د جامې د د ننني برخې په څېر دي. او انصار زما ځانګړي راز داره خلک دي. که هجرت یو مهم امر نه وای، نو زه به هم د انصارو یو تن وم»[۲]

په دې پړاو کې د کفارو او منافقینو لخوا مطلوب جهادي مشران هم باید په همدې ډول انتظار وکړي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ تر دریو ورځو پورې په غارِ ثور کې انتظار کړی و. دغه جهادي مشران باید د دې انتظار په جریان کې د ملامتیا، غصې یا ناهیلۍ ښکار نشي، که څه هم دا انتظار تر دریو کلونو پورې اوږد شي؛ ځکه دا هر څه په اوسني دور کې د الله په لاره کې د جهاد او د هغه د اړوندو فرایضو له غوښتنو څخه دي. د دوی بې ځایه ګرځېدل او په کوڅو او بازارونو کې د خلکو په منځ کې ګډېدل، دښمن ته پر دوی باندې د لاسرسي چانسونه ورکوي او دا په هېڅ صورت روا نه دي. دوی باید په سورة الکهف کې د ذکر شویو ځوانانو د معلوماتي امنیت له فهم او پوهې څخه ګټه پورته کړي او د طاغوتي واکمن په لاس له سنګسار کېدو څخه د خپل توحید د عقیدې او ځانونو د ژغورلو لپاره د هغوی له ګامونو څخه سبق واخلي؛ او دوی ته پکار دي چې یاد وساتي کله چې اصحاب کهف د معلوماتي جګړې د مقابلې لپاره حفاظتي تدابیر ونیول، نو الله تعالی د هغوی په اړه څه وفرمایل:

فَابۡعَثُوۡۤا اَحَدَكُمۡ بِوَرِقِكُمۡ هٰذِهٖۤ اِلَى الۡمَدِيۡنَةِ فَلۡيَنۡظُرۡ اَيُّهَاۤ اَزۡكٰى طَعَامًا فَلۡيَاۡتِكُمۡ بِرِزۡقٍ مِّنۡهُ وَلۡيَتَلَطَّفۡ وَلَا يُشۡعِرَنَّ بِكُمۡ اَحَدًا ۞ اِنَّهُمۡ اِنۡ يَّظۡهَرُوۡا عَلَيۡكُمۡ يَرۡجُمُوۡكُمۡ اَوۡ يُعِيۡدُوۡكُمۡ فِىۡ مِلَّتِهِمۡ وَلَنۡ تُفۡلِحُوۡۤا اِذًا اَبَدًا ○ (سورة الکهف: ۱۹، ۲۰)

«اوس له خپلو ځانو څخه یو تن د دې سپینو زرو له سکې سره ښار ته ولېږئ، هغه دې لاړ شي او ودې ګوري چې په کومه سیمه کې ډېر پاک خواړه (موندل کېدای) شي. بیا دې له هغه ځایه ستاسې لپاره څه د خوړلو راوړي، او هغه ته

---

[۲] مصنف ابن ابي شیبه (۳۲۳۶۱)، احمد (۱۳۰۸۴)

پکار ده چې په ډېره هوښیارۍ
سره کار وکړي او هېڅوک
ستاسې له حاله خبر نه کړي.
ځکه که د دغه (ښار) خلکو ته
ستاسې پته ولګېده، نو دوی به
تاسې په کاڼو ووژني، یا به
تاسې خپل دین ته په بېرته
ګرځېدو مجبور کړي، او که
داسې وشول، نو تاسې به
هېڅکله بریالي نه شئ».

خو یوه بله مسئله هم شته چې ډېر صالحین ورته پام نه کوي، هغه دا ده چې له دغو ورونو څخه ډېر یې د خپلو مالي مجبوریو له امله د دغو حفاظتي تدابیرو پر پرېښودلو او د خپلو کورنیو د سرپرستۍ لپاره د حلال رزق په ګټلو مجبوره کېدای شي. له همدې امله پر صالحو، شتمنو او مالدارو مسلمانانو واجب دي چې د دوی مالي مرسته وکړي او په ټولنیزه توګه د دوی لاسنیوی وکړي، ترڅو زموږ امت نور هغه ځوانان مسلمانان له لاسه ورنکړي چې ان شاء الله په راتلونکو ورځو کې به د اسلام او مسلمانانو په نصرت او په ځانګړي ډول له غاصبو یهودو او صلیبیانو سره په جګړه کې خورا لوی رول ولوبوي. دا وروڼه د هغو پخوانیو مهاجرینو څخه دي چې د انقلاب په پیل کې د جهاد د فریضې د ادا کولو لپاره د شام خاورې ته رسېدلي وو، له همدې امله مسلمانانو ته پکار دي چې د ټولنیز پیوستون له لارې د دوی ساتنه وکړي. د دوی مرسته باید خامخا وشي ځکه دوی د انقلاب په کلونو کې جهادي تجربه ترلاسه کړې ده. صهیونیستي – صلیبي دښمن پوهېږي چې دا ځوانان او دا مشران هغه خلک دي چې د مسلمانانو د هیوادونو او د مسجد اقصی د ازادولو لپاره، له الله وروسته، تکیه پرې کېدای شي؛ ځکه دوی پراخې جګړېزې، دعوتي، ټولنیزې او تنظیمي تجربې لري. نن چې موږ څه ګورو چې د امریکا، اسرائیلو او ترکیې په مشرۍ د ائتلافي الوتکو په واسطه مجاهدین په نښه کېږي، هدف یې دا دی چې د سترو جګړو خاوره شام د اسلامي هېوادونو په زړه کې د صهیونیستي – صلیبي توطیو د ناکامولو له وړ ځوانانو مجاهدینو او مشرانو څخه خالي کړي. وإلى ربنا المشتكى او الله تعالی د قیامت د ورځې وخت مقرر کړی دی.

همدارنګه، د شام نوې اداره باید له دې ځان غوښتونکي او متعصب ذهنیت څخه راووځي چې «موږ د دې امر نه و کړی او له دې امله موږ ته هېڅ زیان هم نه دی رسېدلی» او په دغو بریدونو کې د مجاهدینو د په نښه کېدو پر وړاندې باید خپله چوپتیا ماته کړي؛ ځکه دا چوپتیا د صهیونیستي – صلیبي لوبډلې د ګټو په خاطر د خپلو وروڼو د وینو او سرونو د قربانۍ ورکولو په مانا ده. دوی باید د خپل دغه شعار د رښتیني کولو لپاره عمل وکړي چې اوس مهال یې د «انقلاب او ډله بازۍ له ذهنیت څخه د دولت او مسؤولیت د ذهنیت لور ته د ګام اخیستلو» په نوم پورته کوي. دوی باید لږ تر لږه دومره خامخا وکړي چې پر خپلو مجاهدو وروڼو او په انقلاب کې پر شاملو ملګرو باندې د دغو صلیبي بمباریو غندنه وکړي او د شام پر ځمکنۍ بشپړتیا باندې د بریدونو د دغه بهیر د درولو هڅه وکړي. د ۲۰۲۴ زېږدیز کال د ډسمبر له ۸مې نېټې وروسته د شام له خاورې سره په هغه پخواني ذهنیت چلند کول روا نه دي، په کوم ذهنیت چې دوی له دې وړاندې له «ازاد شوي شمالي شام» سره کاوه. له دې وړاندې په پاکستان کې پر صلیبي ډرون بریدونو باندې د پاکستان د حکومت سختې خالي غندنې او دغه راز پر تېرو صلیبي بمباریو باندې د اسد د حکومت سختې غندنې، د شام له نوې ادارې څخه غوره کېدای نشي. د مسلمانان باید یاد وساتي چې الله تعالی دوی ته په دغو الفاظو خطاب کړی دی:

وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا
(سورة المائدة: ۳۲)

«او چا چې یو ځان وژغوره،
نو ګواکې هغه ټول بشریت
ژغورلی دی».

نو دوی ته پکار دي چې هڅه وکړي او د خپلو مجاهدو وروڼو د وینو ملاتړ وکړي، هغوی ته پناه ورکړي، د هغوی سرپرستي وکړي او د هغوی د خوندي ساتلو لپاره هر ډول ممکن ګامونه پورته کړي. که نه نو، د غفلت او ناکامۍ پایله به د هر باصلاحیته شخص لپاره سخته سزا وي. او زموږ پروردګار رحمان دی، د هغو خبرو پر وړاندې چې دوی یې جوړوي، یوازې له هغه څخه مرسته غوښتل کېږي.

النازعات: خو اې ابو اسامه! تاسې پوهېږئ چې دا ځوانان او مشران د «هیئة تحریر الشام» غړي نه دي، بلکې له نورو ډلو سره تړاو لري. نو د «هیئة تحریر الشام» مسؤولینو ته څنګه پکار دي چې د دوی د ساتنې لپاره هڅه وکړي او پر دوی باندې د دغو بمباریو غندنه څنګه وکړي؟

استاد عبدالعزیز الحلاق: دا یو دیني او سیاسي فرض دی او یو اداري مسؤولیت دی چې هر دولت یې د خپلو خلکو او خپلې خاورې لپاره سرته رسوي. له همدې امله ما وویل چې دوی باید له خپل شعار سره سم

عمل وکړي، يعني «د انقلاب له فکره د دولت تر فکره». هر کله چې يو قانوني دولت د خپلو خلکو، خاورې او ځمکنۍ بشپړتيا په وړاندې خپل مسؤوليتونه پوره کوي، نو په انقلاب کې د دوی د ملګرو او په وسلو سمبالو ورونو حق خو له دې څخه په ځلونو زيات دی؟

ربښتيا خو دا دي چې په شام کې څه روان دي هغه ښه نه دي، که هغه د نوې ادارې له لوري وي او که د پاتې انقلابيانو او مجاهدينو له خوا؛ ځکه دا تياره چوپتيا يوازې د تسليمۍ، په ګونډو کېدو او له صليبيانو څخه د وېرې يو اغېز ګڼل کېدای شي، چې ورسره يو ځای په پراخه کچه د ملاتړ پرېښودل او بې وفايي ښکاري او دا هر څه به په شام کې د جهاد پر راتلونکي خورا منفي اغېز وکړي. نو دوی ته پکار دي چې ګام پورته کړي، مخکې له دې چې د «زه هماغه ورځ خوړل شوی وم په کومه ورځ چې سپين غويی خوړل شوی و»[3] کيسه تکرار شي. ولا حول ولا قوة إلا بالله.

زما ګرانه وروره! هر څوک چې د شام په ځمکه کې د جهاد د راتلونکي په اړه په راغلو صحيحو احاديثو کې غور وکړي، هغه به په دغو احاديثو کې د فکري تنوع او د جهادي ډله بازيو نښې ومومي او په دغو احاديثو کې به ورته د شام خاورې ته د بهرنيو مجاهدينو د هجرت پېشبينې تر سترګو شي. نه يوازې دا، بلکې په دغو احاديثو کې به د نړيوال جهاد يا سيمه ييز جهاد د غوره کولو په برخه کې د مهاجرو مجاهدينو او مقامي مجاهدينو ترمنځ




د اختلاف نښې هم پيدا کړي. خو په دغو ټولو جهادي ډلو کې د خير، صلاح او ربښتينولۍ د معيار يو خورا مهم صفت دا دی چې دوی پر خپلو مسلمانو مجاهدو ورونو باندې د صليبيانو برلاسي او واکمنې په غوږ ډول نه مني، د دې باوجود چې په منځ کې يې يو څه اختلاف شتون لري. لکه څنګه چې په صحيح مسلم شريف کې حديث بيان شوی دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

«قيامت به قائم نشي تر هغه چې رومي لښکرې په اعماق يا دابق کې واړوي، نو له مدينې څخه به په دغه وخت کې د ځمکې پر مخ د غوره خلکو څخه جوړ يو لښکر د هغوی لور ته روان شي، کله چې هغوی صفونه تړي، نو روميان به ووايي: تاسې زموږ او د هغو کسانو ترمنځ لاره پرېږدئ چا چې زموږ خلک بنديان کړي وو، موږ غواړو له هغوی سره جګړه وکړو. مسلمانان به ووايي: نه، په الله قسم! موږ به ستاسې او د خپلو ورونو ترمنځ لاره خالي نکړو، نو هغوی به له دوی سره جګړه وکړي، چې له امله به يې يو پر درېيمه برخه ماتې

[3] عربي متل دی، او مطلب يې دی: چې زه هغه وخت وژل شوی وم، په کومه ورځ چې ما خپل ورور وليدی، چې وژل کېدی، خو زه چوپ پاتې شوم.

وخوري، الله به د هغوی توبه
هېڅکله قبوله نکړي او يو پر
دريمه برخه به پکې ووژل شي
چې هغوی د الله په نزد د
لوړې درجې شهيدان دي او يو
پر دريمه برخه به بريا ترلاسه
کړي، هغوی به هېڅکله په
ازمېښت کې وانه چول شي، او
هغوی به قسطنطنيه فتحه
کړي »[4].

شيخ ابو قتاده فلسطيني حفظه الله فرمايلي دي چې دا حديث زموږ پر زمانې باندې منطبق کېدای شي او شونې ده چې په دې کې زموږ د زمانې احوال شتون ولري. زه داسې ګنم چې د شام د جهاد اهل ته بايد د دې حديث درس ورکړل شي او دا بايد ياد کړي او غور او فکر ورباندې وکړي، ځکه په دې کې ستر درسونه شته او په شام کې د جهاد د راتلونکي په اړه پيشبينۍ دي. د بېلګې په توګه، په دې حديث کې د جهادي طبقو او مجاهدينو درې ډلې بيان شوې دي. يوه ډله د صليبي دښمن په وړاندې تسليمېږي او د هغوی ملګرتيا کوي، ځکه هغوی د دوی له ځواک، برترۍ او تمدن څخه اغېزمن وي او د نړيوال کفر د مشر پر وړاندې جګړه ورته درنه ښکاري. په دې مبارک حديث کې د حرمين شريفين له خاورې څخه د جهاد لپاره د شام لور ته د تلونکي يو لښکر تفصيل هم ښودل شوی دی. په دې کې له مسلمانانو سره د مشورې پرته له صليبيانو څخه د بنديانو د اخيستونکي يوه جهادي ګروپ تفصيل هم شتون لري. او په دې مبارک حديث کې دا هم شامل دي چې صليبيان د ټولو مجاهدينو مخالف نه دي، بلکې په دې کې د مجاهدينو د دوه اړخيزو اړيکو د ختمولو لپاره د صليبيانو لخوا د يوې ځانګړې جهادي ډلې د جوړولو د هڅو تفصيل هم ورکړل شوی دی، کومه چې لوېديځ منلای شي او د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه او تعاقب کې به دغې ډلې ته استثناء حاصله وي. په حقيقت کې، لوېديځ په يوې ځانګړې ډلې باندې تمرکز کوي چې د روايتي جهاد ملاتړ کوي او د هغې ترهګريز اقدامات له نړيوال قانون څخه سرغړونه بلل کېږي. له همدې امله صليبيانو د شام د خاورې پر ځينو برخو ولکه وکړه او بيا يې د مجاهدينو له دغې ډلې سره خبرې اترې وکړې او ورته يې وويل: «تاسې زموږ او د هغو کسانو ترمنځ لاره پرېږدئ چا چې زموږ خلک بنديان کړي وو، موږ غواړو له هغوی سره جګړه وکړو». په دې مبارک حديث کې د موحدو مجاهدينو د يوې ډلې تفصيل هم شتون لري چې د لوېديځوالو صليبيانو د دې وړانديز له منلو منکره ده، نو دا منکره ډله له دغې ډلې سره تړاو لرونکي خپل مجاهد ورونه بې ياره او بې کومکه نه پرېږدي او ملاتړ يې کوي او صليبيانو ته دا ځواب ورکوي چې: «نه، په الله قسم! موږ به ستاسې او د خپلو ورونو ترمنځ لاره خالي نکړو، هغوی به له صليبيانو سره جګړه وکړي». په دې شريف حديث کې د مجاهدينو د سختې جګړې احوال هم ذکر شوي دي او دا هم بيان شوي دي چې بريا او نصرت يوازې د جهاد د پيلوونکو لپاره نه دی، بلکې د هغو کسانو لپاره به وي چې په دې کې مخلص دي او له سختې ازمويښې سره سره جهاد ته دوام ورکوي او دا هم چې دا بريا او نصرت به د دغې کوچنۍ او په شمېر کې د لږې ډلې لپاره وي چې په شام کې د ټولو شته مجاهدينو څخه به يوازې ۳۳ سلنه وي، او الله ښه پوهېږي.

النازعات: محترم استاده، کوم حديث چې اوس تاسې بيان کړ، ستاسې په نظر د هغه له مخې د هغې جهادي ډلې تر ټولو مهمې ځانګړتياوې څه دي چې د صليبي لوېديځ په وړاندې به د تسليمۍ سر ټيټ کړي؟ او هغه کومې لارې چارې او اسباب دي چې د شام په خاوره کې شته مجاهدين يې بايد غوره کړي ترڅو له هغه خطر څخه وژغورل شي چې په حديث کې ذکر شوی چې: «له دوی څخه به يو پر دريمه برخه ماتې وخوري، الله به د هغوی توبه هېڅکله قبوله نکړي؟»

استاد عبدالعزيز الحلاق: شايد د هغې ماتې خوړلې ډلې تر ټولو خطرناکه ځانګړتيا چې الله به يې توبه هېڅکله قبوله نکړي، دا وي چې هغوی خپل ځوان مجاهدين په داسې يو ډول روزي چې د اسلامي شريعت له مخې د غندنې وړ دي؛ يعنې د شرعي نصوصو د تحريف او تاوولو راتاوولو له لارې د خپل مطلب ايستل دي، لکه د دغه مستند حديث پر يوې برخې باندې د خپلو مجاهدينو روزل چې امام ابو داود روايت کړی دی، نبي ﷺ فرمايلي دي:

«ډېر ژر به تاسې له روميانو
سره يوه پر امنه صلحه وکړئ،
بيا به تاسې او هغوی په ګډه له
داسې يو دښمن سره جګړه

[4] مسلم (۲۸۹۷)

وکړئ چې ستاسې تر شا دی، پر هغه به بریا ترلاسه کړئ او د غنیمت مال په اخیستلو سره به روغ رمټ بېرته راستانه شئ» [5].

له همدې امله به تاسې به لیدلي وي چې ځینو علماوو ځوانان له صهیونیستي – صلیبي لوېدیځ سره د سولې اهمیت ته هڅولي دي او هغوی ته یې دا ور فهمولې ده چې مجاهدین به له صلیبیانو سره په ګډه له رافضیانو، نصیریانو، روس او چین سره جګړه کوي او پر هغوی به بریا ترلاسه کوي، غنیمت به ګټي او خوندي به پاتې کېږي؛ او له هغه وروسته به صهیونیستي – صلیبي لوېدیځ زموږ د دولت قانوني حیثیت تسلیموي، موږ ته به د واک د سمبالولو او دولت د چلولو اجازه راکوي او بیا به په ملګرو ملتونو کې د څوکۍ په ورکولو سره پر موږ احسان کوي ترڅو موږ په نړیواله ټولنه کې د پرېکړو کولو خپل حق وکاروو او داسې نورې خبرې.

دا ټول د شرعي نصوصو د غندنې وړ تحریف او ناوړه تفسیر دی، ځکه چې پوره حدیث شریف په دې ډول دی:

«تر هغه چې تاسې د غونډیو لرونکي یو داسې میدان ته کښته شئ، بیا به د نصرانیانو له منځه یو تن صلیب پورته کړي او وبه وایي: صلیب غالب شو، په دې اورېدو سره به د مسلمانانو له منځه به یو تن په غوسه کې راشي او هغه به ووژني، په دغه وخت کې به رومیان عهدشکني وکړي او د لویې جګړې (ملحمې) لپاره به خپل خلک راټول کړي».

له همدې امله امام ابو داود رحمة الله علیه دا حدیث تر لاندې فقهي عنوان لاندې ذکر کړی دی: «باب: له رومیانو سره د کېدونکو لویو جګړو بیان».

نو بنسټیز اصول دا دي چې زموږ امتِ مسلمه به له صلیبیانو سره په دوامداره او مستقله جګړه کې وي. که چېرې سوله وي، نو هغه د «موقت امن» په مانا ده. نو سوله له دغو دوو محدودیتونو «مؤقتي امن» سره ده، لکه څنګه چې په روایت کې راغلي دي. ځکه نو په پورتني ډول د نصوصو تاوول راتاوول او د دې حدیث داسې تفسیر کول او په دغه ناوړه او د غندنې وړ طریقه ځوانانو ته د هغه تعلیم ورکول، خورا لویه تېروتنه ده.

تر کومه ځایه چې د دې خبرې تړاو دی چې د شام د خاورې مجاهد باید له دغه خطرناک مصیبت څخه د ژغورلو لپاره کومې لارې چارې او اسباب غوره کړي، نو مجاهد ته پکار ده، چې تر هر څه لومړی د خپل رب کتاب قرآن مجید او د هغه د رسول ﷺ سنت په کلکه ونیسي، د الله رب العالمین لپاره خپلې جهادي ارادې خالصې کړي، خپل زړه له الله تعالی څخه پرته د بل هر چا له تعلقه پاک کړي او خپل قیمتي وخت د دیني، شرعي او سیاسي علم په زده کړه کې تېر کړي ترڅو په آسانۍ سره دوکه نشي او یوازې د یو اجیر عسکر په توګه د ځان غوښتونکو مشرانو لپاره خپل ژوند په خطر کې وانه چوي. بیا ورته پکار دي چې د امت له رښتینو د علم خاوندانو او معتبرو مشرانو سره اړیکه ونیسي، مشوره ورسره وکړي او فتوا ورڅخه وغواړي او په ټولو پړاوونو کې د حالاتو د بدلونونو او د دندې د ترسره کولو پر مهال چې کله هم له ستونزو سره مخ شي، د هغوی له نظر سره سم عمل وکړي. زه هیله لرم چې په دغه ډول عمل کولو سره به یوه مجاهد ته د الله له لوري توفیق او هدایت په برخه شي.

النازعات: تاسې به په دې وروستیو کې د اسرائیلو بیانونه او د شام د نوي حکومت پر وړاندې د هغوی د دښمنانه ګواښونو زیاتوالی لیدلی وي. د دغو بیاناتو لامل څه دی، سره له دې چې دمشق د اسرائیلو پر وړاندې یو لفظ هم نه دی ویلی؟ ایا موږ د دمشق پر وړاندې له احتمالي بریدونو او صهیونیستي تاوتریخوالي سره مخ یو او په شام کې د مجاهدینو پر وړاندې د اسرائیلو د دغه تېري حل څه دی؟

استاد عبدالعزیز الحلاق: زما ګرانه وروره! اسرائیل په یقیني توګه پوهېږي چې د شام له مجاهدینو سره د دوی جګړه حتمي ده، خو هغه په سیمه کې د صهیونیستي – صلیبي پلان د پلي کولو له لارې د دې جګړې د ځنډولو او په هغې کې د خنډونو د رامنځته کولو هڅه کوي. دغه راز د دغو دښمنانه ویناوو او د شامي پوځ پر سنګرونو باندې د صهیونیستانو د پرله پسې بمباریو یو هدف د اسد د حکومت د عناصرو او د هغوی د موادو ژغورل او په شام کې د فرقه‌ییز اور بلول دي. که چېرې

---

[5] ابوداؤد (۴۲۹۲)

اسرائیلو غوښتل پخپله بشار الاسد له واکه لیرې کړي، بیا یې هم نه غوښتل چې د هغه د حکومت بنسټونه او د صهیونیستي وجود وفادار عناصر له منځه یوسي. د دې ترڅنګ د دوی هدف پر نوې اداره باندې فشار راوړل دي ترڅو هغوی مجبور کړي چې د جنوبي شام د نویو سیمو د پرېښودلو لپاره نور امتیازات هم ورکړي. د دې هر څه مقصد د اسرائیلو لپاره د یوه نوي او فعال حکومت رامنځته کول دي چې په نړۍ کې د صهیونیستي – صلیبي ګټو د پلي کولو لپاره ترې کار واخیستل شي او بیا هغوی د اړیکو د عادي کولو (نارملایزېشن) لور ته بوځي، لکه څنګه چې د شام د نوي حکومت ورونو عربي حکومتونو د نارملایزېشن بهیر ترسره کړی دی. اسرائیل د شام د نویو مشرانو له رواني او فکري طبیعت څخه ښه خبر دی، ځکه هغه باوري دی چې د دغو په څېر کسان په ټولو اسلامپالو کې تر ټولو زیات د رنګ بدلولو، تسلیمېدو او د بهرنیو فشارونو پر وړاندې د سر ټیټولو وړتیا لري او دا د هغې خورا زیاتې عملیت پسندۍ (پراګماتېزم) له امله ده چې د شام نوي مشرتابه په تېرو دوو میاشتو کې ښودلې ده؛ همدا لامل دی چې صهیونیستي یهود غواړي پر نوې ادارې باندې نور کنټرول هم ترلاسه کړي او واک ته له رسېدو وروسته د هغې قانوني، اخلاقي او سیاسي شتمني له منځه یوسي.

او تر کومې کچې چې د امریکا تړاو دی، هغه د شام حقیقت له څلورو واړو لورو څخه د خپلو ګټو موافق جوړولو لپاره انجینري کوي او په پوره زیار او هڅې سره کوښښ کوي ترڅو د شامي انقلاب له همدغو مشرانو څخه د انقلاب ضد مشران پیدا کړي او د انقلاب په نوم د انقلاب ضد شعارونه او بیرغونه هم رامنځته کړي. له همدې امله، د شام پر وړاندې توطیه خورا لویه ده، او هېڅ یوه ډله، حتی د شام هېڅ یو حکومت به د دغو توطیو او د دې روښانه حقیقت مقابله ونکړای شي، پرته د یو داسې امت له ژور تصور څخه چې په شام او ستر شام (بلاد الشام) کې د یو داسې جامع جهادي خوځښت له لارې چې د شام له خاورې څخه د ټولو غاصبینو د اېستلو وړتیا ولري، مسلمانان سره یو ځای کړي. له همدې امله موږ باید په شام کې د ثبات لپاره د هڅو او د اسرائیلو پر وړاندې د «طوفان الاقصیٰ» غوندې د بې مخینې سخت تاوتریخوالي د یوې لویې څپې د پیلولو لپاره د جدي چمتووالي ترمنځ یو توازن رامنځته کړو، که څه هم پر دې څو لسیزې وخت مصرف شي. په دې ځای کې، زه داسې ګڼم چې د شام خلک باید د راتلونکو کلونو لپاره په جدي توګه تیاری ونیسي او د انقلاب بېرته راستنېدو او د ادلب لور ته یو ځل بیا د شاتګ احتمال په پام کې وساتي. دوی باید نن د شمالي شام پر پیاوړي کولو باندې تمرکز وکړي ترڅو دا د انقلاب لپاره یو قوي مرکز وګرځي په داسې حالت کې چې انقلابیان، خدای مه کړه، د شام او اسرائیلو د جګړې په پیل کې د هغه لور ته بېرته ستنېدو ته اړ ایستل شي، کومه جګړه چې په راتلونکي کې خامخا پېښېدونکې ده. په شام کې شته مجاهدین باید دا احتمال رد نکړي چې اسرائیل به هغوی په هوایي بریدونو او د ځمکې پر مخ له جنوبي شام څخه د خپلو اجیرو سرتېرو په خوځښت او ناڅاپي پرمختګ سره حیران کړي[6]، ځکه چې فکري اسرائیل د جهادي حقیقت په اړه تر ټولو زیات باخبره دي او هغوی په تېرو دوو لسیزو کې د جهادي خوځښت له لارې د ترلاسه شویو سترو بریاوو څخه پوره خبر دي. هغوی وېره لري چې د جهادي نصرت دا عروج به د بیت المقدس تر دروازو پورې ځي او بیا به دربېږي.

نن ورځ اسرائیل، له افغانستان څخه د امریکایي او لوېدیځو صلیبیانو په اېستلو او د ظالمانو له زندانونو څخه د بندیانو په ازادولو کې د افغان مجاهدینو بریا ته د افسوس په سترګه ګوري. هغوی د دمشق په ازادولو او د نصیریانو له زندانونو څخه د بندیانو په خلاصون کې د شام د مجاهدینو بریا ته په قهر او غوسې سره ګوري. هغوی په ذلت سره ګوري چې څنګه د غزې مجاهدین د دوی له خوښې پرته له زندانونو څخه د خپلو ورونو او خویندو په راخلاصولو کې بریالي شول. دوی نن هم په کرکه سره ګوري چې د اسلامي مغرب او صومالیې مجاهدین د خپلو سیمو د پراخو برخو په ازادولو، د بندیانو په خلاصولو او له خپلو هېوادونو څخه د امریکایي، فرانسوي، روسي او افریقایي غاصبینو په اېستلو کې څنګه بریالي شول او د اسرائیلو لپاره تر ټولو وېرونکې خبره دا ده چې د هرې سیمې مجاهدین له دوو کلمو څخه جوړ یو

---

[6] د محترم استاد د وړاندوینې مطابق، د دې ژباړې تر خپرېدو پورې، د حکمت هجري د ملېشو له لارې اسرائیلو دا کار کړی دی – ژباړن

ډول شعار پورته کوي: «قادمون يا أقصىٰ!» (اې مسجد اقصی! موږ در روان یو). نو اسرائيل څنګه کولای شي په نړیوال ډګر کې دا ټول ستر بدلونونه له پامه وغورځوي؟ له همدې امله زه وايم چې د شام مجاهدين بايد پر خپل ځان باور نور هم پیاوړی کړي او تل ياد وساتي چې د اسلامي امت د جهاد لومړي خط د خپلو خاورو او بنديانو په ازادولو او د الله په لاره کې د جهاد له لارې د خپل باور په ببرته ترلاسه کولو کې سترې او شاندارې برياوې خپلې کړې دي او د دغو برياوو ترلاسه کولو ته دوام ورکوي. په پایله کې، جهادي خوځښت په نړۍ کې د ځان او خپل اسلامي امت لپاره د يوې اغېزمنې قوې په توګه په نړیواله کچه پېژندنه ترلاسه کوي، که څه هم د ځمکې پر مخ ظالمان او طواغيت د خپلې کينې او حسد له امله د دغه حقيقت اعلان ونکړي. همدارنګه، جهادي خوځښت په خپلو ټولو بېلابېلو بڼو کې، د سپتمبر له ۱۱مې څخه نيولې د اکتوبر تر ۷مې او د ډسمبر تر ۸مې پورې په سيمه کې ځان د يو ستر لوبغاړي په توګه دروِلی دی. له دغې ورځې وروسته، د ټولو سترو سيمه ييزو او نړيوالو لوبغاړو د شتون په درشل کې، اسلامي نفوذ په پرله پسې او هڅاند ډول د پراخېدو په حال کې دی. اسلامي امت له خپل جهادي لومړي خط سره، اوس په اسلامي نړۍ کې له هندوستان، پاکستان او افغانستان څخه نيولې تر شام، صومالیې او اسلامي مغرب پورې د نظامي خوځښت او تاکتیکونو لپاره خورا زيات او پراخ ډګر په لاس کې لري.

نن ورځ، تاسې ګورئ چې د نړۍ د ګوټ ګوټ ډېری هېوادونه دې پايلې او باور ته رسېدلي دي چې د اسلامي امت د جهاد لومړی خط د راتلونکي هغه ځواک دی چې بايد تکيه ورباندې وشي او په دې وروستيو کې د اکتوبر له ۷مې وروسته، ډېری لوېديځ راپورونه د دې ټکي ښکارندويي کوي چې د سيمې هېوادونه په دې خبره زيات قانع شوي دي چې له جهادي ځواکونو سره تړون او هغوی خپل ملګري کول د راتلونکي يوازنۍ لاره ده چې د هغوی سيمه ييز نفوذ او د هغوی جيوپوليټيک او شخصي ګټې به خوندي وساتي، که څه هم يوازې د يوې لنډې مودې لپاره وي. ان هغه هېوادونه چې زموږ د خلکو پر وړاندې يې د انقلاب ضد مشري کوله او په تېره يوه لسيزه کې يې د جهادي لاسته راوړنو د محدودولو لپاره خپلې تر ټولو زياتې فکري هڅې او نظامي انرژۍ په کار اچولې وې، هغوی هم نن د بې ثباتۍ او ناڅرګندتيا په حالت کې دي؛ ځکه په سياسي کچه د دغه «طوفان» او «ردع العدوان» له ځپو څخه په راتلونکي کې د رامنځته کېدونکي پراخ سيمه ييز نفوذ له امله وېره لري او د هغوی لنډ مهاله راتلونکي ته د ورپېښو دغو ټولو خطرونو او له اسلامپالو او جهاديانو سره د هغوی د پوره باور د نشتوالي په درشل کې، د هغوی لپاره له خپلې خوښې پرته، په اسلامي نړۍ کې له راپيدا کېدونکو جهادي ځواکونو سره له مجبوره تعامل پرته بله هېڅ لاره پاتې نه ده.

خو سره له دې هم موږ ته پکار نه دي چې دا هېر کړو چې دوی له دې هر څه سره سره زموږ د اسلامي امت د تېرو ارزښتونو او جهادي لاسته راوړنو د له منځه وړلو لپاره نه سترې کېدونکې هڅې کوي او د امت له سترګو څخه د اوسني دور د جهاد د پټولو او د هغه د عظمت د پناه کولو لپاره د درواغو جالونه غوړوي. خو زموږ د امت بريالي او پر سمه لاره روان ځوانان په دې حقيقت پوهېږي او ګوري چې د سپټمبر د ۱۱مې، د اکتوبر د ۷مې او د ډسمبر د ۸مې معنا څه ده؟ او هغوی د دغو سترو معناګانو او د دغه عظيم جهاد په ژورتيا او عظمت پوهېږي. هغوی په دې هم پوهېږي چې په دغه پړاو کې الله تعالی له دوی څخه څه غواړي. له همدې امله تاسې به هغوی تر نن ورځې پورې د الله په لاره کې د خپلو مالونو او ځانونو په قربانولو کې بوخت ومومئ، هغوی د خطر متوجه کونکو، خيانت کونکو او نافرمانه خلکو هېڅ پروا نه ساتي؛ ځکه هغوی د خپل ايمان په سيوري کې او د خپل رب د شريعت تر چتر لاندې ژوند پر ارزښت پوهېږي او هغوی د توحيد له کلمې (لا اله الا الله محمد رسول الله) سره د تړاو پر بيه او قيمت خبر دي. همدا سترې قربانۍ او فدايي جذبه زموږ د معاصرو ستونزو حل دی او همدا زموږ د لوټل شوي شان او شوکت د بېرته ترلاسه کولو يوازنۍ لاره ده. زما ګرانه وروره! پوره باوري اوسه چې نن د اسلام ټول دښمنان په پوره يقين سره پوهېږي چې دا سيمه په ټوليزه توګه او شام په ځانګړې توګه به ډېر ژر د نړيوالې ترهګرۍ لپاره يو د توغولو ځای (لانچنګ پيډ) او د نړيوال جهاد بنسټيزه سرچينه وي. همدا لامل دی چې هغوی په خپل ړوندوالي کې هک پک دي او په خپلو تېروتنو کې ډوب پاتې دي. نو هغوی پرېږده چې په تمه اوسي، ځکه موږ هم له هغوی سره په تمه يو.

ادامه لري ان شاء الله ...

****



## د استاد یاسر رحمه الله یو شعر

د جېل سکوت مې اوس قلم گویا کړ
چې مې له نثر قصیدې جوړې شوې

دښــمنه واوره چې خــوشحاله نشې
له زنـدانو دې مــدرسې جوړې شوې

چې به جنت ته په ځنځیر کې ورځي
د اسیـرانو اوس اســرې جوړې شوې

یارانو! گــورئ چې مو غــم ونکړئ
د قــربانۍ جذبې پخې جوړې شوې

یــاسـر دعــا درتــه د یــسر[1] کـوي
لکه خلیل ته چې په اور کې گل باغچې جوړې شوې

د کوچني اختر په دوهمه ورځ د استاد زمرک «محمد یاسر» رحمه الله له لوري د پیښور په زندان کې لیکل شوی شعر، ۱۴۳۰ هـ.ق کال

****

1. یسر: آساني



# زموږ شرقي أندلس؛ له یاده وتلی اسلامي هندوستان!

ډاکتر محمد طنین

نن د اسلامي امت ډېره کتله خلک او وګړي د أندلس له تاریخه خبر دي، د عروج او زوال صحنې یې په ذهنونو کې لا هم حک شوي دي، ادیبانو، لیکوالانو، علماء کرامو او داعیانو په سلګونو کتابونه د أندلس اړوند تألیف کړي او د ۸۰۰ کلن اسلامي أندلس هره لویه او کوچنۍ پېښه یې پکې انځور کړې؛ مګر همدا کتله وګړي د اسلامي هندوستان له تاریخه ناخبره دي، هلته د اسلامي حکومتونو او امارتونو، علمي او رغنیزو خدماتو او ۸۰۰ کلن اسلامي حکومت په اړه هیڅ کومه فکره او انګیزه له ځانه سره نلري. د هند په وچه کې د اتو پېړیو په اوږدو کې د اسلام د تمکین او عروج کیسه، یوازې د یوه سیاسي اقتدار بیان نه، بلکې د ارادې، عقیدې او معنویت هغه بې‌سارې ننداره ده چې د هند ټولنیز او کلتوري ستونزمن بنسټونه یې د مدنیت په ورېښمین بافت وه اوبدل. هغه وخته چې د توحید هیبتناک اواز د جېلم او ګنګا په سیندونو کې طنین واچاوه، تر هغو چې د ډیلي شاهي خاوره د عدل، عرفان او علم په رڼا منوره شوه، د برصغیر دغه اسلامي دوران د روحي او فکري انقلاب د یو طلایي بهیر برخه شو؛ په دې معنوي جریان کې غرونه او صحراوې د زهد او تقوا پیاوړو پراوونو تسخیر کړې او د عدل او مساوات بې مثاله ارمانونو په مېلیونونو ولسونه د توحید او ورورګلوۍ په غېږ کې راټول کړل، په شبه قارة الهندیة کې مسلمانانو داسې غوړېدلې او مقتدره ټولنه رامنځته کړه چې انواراتو یې د ټولې ختیځې نړۍ افقونه روښانه کړل. الشیخ ابوالحسن علي الندوي رحمه الله د اسلامي هندوستان اړوند وایي:

مسلمانان هند ته د یو بهرني غاصب په توګه نه، بلکې د دې خاورې د رېښتینو خادمانو په توګه داخل شول، هغوی هند خپل کور او د اوسېدو اصلي مرکز وټاکه او خپله ټوله پوهه، استعداد او سرچینې یې د دې خاورې په ابادۍ او کلتوري بډاینه کې مصرف کړې. نوموړي د مسلمانانو لخوا د اردو ژبې را منځته کول د دې جغرافیې د وګړو لپاره یوه ستره ډالۍ او

شهکار بللو، ندوي رحمه الله په فخر سره یادونه کوله چې که څه هم احادیث او معقولات د عربو له سیمو سرچینه اخلي خو د هندوستان خاورې او علمي مراکزو په وروستیو پیړیو کې د نبوي حدیثو تدریس او علمي هڅو ته داسې روحي او علمي خدمت وکړ چې ټوله اسلامي نړۍ یې پوروړې کړه. مسلمانانو پر هندوستان اته پیړۍ حکومت کړی دی؛ په بله اصطلاح ویلی شو چې دا د اسلام شرقي أندلس و!

د أندلس او هندوستان تاریخ تر ډېره یو بل سره ورته والی لري، پر أندلس کې لکه څرنګه چې د ملوک الطوایفي دوره راغلې په هندوستان کې هم راغلې، لکه څرنګه چې أندلس کې مسلمانانو اته پیړۍ حکومت کړی په هندوستان کې هم همدومره حاکمیت کړی.

## فتح:

لومړی ځل د أمیر المؤمنین عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په دوران کې مسلمانو تجارانو د اسلام مبارکې ورانګې له ځانه سره تدریجاً هند ته یوړې؛ بیا د أموي خلافت دور کې په ۷۱۲ م کال ۱۷ کلن محمد بن قاسم رحمه الله چې د عراق د والي حجاج بن یوسف الثقفي وراره وه په عسکري فتح پیل وکړ. تاریخونه لیکي چې حجاج لدې مخکې او پر دې لښکر باندې ۶۰ میلیونه درهم ولګول تر څو سند فتح، له بحري غلو د مسلمانو تجارانو د مالونو د لوټنو بدله واخلي، اسلام تر هغه ولسونو ورسوي، او د داهر غرور ونړوي؛ محمد بن قاسم رحمه الله د اسلام د لښکرو پر مټ هندوستان ته ننوت د راجه داهر لښکرو ته په ماتې ورکولو سره یې د سند اوسني پاکستان ساحه د اسلام په جغرافیه کې




هغه ټوله سیمه چې د اسلامي هندوستان (د هند شبه جزیره) ورته ویلی شو.

داخله کړه؛ او دا د اسلام لومړۍ لښکرې وې چې هند ته ننوتې او محمد بن قاسم د سند لومړنی فاتح وګرزېده. شاعر ددې ځوان فاتح اړوند وایي:

إنَّ السَّماحَةَ وَالمُروءَةَ وَالنَّدى
لِمُحَمَّدِ بنِ القاسِمِ بنِ مُحَمَّدِ
سادَ الرِّجالَ وَلَمْ تَخُطَّ لِحيَتُهُ
وَقادَ الجُيوشَ لِسَبعَ عَشْرَةَ حَجَّةً
يا قُرْبَ ذلِكَ سُؤْدُدًا مِنْ مَوْلِدِ!

سخاوت، لوړ همت او بښنه د محمد بن قاسم بن محمد ځانګړنې وې. هغه پر خلکو هغه مهال مشر شو، چې لا یې ږیره هم نه وه راشنه شوې. او د اوولس کلنۍ په عمر یې د لښکرو مشري وکړه. څومره نږدې وه دا ستر عزت او سیادت د هغه د زېږېدو له ورځې سره!

وروسته په ۱۰۲۵م کال د ساماني لړۍ حاکم او د امت ستر فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله د محمد بن قاسم رحمه الله پاتې کار بشپړ کړ؛ د محمود بن سبکتګین لقب یمین الدولة وه؛ نوموړی یو مجاهد او بطل شخصیت وه، خپله هم د علم او عرفان څښتن او له فقهاوو سره یې ژورې اړیکې لرې، تر دې چې ځینې مؤرخین یې له عمر بن خطاب رضي الله عنه سره تشبیه کوي، او دوهم عمر یې بولې د فتوحاتو د توسع په مجال کې؛ محمود غزنوي رحمه الله لومړنی او اول فاتح وه چې هند یې له شماله تر مرکزه فتح کړ؛ نوموړي ۱۷ ځلې پر هند د اسلام د مبارک دین د خپراوي په پار لویې او کوچنۍ حملې وکړې د سومنات نړول یې د اسلام په زرین تاریخ کې د ویاړونو په باب کې ثبت او د بت شکن په لقب کنبل شوي.

له غزنويانو وروسته غوريانو په هند کې خپلو فتوحاتو ته ادامه ورکړه، د يو مستقل حکومت په رامنځته کېدو چې مرکز يې ډهلي وه او حاکم يې قطب الدين ايبک وه بريالي شول.له غوريانو وروسته په هندوستان کې د سلاطينو دوره پيل شوه، او په ډهلي کې ۵ بېلا بېلې اسلامي سلسلو واکمني وکړه:

سلطنت مملوک، خلجي سلسله چې د سلطان علاء الدين خلجي په وخت کې د هندوستان جنوبي او مرکزي برخې هم فتح شوې او د مغلو تحرکات يې له خاورې ووېستل.

تغلق سلسله چې د محمد بن تغلق په دوره کې نږدې ټوله نيمه وچه له شماله تر جنوبه د اسلام تر بيرغ لاندې راغله.

ساداتو سلسله، لودي سلسله چې د بهلول لودي او ابراهيم لودي لخوا پر مخ وړل کېده.

لدې بعد د هندوستان د اسلامي تاريخ تر ټولو مقتدره او د برم دوره د مغولو واکمني وه:

ظهيرالدين محمد بابر ۱۵۲٦م: ابراهيم لودي ته په ماتې ورکولو سره د مغولي امپراتورۍ بنسټ کېښېښود.

جلال الدين اکبر: مغولي امپراتوري خورا پراخه کړه او له سيمه ييزو نژادونو سره يې متقابل پيوند رامنځته کړ.

اورنګزيب عالمګير ۱٦۵۸ - ۱۷۰۷ م: د هند تاريخ د پام وړ او مجاهد پاچا وه، هغه په وخت کې تقريباً ټول هند شمال، جنوب، ختيځ او لوېديځ تر يوه اسلامي تحکيم لاندې راغی، فقهی مجموعه فتاوی عالمګيري هم د ده په امر ترتيب شوه.

د نږدې اتو پېړيو (له ۱۲۰٦م تر ۱۸۵۷م) په اوږدو کې، د هندوستان په شبه القاره کې د اسلامي واکمنۍ دورې د دغې سيمې په سياست، اقتصاد، کلتور، شريعت، علم او انکشاف کې ژور او نه هېرېدونکي بدلونونه رامنځته کړل. مسلمانو حاکمانو په ځانګړې ډول د ډهلي سلاطينو او وروسته مغولو د هند وېشل شوي رياستونه او باجګيري تر يوه مرکزي بيرغ او قانون لاندې راټولې کړې.

د ځمکو او محصولاتو د منظمې سروې دقيق نظام جوړ شو چې د عصري مالي سيستم بنسټ وګرځېد؛ د شرعي او قانوني سيستم د تطبيق لپاره قاضيان او محکمې رامنځته شوې، تر ټولو لوی علمي او حقوقي اثر فتاوی عالمګيري وه چې د اورنګزيب عالمګير په امر د سلګونو علماء کرامو له خوا مرتب شو او د قضايي سيستم مرجع شوه.

د کابل او پېښور له لارې تر بنګال پورې له ۲۵۰۰ کيلومترو زيات سړک جوړ کړای شو، د دغه سړک په اوږدو کې هر څو ميله وروسته کاروان سرايونه، څاه ګانې، جوماتونه او پوسټ خانې جوړې شوې.

د پوسټ او استخباراتو منظم نظام د ډاک چوکۍ په نوم د ګړندي پُسټ او خبر رسونې سيستم رامنځته شو چې په آسونو او پياده قاصدانو به مکتوبونه لېږدول کېدل.

مسلمانانو د نړۍ له ټولو ښکلو او بې ساري معماريو څخه ځينې شاهکارونه په هند کې ودان کړل:

لکه تاج محل چې د نړۍ له اوو عجائبو څخه ګڼل کيږي، د قطب منار، سره کلا Red Fort، د ډهلي او لاهور باچاهي جوماتونه او د شاليمار باغونه.

مسلمانانو فارسي، عربي، ترکي او ځايي ولسي ژبو هندي، سنسکرېټ ترمنځ د ګډ اړيکو له لارې د اردو په نوم يوه بډايه نړيواله ژبه رامنځته کړه.

په ډهلي، اګره، جونپور او لاهور کې سترې مدرسې او عظيم کتابتونونه لکه د خدا بخش کتاب خانه جوړه شوه چې زرګونه نادره خطي نسخې پکې ساتل کېدې.

د لودي، سوري او دراني دورو په لړ کې د پښتو او فارسي ادب رونزه وشوه او ګڼو پښتنو پوهانو په هند کې علمي آثار وليکل.

د مغولي امپراتورۍ په ځانګړې ډول د شاه جهان او اورنګزيب په دوره کې هندوستان د نړۍ د ټول ناخالص توليد شاوخوا ۲۵ سلنه توليدوله. شير شاه سوري لومړی ځل د سپينو زرو "روپۍ Rupiya سکه ضرب کړه، چې تر اوسه د هند، پاکستان، نيپال او سريلانکا د رسمي اسعارو نوم دی.

د ټوکرانو لکه ململ، شال، سوري، د اوسپنې کارۍ، توري جوړونې صنعت، توغنديو او د ښايسته لاسي صنايعو انحصار له هندوستان سره و او له اروپا تر منځنۍ اسيا پورې صادرېدل. د خوړو په فرهنګ کې مسلمانانو بې ساري اختراعات وکړل لکه برياني، کباب، نان، او مختلف پرمختللي متوع خواړه يې رامنځته کړل. د مسلمانو ډاکترانو له خوا ستر روغتونونه شفاخانې جوړې شوې چې د غريب او غني وړيا درملنه پکې کېده.

د سوای جي سنګهـ او مسلمانو منجمينو په همکارۍ د سټلايټ په څېر د سيارو کتلو لپاره مشهورې کتنځايونه «جنتر منتر» جوړ شول. پر هندوستان د اسلام د تحکيم په زمانه کې يې وګړي د نړۍ تر ټولو شتمن خلک وه.

دا یوازې د ځمکو نیول او د خپل حاکمیت حدود پراخول نه وه بلکې د اسلام خپراوی او خلک له تیارو راویستل وه، د علم او تمدن خپراوی وه؛ او خلک د بنده ګانو له عباداته د بنده ګانو د رب عبادت ته رابلل وه!

پر هند د اسلام د تحکیم په زمانه کې هندوانو ته مکمل خپل حقوق حاصل وه، پر چا جبر او زور نه وه، دیني ازادي یې لرله او خپلې عبادتخانې او مندرونه یې خلاص وه، په ازادانه ډول او بغیر له خنډه څخه یې کرنه، مالداري او تجارت پر مخ وړ.علامه اقبال رحمه الله په هند کې د اسلام د عروج اړوند وايي:

كُنّا جِبالاً فِي الجِبالِ وَ فِي البِحارِ بَحّاراً
جَلّلَنا فِي الأَرضِ صَوْتُ الأَذانِ كَبّاراً
لَمْ نَخْشَ الطُّغاةَ ولا العَتاةَ ولا الكُفّاراً
كُنّا نَسْجُدُ لِلّهِ وَ كُنّا لَهُ أَبْراراً

موږ په غرونو کې غرونه وو،
او په سمندرونو کې تکړه بېړۍ
چلوونکي. د اذان ستر او لوړ
غږ زموږ نوم په ټوله ځمکه
خپور کړی و. نه مو له
ظالمانو، نه له زورواکو، او نه
له کافرانو وېره لرله. موږ
یوازې الله ته سجده کوله، او
د هغه نېک او صالح بندګان
وو.

## په اسلامي هندوستان کې د مسلمانانو د زوال ترخه:

۱۷مه او ۱۸مه م پیړۍ د برتانیوي امپراطورۍ د عروج پېړۍ وې؛ برتانیوي استعمار پر نړۍ د خپل راج چلولو خوبونه لیدل یوه داسې امپراطوري یې جوړه کړې وه چې لمر پکې نه ډوبیده، ددې امپراطورۍ د لا پراختیا په تکل یې غوښتل د هندوستان یعنې اوسني (پاکستان، بنګله دیش او هند) په نیولو پر افغانستان او ټول منځني ختیځ واکمنان شي ترڅو د نړۍ د تجارت، سیاست او نفتي موادو زیرمې د دوی په کنترول کې راشي.

هماغه وه چې برتانیوي کمپنۍ ۱۶۰۰ م کال کې د یوې وړوکې قافلې په شکل د هندوستان سورات بندر کې لومړنۍ تجارتي اډه جوړه کړه او یو ښار ته د تجارت په پار داخله شوه، دا چې هندي خاوره د خوړو په رانګا رنګ مسالو جوړولو او استعمال کې مشهوره وه، هماغه وه چې لومړۍ یې د خوراکي مسالو، مالوچو او وریښمو تجارت پیل کړ، له هندي تجارانو به یې مالونه په لوړ قیمت اخیستل او له اروپا څخه راوړي اموال به یې په ټیټه بیه پرې پلورل، د وخت په تېریدو هندي تجارانو څو چنده ګټه وکړه، برتانوي کمپنۍ هندي تجارانو ته ویل چې تاسو ترخه شیان او خوراک ډیر خوښوئ او موږ یې نشو خوړلای، موږ له خوږو شیانو سره عادت یو او ستاسو له غذا سره دلچسپي نه لرو نو که د یو هوټل اجازه راکړئ؛ موږ ته به زموږ خواږه پکې چمتو کیږي؛ د هوټل جوړولو اجازه ورکړل شوه!

بیا یې ورته ویل چې زموږ په شان خواږه تاسو نشی پخولای که اجازه راکړئ خپل اشپزان موږ له خانه سره راولو، هغوی به موږ ته پخلی کوي او تاسو به هم اروپایي خواږه زده او مزه یې وڅکئ؛ دا غوښتنه یې هم ومنل شوه. د وخت په تېریدو سره برتانیوي کمپنۍ بیا هندي حکامو ته وویل چې موږ او زموږ کارکوونکي زرګونه کیلو متره له خپل کور او اولادونو لرې دلته میاشتې او کلونه ستاسو خدمت کوو، که اجازه راکړئ چې خپل اولادونه او کورنۍ هم راولو؟

د کورونو راوستلو اجازه ورکړل شوه او د کور جوړولو لپاره یې ځمکې هم له هندوانو څخه په څو چنده لوړ قیمت وپیرلې، بیا یې یو پر بل پسې خپلو اولادونو ته د درس په خاطر د مکاتبو د جوړولو غوښتنې وکړې، له برتانیې یې بهترین استادان او بهترین نصاب د تدریس لپاره راووړ. داچې برتانویانو ځانونه اهل کتاب ګڼل، د کلیسا جوړولو غوښتنه یې وکړه او کلیساوې یې ورغولې. برتانویانو هغه هندوانو ته چې له دوی سره یې تجارت کاوه وویل خپل اولادونه مو زموږ مکتبونو ته راولیږئ، چې په لوړ معیار تعلیم وکړي، د وخت په تیریدو سره دغه ماشوم په ژبه او قواره هندي خو فکراً انګریز شو.

دغې کمپنۍ څه موده وروسته لویې لویې ځمکې واخیستې، فابریکې او فارمونه یې پکې جوړ کړل، خپل دهقانان یې راوستل. د خپلو مشکلاتو د حل په پار یې محکمې جوړې او خپل قاضیان یې پکې وګومارل چې په نتیجه کې یې یو ښارګوټی جوړ کړ.

د خپل امنیت او شتمنیو د ساتلو په پار یې د د خپلو عسکرو د راوستلو غوښتنه وکړه، دا اجازه هم ورکړل شوه چې د ځان لپاره یې یو وړوکی پوځ هم جوړ کړ.

بیا به یې د نورو ښارونو هندي وګړو ته ویل چې زموږ په راتګ سره دغه ښار څومره پرمختګ وکړ، شتمن شول، اولادونه یې زموږ په مکاتبو کې د نړۍ له بهترینو استادانو بهترین نصاب لولي؛ که غواړئ چې تاسو هم د هغوی په شان هوسا ژوند ولرئ، له موږ سره تجارت پیل کړئ، ځمکې مو په لوړ قیمت

راباندې وپلورې، مکاتب او روغتونونه به درته جوړ کړو، پرمختللی زراعت به دروښایو، پر همدې ترتیب یې یو پر بل پسې ښارونو کې فعالیتونه پیل کړل، په ۱۷۵۷م کال همدې کمپنۍ د ټول هند د استعمار زمینه مساعده کړې وه؛ د هند په ټولو ښارونو کې یې نفوذ درلوده، په لکونو هندوان یې د ځان تابع کړي وه، معاشات یې ورکول، تجارت یې ورسره کاوه او همدا رنګه یې مزدوران وه، په هند کې یې د ځان پر نفع ذهنیت جوړ کړ، نصاب او ژبه یې انګلیسي کړه، د معاش او وظیفې لپاره معیار انګلیسي وګرزول شوه هماغه وه چې هر پلار پخپل زوی انګلیسي مکتب ویل پیل کړل تر څو راتلونکې کې د وظیفې او معاش څښتن شي، پدې ترتیب برتانیوي کمپنۍ مخکې لدې چې انګریزان پر هندوستان نظامي یرغل وکړي مکمل خنډونه له منځه وړي وه؛ او په ۱۷۵۷م کال دې کمپنۍ خپلو لښکرو ته پر هندوستان د نظامي یرغل امر ورکړ، او له ناچیزه مقاومت وروسته مکمل هند د برتانیوي امپراطورۍ منګولو ته ولوېده ، ټول هندوستان یې مستعمره کړ، خپلې لښکرې یې راوستې، پر هند یوه توره دوره پیل شوه.۱۹۰ څخه تر ۲۰۰ کلونو پورې هند د انګلیستان مستعمره پاتې شو داد مظالمو او لوټماریو یوه توره دوره ده!

له ۱۷۶۵ څخه تر ۱۹۳۸ پورې برتانویانو شاوخوا ۴۵ ټریلیونه ډالر له هند څخه لوټ کړل او خپل هېواد ته یې منتقل کړل. رابرټ کلایو چې د هندي ځواکونو مشر وه د خپل ځان لپاره د اوس په ارزښت ۷-۹ میلیارده پونډه د هند له خزانو څخه غلا کړل او بیا یې انګلیستان کې ځمکې پرې واخیستې، کلیساوې او کتابتونونه یې پرې ورغول. دا یو سیستماتیکه غلا وه چې تدریجاً او د وخت په فاصلې سره تر سره کېده!

بله مشهوره غلا هغه د کوه نور الماس دی چې نن هم د برتانیې د ملکې په تاج کې ټومبل شوی ده د ټیپو سلطان له خزانې ولوټه، همدارنګه لوټل شوي جواهرات، طلایي مجسمې او وریښم نن هم په برتانیوي موزیمونو کې موجود دي، د رسمي شمیرنو له مخې یولک هندي اثار نن د برتانیې په موزیمونو کې موجود دي!

په غیر مستقیم لوټمارۍ کې د صنعتونو تباهي وه، برتانیوي استعمار د هند د هغه عصر تر ټولو مشهور د نساجي صنعت ونړاوه، د هندي وګړو مالونه به یې په زور په ارزانه اخیستل او برتانیوي مالونه به یې په جبر په لوړه بیه پرې خرڅول، د هندي کسب کارانو ګوتې به یې پرې کولې چې نور کار ونه کړای شي او غریب پاتې شي!

د هند د پنبې، چای او افیون مکملې پیسې به برتانیې ته رواني وې په پایله کې یې هغه وخت د هند وګړي د نړۍ تر ټولو فقیر خلک کړل پداسې حال کې چې مخکې لدوی د نړۍ د لسو سترو اقتصادي قوتونو له جملې څخه وه.

د انساني جنایتونو په لړۍ کې له ۱۸۸۰ څخه تر ۱۹۲۰م پورې ۱۶۵ میلیونه هندیان د قحطۍ، جګړو او ددوی د تدریجي نسل وژنو د پلان په اساس ووژل شول، چې تر ۸۰ میلیونه تنها له قحطۍ وژل شوي دي، برتانویانو تنها یولک هندیان په توپونو پورې وتړل او فیر یې کړل؛ دوی د خپلو هندوانو په لاس هند مستعمره کړی وه ۲۶۰۰۰۰ زره هندي عسکر لرل، هر چېرته به یې داسې بوروډونه لګولي وه چې د هندي او سپي حیثیت یو شان ده!

هند په ۱۹۴۷م کال ازادي واخیسته او برتانویانو له وتلو وروسته دوی خپل ځای ناستي هغه روزل شوي هندوان پرېښودل چې پخپل قالب کې یې د همدې ورځو لپاره چمتو کړي وه، دا ظاهراً ازادي وه مګر قانون، ژبه، کلتور، .رسم او رواج یې هماغه انګریزي پاله، مسلمانان د استعمار پدې ۲۰۰ کلن بهیر کې هم د انقلابونو سرلاري وه، جهادونه به یې ځای ځای کول او د هندوستان په ازادۍ کې تهدابي رول د مسلمانانو وه مګر تحکیم ته پرینښودل شول او اته سوه کلن اسلامي هندوستان له برتانیوي استعمار وروسته بت پرستو هندوانو ته په لاس ورکړل شو. او تر ننه هند کې مسلمانان محکوم پاتې شول!

****

## خلک څه لیکي؟ خلک څه وايي؟

د ټولنیزو رسنیو څخه د راټولو شوو، او ذخیره شوو لیکنو له منځه یوه غوره لیکنه

# د شام خاوره: دا هماغه سهار نه دی، د کوم چې موږ انتظار کاوه!

معین الدین شامي @MoinuddinShami_

څو میاشتې وړاندې ښاغلي احمد الشرع د دمشق ښار په یوه کنسرټ کې ګډون وکړ، هلته نڅاوې وشوې او سندرې وویل شوې، د سندرې الفاظ ډېر فحش وو. کله چې خیر غوښتونکو خلکو پرې نیوکه وکړه، نو د احمد الشرع ځینو مینه والو وروسته د هغه یوه ویډیو خپره کړه چې نوموړی پکې وایي: دا ټول زما په علم کې نه وو او څه چې وشول، باید نه وای شوي، او داسې نور...

خو نن مې د سوریې د هغې وزارت اعلان ولید چې هغوی یې د کلتور وزارت بولي، خو باید د بې‌هودګۍ وزارت ورته وویل شي؛ اعلان یې کړی چې یوه فاحشه سندرغاړې دمشق ته راولي او د دغې فاحشې هرکلی په دې الفاظو کېږي:

«اصاله دمشق ته بېرته راګرځي... د آزادې سوریې په غېږ کې؛

د کلتور وزارت تر سرپرستۍ لاندې، سوریایي سندرغاړې اصاله نصري به د ۲۰۲۶ کال د سپتمبر په ۱۷مه د دمشق په الفیحاء تالار کې یو هنري محفل وړاندې کړي. دا محفل د سوریایي هنر او کلتور د درناوي او له آزادۍ وروسته د دمشق د ښار پر سټېج باندې د شام د لور د بېرته راستنېدو د لمانځنې لپاره ترسره کېږي.»

اصاله د آزادې سوریې غېږ ته راځي...

که اسلام نه وي منل شوی، که قرآن دستور نه وي نو پر داسې آزادۍ دې خاورې واوري، دا هېواد او دا لښکر هېڅ هم نه دي

موږ چې دا ولوستل، ولې مو زړه درد وکړ؟ ولې مو زړونه له اوره ډک شول؟

ځکه چې په شام کې موږ وینه توی کړې ده، زموږ د اهل سنتو ماشومان د سارین ګاز په وسیله د ساه بندېدو له امله وژل شوي دي، زموږ د اهل سنتو د زرګونو لوڼو عزتونه لوټل شوي دي، له الماسو، لعلونو او ملغلرو څخه هم ډېر ارزښتناک د اسلام مشران زموږ په دې خاوره کې وژل شوي دي، زموږ مېندو، د عفراء او خنساء رضی الله عنهما په څېر، خپل زامن د استشهادي عملیاتو لپاره رخصت کړي دي. د همدې شعار په خاطر موږ د احمد الشرع سره اوږه په اوږه ولاړ وو، هغه مهال چې ده وویل: «نحن للشریعة فداء»، «موږ د شریعت لپاره قربان یو». زموږ امت له وزیرستان، افغانستان، عراق، یمن او اروپا څخه خپل غوره زامن د همدې شعار د ملاتړ لپاره ولېږل او دقربانۍ لپاره یې وړاندې کړل...

دا هر څه د دې لپاره شوي وو چې احمد الشرع د خپلې نوې لادینه حکومت له لارې د اصاله په نوم د یوې فاحشې هرکلی وکړي؟ او دې فاحشې ته د شام لور ووایي؟

نه، نه!

دا داغ داغ رڼا، دا د شپې ځپلی سهار

دا هماغه سهار نه دی، د کوم چې موږ انتظار کاوه!

دا هغه سهار نه دی چې د هغه د هیلې په لټه کې

ملګري روان شوي وو، چې هر ځای به وي، خامخا به یې ومومي




د اسمان په دښته کې د ستورو وروستی منزل

خامخا به کوم ځای د سستو څپو د شپې ساحل وي

خامخا به کوم ځای د غمجن زړه بېړۍ تم شي

دا ډېره ممکنه ده چې د دې فاحشې د هرکلي پر سر شور او غوغا راپورته شي او احمد الشرع او د هغه حکومت ته بیا «غیرت» ورشي؛ نو ځکه موږ دلته خو ثابتې خبرې یو ځل بیا تکراروو. نه د دې لپاره چې موږ له احمد الشرع سره یوازې دښمني لرو، بلکې د دې لپاره چې موږ او تاسې د اسلامي امت زامن او لوڼې، د شام له تجربې څخه زده کړه وکړو، ونه غولېږو او دغه تېروتنې بیا تکرار نه کړو، شام ایدیال ونه ګڼو، او د ناسم کار لپاره ناسمه توجیه ونه کړو:

- احمد الشرع د ټرمپ ډېر محبوب دی او د ټرمپ په حضور کې یې هم شونډې ډېرې مسکۍ مسکۍ کیږي. د روم له قیصر سره عمر بن الخطاب رضی الله عنه هم اړیکې لرلې او د شام امیر سیدنا معاویه بن ابي سفیان رضی الله عنهما هم لرلې؛ خو د «الحب في الله» او «البغض في الله» معیارونه خو موږ له همدغو درنو صحابه‌وو رضی الله عنهم څخه زده کوو. د هغوی اسوه دا نه وه چې سپینې مانۍ ته لاړ شي او لېونی شي، د امریکایي «سینټکام» له مشر سره له خپلو مېرمنو سره یوځای ملاقاتونه وکړي او مجاهدین د ادلب په زندانونو کې بندي کړي (فالعیاذ بالله).
- هند قبوات د هغه وزیره ده، چې په ښکاره یې د LGBTQ+ ملاتړ کړی دی.
- دا چې ډیموکراسي ایمان ده او که کفر، له علماوو څخه یې وپوښتئ؛ خو احمد الشرع خو تر پرون پورې هغه کفر باله. نن د هغه د سلطنت نوم «الجمهورية العربية السورية» دی.
- صلیبي جنرال پیټریاس هېڅکله له ملا عمر او هبة الله اخوندزاده څخه دا نه و پوښتلي چې: حضرت! تاسو توله ورځ دومره بوخت یاست، کارونه مو ډېر دي، آیا د شپې د خوب لپاره فرصت پیدا کوئ؟ خو دغه صلیبي جنرال د احمد الشرع لپاره ډېر اندېښمن دی چې هسې نه هغه د شپې خوب ته وخت ونه لري!
- ټرمپ احمد الشرع ته یو لیک ولیکه: «احمده! ته به یو لوی مشر شې او متحده ایالات به له تا سره مرسته وکړي!»

فکر وکړئ! چې نه ضال (ګمراه) شئ او نه مُضل (نور ګمراه کوونکی)!

****



# د ستر طوفان نسل

## له شیخ أحمد یاسین تر أبوعبیدة او یحیی سنواره

د. إیاد أسید

قال تعالی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ. ( سورة محمد:٧)

اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! که تاسو د الله تعالی جل جلاله د دین مرسته وکړئ، هغه جل جلاله به ستاسو مرسته وکړي او ستاسو قدمونه به ثابت او ټینګ وساتي.

هلته په یوې کوچنۍ جغرافیه کې چې د ځمکې پر مخ یې مساحت د نورو هېوادونو د یوې ناحیې هومره هم نه دی، خو د عظمت اندازه یې د غرونو له څوکو لوړه ده، هلته د زمانې تر ټولو ستره حماسه په وینو ولیکل شوه/ کېږي، دا هغه ټوټه خاوره ده چې اته لسیزې تر اشغال او درې لسیزې د محاصرې تورو دېوالونو راچاپېره کړې، د لوږې، تندې، درد او ویر پر لمبو سوځېدلې، خو بیا هم د تسلیمۍ سپین بیرغ یې نه دی پورته کړی، هلته ماشومان د لوبو پر ځای د بمبار د غږونو په منځ کې راستریږي د هغوی د ماشومتوب زمزمې د مرمیو له شرنګ سره ګډې شوې دي، خو عجیبه دا ده چې د ویر او ماتې پر ځای د امید او استقامت ترانې زمزمه کوي، داسې ښکاري لکه د هغوی زړونه چې د غوښې له ټوټې نه، بلکې له فولادو جوړ شوي وي.

هلته یوه مور د خپل زوی پر بې روحه جسد ولاړه وي، سترګې یې له اوښکو ډکې وي، خو شونډې یې د صبر او رضا کلمات وایي، هلته یو ماشوم د خپل پلار په وینو لړلی بدنویني، خو د ویرې پر ځای د عزت او مقاومت درس اخلي، ګواکې د دې خاورې هره ذره د قربانۍ یو ښوونځی او هره کوڅه یې د استقامت یوه مدرسه ده، کورونه یې نړېدلي دي، دېوالونه یې په خاورو بدل شوي دي، خو ایمان یې لا هم د غرونو په څېر ولاړ دی، کله چې د شپې تیاره د ښار پر کنډوالو خپره شي، د اسمان تر شنه چتر لاندې د قرآن کریم غږونه پورته کېږي؛ داسې احساس کېږي لکه فرښتې چې د کنډوالو تر منځ د الهي کلام نغمې اوري، د دوی لپاره چت نه دی پاتې، خو اسمان یې جومات ګرځېدلی دی، د څښلو اوبه نه لري، خو د الله تعالی ذکر یې زړونه خړوبوي، د ډوډۍ ټوټه نه مومي، خو د یقین او توکل خزانه لري، د نړۍ د مادي معیارونو له مخې شاید دوی بې وسه ښکاره شي، خو د روح، فکر او عزم د ځواک په میدانونو کې دوی د زمانې ستر فاتحان دي، د دې خاورې خلک د تاریخ هغه ژوندي بابونه دي چې لا هم په وینو لیکل کېږي، هغوی نړۍ ته ښودلې چې د انسان ریښتونی ځواک په وسلو، مانیو او شتمنیو کې نه وي، بلکې په عقیده، په خپل رب توکل، صبر او استقامت کې نغښتی وي، د دوی زخمونه د درد نښې نه دي، بلکې د عزت مډالونه دي؛ او د دوی اوښکې د کمزورۍ نښه نه، بلکې د قربانۍ سپېڅلې مرغلرې دي.

کله چې تاریخ د دې زمانې پاڼې اړوي، نو د دې کوچنۍ جغرافیې نوم به د مساحت له امله نه، بلکې د ایمان، قربانۍ او نه ماتېدونکي عزم له امله په سرو زرو لیکي، ځکه ځینې جغرافیې د خپلو پولو په اندازه نه، بلکې د خپلو اتلانو د زړونو په اندازه لویې وي او دا خاوره همداسې یوه خاوره ده؛ یوه داسې خاوره چې کنډوالې یې خبرې کوي، وینې یې د جهاد ترانې وايي او د استقامت کیسې یې د نسلونو تر غوږونو رسېږي.

**دا غزه ده؛ د اسلام لوړې دفاعي کرښه او نه تسخیریدونکې قلعه!**

په غزه کې ټول خلک د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په څېر نه ي؛ او نه هم ټول د عبدالله بن ابی بن سلول په څېر دي.

دې نسل ځانونه د اعداد په ګانه سمبال کړل، صبر یې وکړ، جهاد یې وکړ، مقاومت وکړ او د یو داسې تاریخ یې جوړ کې چې معاصر تاریخ یخپله حافظه کې نلرلو. په غزه کې د دې نسل صبر، استقامت، مقاومت دا یوازې د الله

تعالى فضل او د نصرت ښکاره مثال وه او دا مدد پرته له الله تعالى څخه په بل چا نه وه تکيه مګر ددوی خپل اعداد او هغه څه وه چې دوی پخپلو فکرونو او لاسونو چمتو کړي وه، چې د الله تعالى په مبارکو سنتو کې ثابته قاعده ده:

ان الامداد يكون على قدر الاعداد

يعني مرسته او نصرت د اعداد او جمتووالي په اندازه وي.

په غزه کې د يو ماشوم د روزنې دوره د لومړي ټولګي څخه چې روضة الأطفال يا د ماشومانو وړکتونونه بلل کيږي پيليږي، او دا د راتلونکي اعداد او تربيې اساس وي، اسلامي اخلاق پکې غرس کيږي، د دين مينه، قرباني، ځان ځارونه وربښودل کيږي او دا هغه منهج دی چې شيخ احمد ياسين رحمه الله يې بنسټ ايښی دی، نوموړی رحمه الله وايي:

نحن و عدونا في معركة علي هذا الجيل، فمن كسب هذا الجيل كسب المعركة.

موږ او زموږ دښمن د دې نسل پر سر په جګړه بوخت يو، نو چا چې دا نسل وګاټه، جګړه يې وګټله.

هغه نسل چې احمد ياسين تربيه کړی او منهج يې ورته جوړ کړی وه نن همغوی دا ستر طوفان په لاره اچولی.

د ماشومانو د وړکتونونو له دورې بعد د مساجدو دوره پيليږي؛ په غزه کې مساجد د يوې محکمې قلعې بڼه لري د نورې نړۍ د مساجدو په څېر نه چې د عادت په اساس اذان او لمونځ پکې وشي او بيا قلف ورواچول




شي، په غزه کې مساجد د يوه دولت په معنی ده، اذان او لمونځ پکې کيږي، د علم او معرفت ځای ده، په صحن کې يې اعداد او جګړيز فنون ځوانانو ته ورکول کيږي، تخصصي فکري، اقتصادي او سياسي دورې پکې کيږي، د ورونو او احبابو د يوځای والي او ملاقاتونو ځايونه دي، هر هغه څوک چې خپل مربوطه مسجد ته ځي نو ځانګړی مسؤليت لري لکه د يوې کورنۍ غړی داسې تعامل موجود وي او ځوانان تر خپل کور زيات وخت په مسجد کې تيروي، او ځوانان دا خوښوي چې مسجد ته ولاړ شي او خپل زيات وخت پکې تېر کړي، جمعي افطارات پکې ترسره کيږي، د قيام الليل په پار خلک وروسته د ماخوستن لمانځه څخه پکې پاتې کيږي.

د مساجدو تر څنګ بل د قران د تحفيظ مراکز دي چې ددې نسل په روزنه کې يې اساسي رول لوبولی ده، په دې مراکزو کې عقيده راسخه کيږي، په غزه کې د الله تعالى کتاب ته ډير زيات اهتمام کيږي، د حفظ پدې مراکزو کې تنها د قران صفحې او کلمات نه حفظيږي، د قران په فهم او د معانيو فهم ترلاسه کيږي، د قرآن روح تدريسيږي، پدغه ستر طوفان کې يعني طوفان الاقصى کې چې تر ټولو زيات ثابت قدمه پاتې شول او د ميړانې او شجاعت داسې معجزانه کارنامې يې د تاريخ په حافظه کې ثبت کې چې مثال يې نه

وه همدا حفاظ کرام وه؛ د دې نسل په تربیه کې داسې وخت نشته چې موږ ورته د فراغت نوم ورکړو، بلکې د عمر په ټولو پړاونو کې برنامې، نصابونه او منهجونه موجود دي چې پدې نسل تطبیقیږي.

د قران د تحفیظ له مراکزو را وروسته په څلورم پړاو کې د طالبۍ دوره ده، په دې پړاو کې چې یو یو شخص د ځوانۍ په درشل یې نوی نوی قدم ایښی وي فردي او اجتماعي دورې او سیمینارونه ورته محیا کیږي، اداري او قیادي هنرونه ور زده کیږي، په غزه کې د هر لمانځه څخه وروسته مربوطه عالم خپلو مقتدیانو او شاګردانو ته درس ورکوي، لدې څخه غیر هرو پنځو او لسو ماشومانو لپاره ځانګړی استاد او مربي موجود وي چې دوی ته روزانه درس ورکوي او روزي یې، نوموړو ماشومانو ته دا درس او تربیه په مساجدو کې تر هر جماعت وروسته ترسره کیږي، چې قرآن، تجوید، نبوي سیرت، سنت او د اسلام په چوکاټ کې د ژوند تېرولو اسلوب ور زده کول کیږي، د قرآن تفسیر ورته کیږي، الاحادیث الاربعون ور زده کول کیږي، همدارنګه محاسبه ورسره کیږي، چې ته د سهار لمانځه جماعت څخه ولې غائب وې؟ پرون درس ته ولې نه وې راغلی؟ چیرته وې؟ وغیره وغیره

همدارنګه په غزه کې د ځانګړو کتابونو د تدریس لپاره بیلابیل مجالس جوړیږي لکه: د صحیح البخاري د شرح مجالس، د شمائل محمدیه، عقیدة طحاوي، ابن کثیر تفسیر، د قرطبي تفسیر دا مجالس دوامداره توګه په ټوله غزه کې تر سره کیږي.

لکه د قسام جرار ویاند شهید القائد ابوعبیدة تقبله الله چې ویل: هغه اسلحې چې موږ یې د طوفان الأقصی په مبارکو عملیاتو کې کاروو هغه اسلحې دي چې پخپلو لاسونو مو جوړې کړې دي، او زموږ تر ټولو ستر صنعت ددې مجاهد او مقاوم انسان صنعت او جوړونه ده چې دا سلاح استعمالوي او ثابت قدمه پاتیږي.

دا ځوان نسل د اوړي په رخصتیو کې همداسې نه پریښودل کیږي چې چشی یې زړه وي هغه به کوي، بلکې د اوړي په رخصتیو کې ځانګړې برنامې، سیمینارونه، دورې او پروګرامونه ورته چمتو کیږي، ځانګړي کمپونه ورته عیاریږي او هر یو کمپ ته د هماغه د محتوای پر اساس نوم ورکړل شوی وي چې لوړ شیوخ یې پر مخ وړي؛ او دا د اعداد یو بیله دوره وي، رمایه او د اسلحو استعمال ور زده کول کیږي، د بدني قوت پر پیاوړتیا یې کار کیږي، موټر چلونه او د ترانسپورټ د نورو وسایلو سره بلدتیا ور ښودل کیږي، سلاح د یو غزه وال ځوان روح دی او روح هیڅکله له بدنه نه جدا کیږي مګر په مرګ سره، سلاح د مؤمن د بدن یو جزء ده، د حق د تحقق وسیله ده، موږ له خپلو خاورو، اقصی او بیت المقدس څخه په زور، جبر او د اسلحو پر مټ ویستل شوی یو، او د بیرته تر لاسه کولو لپاره یې موږ هم بالمثل د اسلحو او زور په توسط یې تر لاسه کولای شو او سلاح د خپل عزت، کرامت او برم د راستنولو مرجع ده.

## په غزه کې مسلمانې میندې او خویندې:

د طوفان الأقصی د مبارکو عملیاتو په جریان کې لسکونه او سلګونه داسې میندې مو ولیدې چې هرې یوې ٦ او ٨ خپل زامن شهیدان ورکړي او پر وړاندې یې ټوټې_ټوټې او شینډل شوي پراته وي، نوموړې یې خپله غوښې راټولوي او په کفن کې یې را یو ځای کوي؛ مګر آه یې هم له خولې نه وزي، د الله تعالی حمد او ثنا وایي، شکر د خپل رب ادا کوي، نورو ته وایي چې زما د اولادونو د شهادتونو مبارکي راکړئ او له خپله ربه یې د شفاعت د ذریعې غوښتونکې وي.

د دې هر څه تر شا څه دي، چې یوه مور دومره سترې قربانۍ کې د ایثار او صبر یو سمبول وګرځیده؟!

خلک فکر کوي چې الله تعالی یې په زړونو کې صبر اچولی، بالکل دا د صبر ثمره ده، بلکې تر شا یې باید اعداد او روزنې ته فکر وشي چې دا صبر د څه په بدل کې الله تعالی دوی ته عطاء کړی ده؟!

ښځې لپاره په غزه کې د نرانو په څېر تفصیلي او مکملې برنامې او نصابونه چمتو کړای شوي دي او د هغه پر اساس روزل کیږي، مسلمانې داعیانې او روزونکې خویندې د غزې ښځې روزي، د قران زده کړه، حفظ، تفسیر، تجوید، سیرت النبي، فقه الاسلامي، احکام المرء، اسلامي فکر او اسلامي روح پکې اچول کیږي.

په غزه کې ښځه یوه اسلامی ښځه وي، خپل حجاب او جلباب مراعتوي، دوی ته دا ورتلقینیږي چې خپل اولادونه د اعداد او جهاد میدانونو ته واستوي، او په جهاد او اعداد کې د مصروفیت له امله د خپل میړه په نه شتون کې صبر ور ښودل کیږي، دا ورته ویل کیږي چې د مجاهد ښځه له مجاهد سره په جهاد کې شریکه ده همدارنګه په شهادت کې ورسره شریکه ده، همدا رنګه د شهید او مجاهد مور هم همداسې ورسره شریکې دي.

په غزه کې دا عار دی چې یو ځوان دې مسلمان وي او مجاهد دې نه وي، مسجد ته دې ځي مګر د اعداد مراکز ترې پاتې وي، د غزې اسلامي پوهنتون هم د دې نسل په چمتو کولو کې کلیدي رول اداء کړی، دې پوهنتون غزه یوه اسلامي او ثقافي غزه کړله، او همدا اسلامي پوهنتون د یرغلګرو په لومړنیو اهدافو کې وه، بمبار یې کړ، بمونه یې پرې راوه اورول، محاصره یې کړ، ویې سواځاوه او د طوفان الأقصی اکثریت او تقریباً ټول شهیدان د همدې اسلامي پوهنتون محصلین او فارغین وه لکه القائد الکبیر محمد الضیف، القائد ابوعبیدة او په سلګونو نور ...

ددې پوهنتون او جامعې ځوانانو ته لوړ اهداف او هیلې ور تلقینیږي، د امت غم، د مقدساتو د ساتنې او ژغورنې فکر، د خپلو خاورو د بیرته نیولو، د اسلامي نظام او حکومت د اقامې، د خپلو بندیانو ورونو او خویندو د ازادی او د اقصی د ژغورنې فکرونه یې په اهدافو کې شاملیږي.

ددې جامعې نخبه شاګردانو لپاره هر کال پروګرامونه چمتو کیږي، جایزې ورکول کیږي، د مقاومت مشران او رهبران ورته رازي او دا ځوانان تشویقوي، چې خپله شیخ احمد یاسین رحمه الله به پخپل ویلچر کې ورته راتللو او ځوانان به یې تشویقول او ورته مخاطب به وه چې همدا تاسو به اقصی او بیت المقدس ازادوئ، او تاسو به بیرته خپلې خاورې خپلو خلکو ته ورستنوی.

ددې نسل د روزنې او بریا یو بل راز دادی چې دوی پخپلو سترګو خپل قیادت، استاد، شیخ او مربي ویني چې تر ټولو مخکې او د جګړې په لومړي خط کې د شهادت لوړ مقام ته رسیږي؛ دوی د یو داسې چا تر لاس لاندې روزل کیږي چې د درس او تدریس له خاتمې بعد د اعداد او جهاد لومړیو کرښو کې همدوی موجود وي؛ دکتور الشیخ نذار ریان رحمه الله د اوسني عصر یو ستر عالم او پروفیسور وه، په بخاري شرح هم لیکلې او همدارنګه یې زیات کتابونه نن د نړۍ په مختلفو پوهنتونونو کې تدریسیږي یوه ورځ خپلو شاګردانو ته درس ورکولو چې یو شاګرد یې راغی او ورته یې وویل چې یهود له فلانکي حدودو څخه را تېر شول، دکتور نذار ریان خپلو شاګردانو ته وویل کتابونه بندوی چې پرې ورزو، لومړی یې خپل ټوپک او چانټه راواخیست او بیا یې شاګردانو؛ نومړی مخکې او شاګردان ور پسې د دښمن مقابلې ته ولاړل او له نورو مجاهدینو سره اوږه په اوږه ولاړ وه؛ او پر همدې ځای کې وایي چې ویډیویي کلیپ یې هم موجود دی:

ودعنا المحابر والاقلام

و ترکنا الاهل والزوجات

و خرجنا لدم والشهادة

دا هغه رهبري وه چې د طوفان نسل یې وروزه.

دا هر څه پدې معنی نه چې د غزې نسل نه تکراریدونکی ده او هر یو فرد کې یې الله تعالی داسې خارق العاده کارونه ایښي چې د امت په نورو خلکو کې نشته، مګر نه داسې نه ده، هغوی د پیدایښت له ورځې تر ځوانۍ او د عمر تر اخره په تربیت کې داخل وي، زحمتونه ګالي، لوږې او تندې زغمي، د خپلو اقرباوو شهادتونه، زخمونه او زندانونه یې عزمونه پاخه کړي، د غزې یو مجاهد د خپل کوچنیوالي د قرآن د حفظ کیسه کوي:

«موږ به چې په یو مسجد کې قرآن حفظاوه زموږ شیخ به یو نفر په دروازه کې درولی وه تر څو که د تلاشی په پار پوځیان راشي نو دستي موږ ته احوال راکړي، کله به چې د تفتیش پوځیان راغلل په دروازه کې ولاړ ماشوم به دستي زموږ شیخ ته احوال ورکړ چې پوځیان راغلل، موږ به دستي حفظ بند کړ، استاد به مو حمام کې پټ شو او موږ ته به یې د فوټبال ټوپ راکړ تر څو ځان پدې مصروف کړو، چې پوځیانو به موږ پر لوبو ولیدو بیرته به ولاړل او استاد به مو له حمام راووت بیا به مو د قرآن حفظ پیل کړ.»

موږ باید زده کړه ورڅخه وکړو، د همدوی نصاب او د روزنې تګلاره پخپلو نسلونو عملي کړو، هله به بیا د یو همداسې نسل شاهدان اوسو لکه نن چې یې غزه ده.

که چیرې موږ د خپلو نسلونو له روزنې لاس په سر شولو او په تربیه کې یې پاتې راغلو نو زموږ نسلونه به زموږ دښمنان زموږ پر وړاندې کاروي چې دا تجربې مخکې او اوس هم امت له ځانه سره لري.

****

## د شیخ أسامه رحمه الله أنصار

# شهید معلم اول ګل

ابو سیف الرحمن

د هغه د ویاړلي ژوند له حماسو څخه د یو څو جهادي کارنامو، دندو او خاطرو یادونه کوم، چې دده په افتخاري ژوند کې له ما سره یاداشت دي. بایده وه چې ما د هغه د ویاړمن شهادت پرمهال لیکلې وای، خو له بده مرغه چې زه سخت ناروغه وم. انسان په خپل وس پر دی، دا دی اوس د الله تعالی په لار کې د شهید معلم اول ګل د جهادي کارنامو له ټولګې د یو څو زړو خاطرو، سربښندنو، جهادي دندو او ویاړونو په اړه کرښې توروم.

په ۱۳۵۸ کال چې زموږ په ګران افغانستان کې د خلقي او پرچمي کمونستانو ظلمونه اخري حد ته رسېدلي وو او بیا د همدغو بې رحمه کمونستانو لخوا دولس زره بې ګناه هېوادوال ژوندي تر خاورو لاندې شول. همدا ډول د همدې وطن فروشو له لوري د عامو افغانانو ژوند ډېر تریخ شو، ډېر په دین مین هېوادوال مو د وطن پرېښودو ته اړ شول؛ نو په همدې خطرناکو شپو او ورځو کې زما پلار او نږدې خپلوانو هم کډې بار کړې او ګاونډي هېواد پاکستان ته د عقرب په میاشت کې مهاجر شوو. بیا په همدغه کال د جدي په شپږمه نېټه د هغه وخت سور ښامار شوروي اتحاد د خپلو بې عقله کمونستانو په مشوره د افغانستان پر پاک حریم او ددې مجاهد زېږوونکې پاکې خاورې د لاندې کولو او نیولو په غرض د یولک او دېرش زره وحشي عسکرو سرې لښکرې په دې مظلوم ملت رامرش کړې...د افغانستان د غیرتي خلکو په سرونو ګټل شوې ازادي او خپلواکي یې خپو لاندې کړه.

په دغه خطرناک حالت کې د ولسي خلکو ستونزې او کړاوونه لا نور هم زیات شول او هلته پاکستان کې د ټولو افغان کډوالو په څنګ او ګاونډ کې موږ هم له سختو ستونزو ډک ژوند سره لاس او ګرېوان وو. ددې سخت ترین ژوند په شپو او ورځو کې زه لا خامکی زلمی وم، نو ځکه مې په هغه پراخه پېښور د خپل کوچني ولایت مینه هیڅکله نه ماتېدله او د همدې کوچني ولایت د هسکو چنارونو رپانده شنو پاڼو او بیا په هغو کې د پسرلي د تورو بلبلو خواږه اوازونه او د سپین رنګ پاڼه لرونکو سنځلو زېړ ګل زړه راښکونکي بوی مې هیڅکله نه هېرېده او ددغه ګل غوندې وطن په سردرو کې د سرو روسانو واک او ورسره د همدې شین سترګو هغه مظالم چې زما په افغانانو یې کول، د نورو شازلمیو غوندې زما زړه هم ډېر خوږین کړی و. بالآخره د نورو مجاهدو او غښتلو زلمیو په شان زما غیرت هم راویښ شو او په ۱۳۶۰ کې د ستر غازي مولوي محمد یونس خالص بابا له مخلصو مجاهدینو سره یو ځای د ننګرهار ولایت تورې بوړې عمومي محاذ ته د جهاد لپاره لاړم، چې بیا هلته د خوږیانو ولسوالۍ نامتو قومندان انجینیر محمود (مقابل) سره ملګری شوم.

شهید انجینیر محمود رحمه الله به تل د یو داسې نوکي زلمي یادونه کوله چې له دولسم ټولګي څخه لا نه و فارغ شوی او هغه یې د اول ګل لغماني په نوم باندې راپېژانده.

انجینیر محمود د همدې لغماني اول ګل د ټینګې عقیدې، کلک ایمان، سلیم عقل، ښه تدبیر، جهادي مینې او د ښکو اخلاقو خورا زیات توصیف کاوه، لیکن زما یاغي ذهن ته د اول ګل په هکله زیات منفي تصورات لوېدل؛ خو بلاخره زما خیالات هم د شهید انجینیر محمود د فکر تابع شول او کرار کرار د نالیدلي اشنا اول ګل لیدو ته خورا زیات علاقه من شوم.

اول ګل په دیارلس سوه شپېتم کال له دولسم ټولګي څخه په لومړۍ درجه فارغ شوی و او له فراغته وروسته کمونست حکومت له نورو متعلمینو سره یو ځای د جلال اباد ښار د انحصاراتو امنیتي پوستې ساتلو ته اړ کړی و. ښه راته یاد دي، د سرطان میاشت وه، د سرخرود چارباغ کلي ته تنکی ځوان اول ګل د خپل استاد ملامحمد او معلم سید عزیز او شیر افضل سره یو ځای انجینیر محمود ته راغی، خو چې ومې لیده په ربښتیا چې اول ګل د عنجر ګل و، نري خط و بریت، دنګه ځواني، مناسب قدوقامت، سور بخنې تورې سترګې، وړه خوله، نرۍ باریکې شونډې چې په ټیټ اواز به غږېده...

اول گل زما غونډې د یوې غریبې کورنۍ غړی و، خو دی د مرحوم حاجي رحیم گل په کور کې ډېر په ناز او نخرو لوی شوی معلومېده. په هر صورت درېواړه استادانو سره تنکی شاگرد اول گل راغی او غوښتل یې چې د انحصاراتو پوسته هم د غوچکو کلي نه جنوب خوا ته د برق پوستې په شان په څه خاص تکتیک مجاهدینو ته تسلیم کړي، له ډېرو مشورو او بیا له یو څه وخت تېرېدو وروسته اول گل همداسې وکړل.

مجاهدین یې د معلم خوشحال په رهنمایۍ د انحصاراتو پوستې ته داخل کړل او بیا یې د انحصاراتو پوستې مشهور شرابي، غټ لوفر، ډاگیزه زناکار او کمونست قومندان اسدالله ودان په خپل لاس د جهنم کندې ته وغورځاوه، اووه میله کلاشنکوف او نور زیات مهمات مجاهدینو په غنیمت ونیول، بیا له هغې وروسته اول گل پېښور ته کډوال شو او په پېښور کې د خالص بابا په سیاسي دفتر کې او بیا د ننگرهار په ولایتي دفتر کې یې د مالي چارو د ممتاز او نازولي مامور په صفت تر ډېره وخته کار کاوه، خو سره له دې یې هم د جهاد سنگرونه گرم ساتل. د ضرورت په وخت کې مختلفو ولایاتو ته د یو تکړه او غښتلي مجاهد په توگه او کله هم د قومندان په حیث اول گل ته وظیفه سپارل کېده.

په ۱۳۶۴ کال کې له ما سره یوځای د بر کنړ ناړۍ ولسوالۍ ته د وروسي طیارو د ویشتلو لپاره ولاړ، ډېرې لوږې، ډېرې ستومانۍ یې راسره برداشت کړې الله جل جلاله دې له موږ دواړو قبولې کړي.

بیا په همدې کال دواړه د خوست ولایت د شهرنو په ولسوالۍ د یوسل اووه میلي متري راکټونو د ویشتلو لپاره خرلچیو ډنډو مرکز ته د مولوي جلال الدین حقاني صاحب د مرستې په موخه لاړو.

همدا اولین راکټونه وو، چې د شهر نو په نظامي او عسکري اهدافو مو وویشتل. اول گل د طیارو ضد ستنگر مزایل او د ۱۲۰ میلي متري کمپیوټري هاوان ښه ماهر و، چې د دغو وسلو د استعمال په ډېرو عملیاتو کې به تل برخه وال و. له هغې جملې څخه په ۱۳۶۶ د کنړ ولایت اسداباد ښار ته نږدې د روسانو په توپچي غونډ د مجاهدینو د کمپیوټري هوانو په عملیاتو کې اول گل ته د عامې رهنمایۍ او ترصد وظیفه ورسپارل شوې وه.

همدارنگه په ۱۳۶۷ کال د جوزا د میاشتې د ننگرهار ولایت په غني خېلو په یو اوپایم غونډ د مجاهدینو د کمپیوټري هوانو په درندو او مرگونې گذارونو کې هم اول گل فعاله ونډه درلوده. په دې سربېره یې نورو مجاهدینو ته د هر قسم درندو او سپکو وسلو زده کړه هم ورکوله. همدغه وجه وه چې په مجاهدینو کې په "معلم اول گل" مشهور شوی و.

د ۱۳۶۷ کال په عقرب میاشت کې چې کله مجاهدین وتوانېدل؛ چې له تورخم څخه نیولې تر جلال اباد هوایي میدان پورې ټوله سیمه د کمونست حکومت څخه د تل لپاره ازاده کړي، نو د همدغه عمومي عملیاتو په شروع کې اول گل معلم صاحب خپله دولس میله دستگاه د کامې سیمې نه پورې غاړه د لعل پورې او چکنور تر منځ له لوړ غره څخه د لنډي خیبر په ٦٦ غونډ او د هزارناو په توپچي کنډک پرلپسې چلوله، تر هغې وروسته بیا څلورم فارم کې معلم اول گل ته د ټولو مجاهدینو د اکمالولو مسؤولیت وروسپارل شو او کله چې د ډاکټر نجیب حکومت نسکور شو او د ننگرهار ټول مجاهدین د جلال اباد ښار ته ننوتل، د جلال اباد ښار شاوخوا ټول ملکي او نظامي تاسیسات د مجاهدینو د واک لاندې شول، نو معلم اول گل د څلورمې لېوا قومندان وټاکل شو او همدارنگه د اسلامي امارت په ټوله پنځه کلنه دوره کې هم د څلورمې لېوا قومندان پاتې شو.

کله چې د امریکایي بمباریو په اثر اسلامي امارت رنگ شو، متاسفانه هوښیار معلم اول گل په بې وفا حضرت علي کلک باور وکړ او سهواً په لېوا کې پاتې شو.

یوه ورځ ښار ته روان وم او په داسې حال کې چې امریکایان او د هغوی اجیر شاړي او نور بې غیرتان په توره بوره کې د عرب مجاهدینو د سخت مقاومت سره مخ شوي وو، په لونا غونډۍ(د ننگرهار په څلورمه لېوا کې خاصه غونډۍ ده) کې مې معلم اول گل تر سترگو شو، زه هم ورغلم، معلم صیب فرشونه غوړول او د څه مېلمنو تابیا یې کوله. ورته مې وویل: معلم صیب بیا دې څوک مېلمانه دي که څنگه ؟ ویې ویل د کې جي بي، سي آی ای او اف بي آي ټول اجنټان راروان دي او غواړي چې یوه مطالبه یې ومنم. ما ویل دا څه وایې؟! دا خو څه واشنگټن او مسکو نه دی ؟ او معلم صاحبه دا خلک چې تا یاد کړل دا څوک دي او کله افغانستان ته راغلي دي؟ معلم صاحب مسکی شو او ویې ویل حضرت علي، زمان غمشریک او د مولوي شکور وراره میرویس یاسیني درته یادوم، رازه ته هم کښېنه چې ساعت دې تېر شي، زه هم ورسره تم شوم.




لږ ساعت وروسته میرویس یاسیني او بل کس چې ما نه پېژانده راغله او له روغ بړ وروسته یې معلم اول ګل ته ځان داسې معرفي کړ : زه حاجي شاپور په افغانستان کې د اف بي آي رئیس یم او دا راسره ملګری حاجي میرویس یاسیني دی، چې په افغانستان کې د سي آي ای لوی رئیس دی.

معلم صاحبه توره بوره کې عربانو زموږ د قواو په مقابل کې سخت مقاومت شروع کړی دی، له تانه هیله کوو چې خپل ټول ټانګونه ورسوق کړئ او د القاعده ټول جنګیالي ووژنئ او نامتو مشر یې ژوندی ماته تسلیم کړئ! معلم صاحب د عذر په ډول جواب ورکړ : عربانو ته چې ستا دومره ډېرې جنګي جیټ طیارې او نور پیشرفته وسائل ماته نه شي ورکولای، نو زه به په دې زړو ټانګونو کله شیخ اسامه ژوندی ونیولی شم ؟ شاپور غوسه شو، ودرېدو او په جګ اواز یې معلم اول ګل ته وویل: والله که دغه کار ونه کړې، نو دا لېوا به بیا درته بمبار کړم. د معلم صاحب په مخ هم د غوسې نښې ښکاره شوې، خو دغه وخت یې له زغم څخه کار واخست او ویې ویل: شاپور حاجي ستا اختیار دی چې ما بمباروې او که دا لوا بمباروې. بیا دواړه راغلي رئیسان د جلال اباد ښار ته روان شول. ما معلم صاحب ته وویل چې دا خلک ماته خطرناک ښکاري. معلم صیب وویل غم یې مه کوه حضرت علي پوره ډاډ راکړی. په سبا ورځ امریکایي جیټ الوتکو هغه ټانګونه هم تیکه تیکه کړل چې لا تر دې دمه د پخواني شدید بمبار نه روغ رمټ پاتې وو، بیا پینځه ورځې وروسته د معلم اول ګل یو دوست مخې ته راغی، ویې ویل: د ننګرهار د شورا ټول مشران د معلم اول ګل د نیولو په پروګرام بوخت دي

او يو بل سره مشورې کوې او ويې ويل همدا اوس معلم صاحب ته ورغلم او له حاله مې خبر کړ، خو معلم صيب زما پر خبر هيڅ يقين ونه کړ، ما ورته وويل ته مطمئن اوسه، زه به نن مازيگر حتمي معلم صاحب ته ورشم او په موضوع به يې سر ښه خلاص کړم.

د ۱۳۸۰ کال د جدي په اول تاريخ مازيگر نه لږ مخکې د کمونسټ حکومت پخواني تنظيمه رئيس افضل لودين کور ته، چې د معلم اول گل دفتر همالته و ورغلم، خو د کور په دروازه کې د خالص بابا پخواني معاون حاجي دين محمد سره په داسې حال کې مخ شوم، چې مولوي عبدالمناف منان او د بر کنړ د شهيد شوي قوماندان حاجي ميرزمان ورور او د هغه په گډى ناست قوماندان پاچا يې د معلم اول گل موټر کې کښېنولي وو، ما سره يې روغ بړ وکړ او ويې ويل: ته هم لکه چې د دې خلکو په شان يې ؟ د حاجي دين محمد مقصد معلم اول گل و، ما ورته وويل؛ نه، حاجي صاحب زه ستا ليدو ته راغلى يم. حاجي دين محمد چې ښه مطمئن شو راته يې وويل زه مولوي مناف او پاچا تورخم پورې رسوم، بيا بېرته رازم بيا به خبرې کوو ما وېل سمه ده.

حاجي دين محمد او ورسره نور ملگري طورخم ته لاړل او زه د معلم په لوري وخوزېدم، چې معلم صاحب ته ورسېدم دا زما او د معلم صاحب اخري ملاقات و، نوې جامې يې په تن وې او لوى جهادي پکول يې په سر و، غېږه يې راکړه، د روغ بړ په دوران کې مې له غوږه ورتېره کړه : هلکه نور لاړ شه دا جلال کوټ ښار ستا د اوسېدو لپاره مناسب نه ښکاري، معلم صاحب وخندل او ويې ويل حضرت علي راته د ټولو خبرو ذمه وهلې او له هرې خبرې مې خبروي، ما ورغبرگه کړه، چې حضرت علي خو دې لا پخوا د وژل شوي مسعود پس خورده خوړلې او ته اوس هم د اعتباري ملگري په سترگه ورته گورې او د دغو مشرانو چې له پخوا راهيسې د امريکايي ډالرو شکېدلې بوجۍ ته په طمعه ناست دي، د دوى د بد نيت هيڅ تشويش نه حس کوې، زه په کلکه درته وايم چې ستا په اړه د دوى ارادې خوندورې نه دي. معلم اول گل غوسه ناک سړى و، له همدې وېرې مې په واضحو ټکو نه شو ورته ويلى، چې همدا حضرت علي درته په کمين کې ناست دى، نور زه تږېنه رخصت شوم. په سبا ورځ د جدي په دوهم تاريخ د يو ضروري کار لپاره پېښور ته لاړم، په همدې ورځ ماښام مې د امريکا غږ راډيو څخه واورېدل چې د ښه استعداد څښتن معلم اول گل خپل باوري ملگري او لوى جنگ سالار حضرت علي په څه بهانه د پوليسو قوماندانۍ ته ووغوښت او هلته يې لاسو ته هتکړۍ او پخو ته زولنې ورواچولې او بيا يې ولچک او زولنه د استخباراتو لوى واکمن انجنير عارف ته وسپاره .

بيا يو څه موده وروسته حضرت علي د کابل د استخباراتو دوزخي زندان ته ورغى او معلم اول گل ته يې وويل : معلم صاحب د امريکايي عسکرو لوى قوماندان صرف د يو څو اخري پوښتنو د جوابولو لپاره د باگرام هوايي ميدان ته غوښتى يې، له دغه امريکايي عسکرو سره ورشه، ببگا ته دې بېرته راولي او سبا به ستا له خلاصېدو وروسته ما سره يو ځاى کور ته لاړ شې، حضرت علي په دې چل او فرېب معلم اول گل امريکايي جنرالانو ته وسپاره افسوس او صد افسوس.

معلم اول گل ډېر راز دارى انسان و، دده د پاتې کېدا اصل لامل د حضرت علي ډاډ نه و، بلکې د هغه عفت او ناموس ساتنه وه، په سر يې لوى امارت رنگ شو..په زرهاو شهيدان پرې وشول. معلم صاحب د هغو عرب مجاهدينو د تورسرو په خوندي کولو بوخت و، چې تر دې مهاله لا خپلو اقرباو ته نه وې وررسېدلې..معلم موږ دا ته حال نه کاوه، چې زه فدايي بريد کوم..يا به سر خورم او يا به دا عفتونه ساتم...معلم غوښتل چې په خپلو وينو د د اسلامي ناموس د ساتنې تاريخ وليکي..اوس ويلاى شو چې معلم اول گل خپله کړې ژمنه پوره کړه...

بالاخره معلم اول گل د کابل، باگرام، گوانتنامو په زندانونو کې د امريکايي يرغلگرو عسکرو د سختو شکنجو او له نهه کاله بد ترين بند څخه وروسته امريکايي جلادانو په گوانتنامو زندان کې په ۲/۲/۲۰۱۱ تاريخ شهيد کړ او بيا يې څو ورځې وروسته د ده زخمي زخمي جسد په کابل ښار کې د ده ورونو او زامنو ته وسپاره انا لله او انا اليه راجعون. الله دې معلم اول گل ته جنتونه ورنصيب کړي او الله دې معلم اول گل ته د هغو ټولو تعذيبونو په عوض کې ډېر اجرونه ورکړي او الله دې دغه نگر د ده په اولاد ډک کړي.

****

## سپر از دست میانداز

# که جنگ است هنوز

لاله این چمن آلودهٔ رنگ است هنوز
سپر از دست میانداز که جنگ است هنوز

فتنه ئی را که دو صد فتنه به آغوشش بود
دختری هست که در مهد فرنگ است هنوز

ای که آسوده نشینی لب ساحل بر خیز
که ترا کار بگرداب و نهنگ است هنوز

از سر تیشه گذشتن ز خردمندی نیست
ای بسا لعل که اندر دل سنگ است هنوز

باش تا پرده گشایم ز مقام دگری
چه دهم شرح نواها که بچنگ است هنوز

نقش پرداز جهان چون بجنونم نگریست
گفت ویرانه بسودای تو تنگ است هنوز

علامه اقبال لاهوری، زبور عجم





# معنا داره سترګي

حسان

دا چې د رب له ویرې نه ژاړي، پیره نه کوي
داسې که ټول ښایست شي سترګې، هیڅ مانا نه لري

هغه امت باندې خو زر ځلې افسوس پکار دی
چې عافیه[1] یې وي زندان کې او اقصی نه لري

د شاعر شعر کې چې د تن وینه سیاهي نشوله
بیا هسې څو منظوم الفاظ دي او بقا نه لري

په دې نړۍ کې هر څه ګران دي قیمتونه لري
بس مسلمان دی چې یې وینه هیڅ بها نه لري

چې د مقبول شهادت جام باندې اوبه شي حسان
دغه یې هیله ده او بله تمنا نه لري

[1] د امت هغه زرګونه خویندې چې د کفارو په زندانونو کې بې سرنوشته پرتې دي.

”

په الله تعالی باندې زمونږ باور او توکل ډېر لوی دی، حتی که ټوله دنیا زمونږ پر ضد ودریږي، مونږ به له خپل ایمان او عقیدې څخه په شا نشو او نه به له خپلې لارې څخه وګرځو. ان شاء الله العزیز

***

**امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد**
رحمه الله

